لومړى جز: نکاح محلل هغى ته وايې هغه سړى چې په درى طلاقو سره طلاقه شوي ښځه ته ددې لپاره طلاق ورکړي چې اول خاوند ته رواه شي نو ددې نکاح حکم دا دى: چې جمهور وايې چې دا نکاح باطله ده، او په دى سره نه شي حلاليدلاى ، حنفيان او شافعيان وايې چې دا ډول نکاح مکروه ده خو حرامه نه ده ځکه چې دا محلل ته د محلل نوم کيښودل په دى دلالت کوي چې دا نکاح صحيح ده.

دوهم جز: مجاهد رح وايې چې والوالدات نه مراد طلاقى شوې ښځى مراد دي او امام رازي رح وايې چې دا هغه چا پورې خاص دى چې لا اوسه پورې ميرمني وي، او د ميړوني په نکاح کې پاتې وي، او بعضي وايې چې که ميړوني وي او که طلاقي شوي ښځې وي نو مراد دى.

دريم جز: امام صاحب رح وايې چې په مور باندې خپل بچي ته شيدي ورکول واجب دي، ځيني وايې چې دا امر مستحب دى.

## پنځم مطلب: د رضاع پيژندنه او اړوند وضاحت

لومړى جز: رضاع مطلق رولو ته وايې چې يوه ښځه د يو چا په غوښتنه باندې د يو ماوم ته څلور ګوته يا پنځه ګوته ورکړي د ښځې په رضاع سره. او امام شافعي رح وايې چې مطلق يې شودي ورودلي نو رضاعت ثابتيږي.

دوهم جز: او امام صاحب رح وايې چې  موده د رضاع د حراموالي هغه ثلاثونه شهراً، او علامه قرطبي رح وايې چې دوه ۲ کاله ده موده يې.

## شپږم مطلب: د طلاقى شوو ښځو وضاحت

لومړى جز: هغه ښځه چې طلاق ورکړل شوي وي او دخول ورسره نه وي شوى نو هغى ته متعه مستحب ده، حسن بصري رح وايې چې هرى طلاقى شوې ښځې لپاره متعه واجبه ده، او امام ملک رح وايې چې متعه مستحب ده، جمهور وايې چې کومه ښځه چې مهر ورته ټاکل شوي وي د هغې لپاره متعه مستحب ده او واجبه ده د هغې لپاره چې مهر ورته نه وي ټاکل شوى.

دوهم جز: امام شافعي رح وايې چې مستحب ده متعه چې مالدار وي خاوند نو باید یو مرئ ورکړي، امام صاحب رح وایې چې یو کمیس، پړونی، څادر، چې قیمت یې له نیم مهر څخه زیات نه شي، امام احمد رح وایې چې یو کمیس او پړونی چې بدن یې وربانديې پټ شي او لمونځ وکولای شي.

## اووم مطلب: د ربا پیژندنه او د هغې اړوند احکام او وضاحت

لومړی جز: ربا په لغت کې دوچند ته وایې او په اصطلاح کې هغه دی چې په عین منافعو باندې دوچند مال یا نفع اخیستل په غیر شرعي طریقي سره.

دوهم چجز: ربا په دوه قسمه ده: ۱ اول رب الفضل و هو ان یبیع الشیء بنظیره مع زیادت الاحد العوضین، ۲ دویم رب النسیئه: الذي کان معروفا فی الجاهلیه وهو ان یقرضه قدرا معینا من المال الی زمن المحدود.

## اتم مطلب: اقتراف په گناه باندې د دې احکام او وضاحت

لومړی جز: امام صاحب رح او احمد رح وایې چې څوک اقتراف د یو گناه وکي نو حد پری واجبیږي دا په هغه وخت کې چې دا کس بیا راغي حرم ته نو دا کس به په امن وي ، ومن دخله کان امنا، او امام شافعي رح او مالک رح وایې چې څوک اقتراف وکي د یو گناه خو په غیر حرم کې دی، نو هغه به قصاص کیږي، دلیل : ان النبي ص امر بقتل المشرکین ای بعض المشرکین فی الحرم.

## نهم مطلب: د حج پیزندنه او اړوند یې احکام او وضاحت

لومړی جز: امام صاحب رح وایې چې کله غلام وي او هغه حج اداء کړي نو دهغه نفلي حج وشو نو چې کله ازاد شو نو بیا پری فرض دی حج ځکه چې دا غلام د طفل سره مشابه دی.

دوهم جز: شروط الحج وجوبي : اسلام ، عقل ، بلوغ ، استطاعت ، وجود محرم مع المرأة .

دریم جز: امام صاحب رح وایې چې وجود محرم مع المرأة دا د شروطو د حج څخه دی .

## لسم مطلب: د حجر پیژندنه او اړوند احکام او وضاحت

لومړی جز: حجر هغه ته وایې چې مطلق منع والي ته وایې.

دوهم جز: حجر انواع : حجر الصغر هغه دی چې غیر ممیز قابل دی، حجر المجنون مطلق محجور دی حجر السفه چې نقص العقل وي او بد تصرف کوي په مال کې نو دا محجور دی، حجرالافلاس دا هغه قرضدار دی.

دریم جز: جمهور رح وایې چې ان الکبیر یحجر علیه کما یحجر علی السفیه اذا کان سفیها.

څلورم جز: امام صاحب رح وایې چې څوک ۲۵ کلنۍ ته ورسیدو نو هغه ته مال وسپاری رشیدا او غیر رشیدا مفسدالمال و غیرمفسدالمال.

پنځم جز: اقل المهر کې امام مالک رح وايي چې ثلاثت دراهم ربع دينار، امام صاحب رح وايي چې عشرت دراهما دي، مذهب الشافعی رح وايي چې لا حد لاقله ويجوز بکل شیء له قيمته دا مذهب د امام صاحب رح دی.
شپږم جز: ميثاق غليظ نه مراد امام مجاهد رح وايي چې عقد النکاح دی، ضحاک او قتادت وايي چې ميثاق هغه وعدی ته وايي چې اخذ عليهم من احسان العشرت الی النساء.

## يوولسم مطلب: د نکاح او حراموالي په باره کې وضاحت

لومړی جز: نهی النبی ص ان يجمع بين المرأة و عمتها و بين المرأة وخالتها.
دوهم جز: په زنا د ام زوجي سره که چا دا کار وکړو نو امام صاحب رح وايي چې دا حراموالی راولي دليل : ان يکون المراد باالنکاح ان النکاح باالوطء فی الحقيقت وفی العقد مجاز ، والحمل علی الحقيقت اولی و اذا کان المراد به الوطء فلافرق بين الوطء الحلال والوطء الحرام، امام شافعي رح وايي چې دا تحريم نه راولي ځکه چې حرام دا نه شي کولای چې حلال شی حرام کړي او مراد په نکاح سره عقد دی ، او فان زنا باءمرأت ابيه او ام زوجت فقد عصی الله ولا تحرم عليه امراءت ولا علی ابيه ولا علی ابنه لان الله انما حرم بحرمت الحلال تعزيراً لحلاله نو قول د امام شافعی رح غوره دی.
دريم جز: تعريف المتعه: هی ان يستاجر الرجل المرأة الی اجل معين بقدر معين معلوم.
څلورم جز: وکل نکاح الی اجل فهو باطل لانه لايتحقق الهدف الزواج دا قول د امام صاحب رح دی.
پنځم جز: دلايل د حراموالی په نکاح متعی: وطی حلاله نه ده بلکه په نکاح او يا مملوکه وي، ان النبی ص نهی عن متعت النساء ، عمر رض په ممبر باندې وو او دا يې اويل چې متعه نکاح حرامه ده، په نکاح متعه سره هيڅ نه حاصليږي بلکه شهوت او اصل مقصد په نکاح کې زوجيت دی، تحريم المتعت کاالاجماع الا عن بعض الشيعه.
شپږم جز: ابن عباس رض وايي چې الضرب غير مبرح باالسواک.
اووم جز: هذه العقوبت مشروعت علی الترتيب په ايت کې دا مذهب د امام احمد بن حنبل رح دی، او امام شافعی رح وايي وهل په اول کې مباح دي فی ابتداء النشوز.
اتم جز: او هغه ترتيب د ايت د علي رض قول دی، په باره د نشوزهن کې چې دی.
نهم جز: للحاکمين ان يفرقا بين الزوجين بدون اذنهما، امام صاحب رح او احمد رح وايي چې دا جواز نه لري ځکه چې دا دواړه وکيلان دي بغير د زوجينو د اجازي څخه نه صحيح کيږي او که اجازه يې ورکړه نو بيا صحيح ده امام مالک رح وايي چې تفريق راوستی شي بغير د زوجينو د اجازی څخه.

لسم جز: لا تقربو الصلات و اونتم سکارا، دا ایت عبد الرحمن بن عوف باره کې نازل شوی دی، د دې څخه حقیقت د مانځه دی دا قول د امام صاحب رح او د مجاهد رح، او علي، قتادت رض عنهم دی. امام شافعي رح وايې چې مراد ورنه مواضع د صلات دي ای المساجد دي، دا روایت د ابن مسعود او انس او سعد ابن مسیب رض عنهم دی.

# فقه بيــوع درس

## نهم فصل

## د بيعې او اړوند احکام او بيان

### لومړی مبحث: د بيعې پيژندنه او اړوند وضاحت

### لومړی مطلب: د بيعې پيژندنه او اړوند وضاحت

لومړی جز: د بيعې تعريف : ۱ اول:مبادلت المال باالمال په قيد سره ۲ دويم: بالتراضي ۳ دريم: بطريق التجاره. په اول سره خارج شو اجاره او نکاح ځکه اجاره مبادلت المال باالمنافع دی او نکاح مبادلت المال باالبضع، او دويم سره مکره بيعه اوځي ځکه دا د شرعی بيعه نه ده او جواز نه لري، دريم هبه بشرط العوض او دا مبادلت المال بالمال دی خو دتجارت په طريقه نه وي.

دوهم جز: مبادله نه مراد تمليک دی يعنی په بدله کې د مال مالک کول.

دريم جز: دبيعي حکم : القدرت على التصرف في محل شرعا،نود دې حکم ايجاب او قبول په دې باندې لازميگي. په بيعه کولو کې معرفت په اشاره سره کفايت کوي. او که په بيسو بيعه کوله نو هغی کې اشاره کفايت نه کوي نو هغه کې قدرت او صفت به معلوم وي ورته ځکه چې تسليم او تسلم چې کوم دی دا واجب دی په عقد کې.

څلورم جز: په کوم ځای کې چې وصف ذکر شي او وټاکل شي نو هلته بيا مشترې ته اختيار نشته او کوم ځای کې چې يو شی اصل ذکر شي او وټاکل شي نو هلته بيا مشتری ته اختيار شته دی.

پنځم جز: امام محمد رح دليل چې نبی ص وايې چې من اشترا ارضا فيها نخل فاالثمرت للبايع الا ان يشترط البايع.

شپږم جز: کومه ځمکه چې څوک خرڅه کړي او هغی کې تخم خاوند شيندلي وي نو امام صاحب رح وايې چې کچېرته دا تخم فايدي ته نه وو رسيدلی نو بيا په کې داخل نه دی په دی ځمکه کېو او که چېرته داسې نه وو نو بيا په داخل دی.

اووم جز: متقوم مال هغه ته وايې چې څوک د هغی مال څخه فايده اخيستلای شي ، غير متقوم بيا د دې خلاف دی، او شرعيت جايز کړی وي ، متقوم مال اخيستل هم او فايده يعنې نفعه ترينه اخلي.

اتم جز: امام محمد رح وايې چې کله يو څوک ځمکه خرڅه کړي او هغې کې ميوه پخه شوي نه وي نو دا رواه دی چې هغه پريگ دي او پخه شي ځکه چې دا استحسان دی او بل داچې عرف د خلکو دی، د نورو لکه امام صاحب رح او شيخينو په نيزد سره جواز نه لري ځکه هلته دا فاسد شرط دی.

نهم جز: په کومه بيعه کې د يو شې جهالت راځي هغه بيعه نه صحيح کيږي او مجهول شی منازعه راولي، او کومه بيعه کې چې منازعه راشي نو هغه بيعه حرامه گرځي.

لسم جز: دلیل ابوحنیفه رح وایې چې رسول ص وایې چې په کجوره کې د لګیدلی شوو بیعه یی منعه کړی ده. دا حدیث چې کوم په وګو او غنمو د بیعه جایز کیدلو باندې دلالت کوي خو د وګو د پخیدلو نه وروسته.

## دوهم مطلب: د خیار پیژندنه او اړوند وضاحت

لومړی جز: خیار شرط کې بیعه په دوه قسمه ده ۱ اول: بیع الزامیه چې هغی کې خیار شرط ته په کې اعتبار نه ورکول کیږي ۲ دویم: بیعه غیرالزامیه هغه ده چې .................. اعتبار شته دی. په خیار کې خپل اقسام دي خیار روءیت، خیار عیب، خیار شرط.

## دریم مطلب: د بیعې اقسامو وضاحت

لومړی جز: بیعه په څلور قسمه ده په اعتبار د حکم سره: :صحیحه بیعه، باطله بیعه، فاسده بیعه، موقوفه بیعه.۱: صحیحه بیعه: هغه ده چې اسلامي شرایط په کې وي او هم ارکان ۲: فاسده بیعه: هغه بیعه ده چې ذاتا صحیح وي خو د یو صفت د وجه هغه صحیح نه وي. ۳: باطله بیعه هغه ده چې ذاتا او وصفا صحیح نه وي.۴: موقوفه بیعه هغه ده چې د بل اجازه پورې موقوف وي.

دوهم جز: بیعه په اعتبار د ثمنو سره په څلور قسمه ده: مرابحه بیعه، تولیه بیعه، وضیعه بیعه، مساومه بیعه.۱:مرابحه بیعه هغه ده چې په اصل پیسو باندې زیادت وي.۲: تولیه بیعه هغه ده چې په خپل سر باندې یو شی خرڅول یعنی ګټه په کې ونه کې. ۳: وضیعه بیعه هغه ده چې د خپل نرخ په کم نرخ سره خرڅ شي. ۴: مساومه بیعه هغه ده چې بایع او مشتري د مبیعې لپاره په خپل مینځ کې یو نرخ وساتي.

دریم جز: بیعه په اعتبار د مبیعي سره اقسام: مطلقه بیعه، مقایضه بیعه، صرف بیعه، سلم بیعه.

۱: مطلقه بیعه هغه ده چې بیع العین بالثمن. ۲: مقایضه بیعه هغه ده چې د عین شې خرڅول په عین باندې. ۳: صرف بیعه هغه ده چې پیسو خرڅول په بیسو باندې.۴: سلم بیعه هغه ده چې بیع الدی باالعین.

## څلورم مطلب: د امامانو اقسامو وضاحتامامان




## پنځم مطلب: د جواز البيع لپاره شرايطو وضاحت

لومړی جز: جوازالبيع  چې بيعه صحيح شي نو هغې لپاره امام صاحب رح وايې چې خيار عيب او خيار رؤيت ورته شرط دی، او امام شافعي رح وايې چې خيار مجلس ورته شرط دی.

دوهم جز: والكتاب كاالخطاب و كذالارسال حتى اعتبر مجلس البلوغ الكتاب و اداء الرساله دا قول د امام صاحب رح دی.

دريم جز: او د پيغام په كولو صورت كې مجلس به معتبر وي.

څلورم جز: و ليس له ان يقبل في بعض الثمن يا في بعض المبيع، ولا ان يقبل المشترى ببعض الثمن دا قول د امام صاحب رح دی لعدم الرضاء الاخر بتفريق الصفقت الا انه اذا بين كل واحد.

پنځم جز: صفقت هغه ته وايې چې ډير شيان وي او هر شې لپاره جلا جلا ثمن بيان كړی وي نو دلته په بعضو مبيعو كې بيعه قبلول جايز دي.

شپږم جز: او كوم ځای كې تفريق د صفقه راځي نو هلته بيعه نه صحيح كيږي دا قول د امام صاحب رح.

## شپږم مطلب: د خيار الشرط كې د اقوالو وضاحت

لومړی جز: خيار شرط كې دری قوله دي: ١ باالاتفاق جايز قول: چې هغه موده دری ٣ ورځې اعتبار وركول كيږي. ٢ دويم باالاتفاق فاسد قول: چې هغه خيا الشرط نامعلوم وي او موده په كې معلومه نه وي او خيا الشرط يې ټاكلی وي نو دا جايز نه دی. ٣ دريم: مختلف قول: زمونګه مذهب وايې چې خيار شرط دری ٣ ورځی دی، او صاحبين وايې چې خيا

الشرط د دریو ورځو نه زیات هم تاکلی شي خو د دوو ۲ میاشتو نه زیات نشته دی، دلیل د خیر شرط د دریو ۳ ورځو لپاره: حبان ابن المستقر الانصاري چې وو ده ته دوکه ورکوله هر چا نو دا راغی نبی ص ته یې شکایت وکړو نو فقال النبی ص اذا بایعت فقل لا فلابت ولی الخیار الشرط ثلاثت ایام. د صاحبینو دلیل: ابن عمر رض انه جاز الخیار الشرط الی شهرین ... امام صاحب رح وایي چې خیار شرط په بیعه عقد کې موافق نه دی او د عقد مقتضی سره هم موافق نه دی او دا چې جواز ورکړل شوی دی نو هلته حدیث موجود دی امام محمد رح وایي چې ۴ څلورو ورځو پورې خیار شرط صحیح کیږي.

## اووم مطلب: د اقاله پیژندنه او اړوند وضاحت

لومړی جز: اقاله هغه ته وایې چې په رضا مندۍ سره د بیعي فسخه کولو ته وایې او اقاله په دوه ۲ قسمه ده: ۱ اول دا چې: که بیعه په څه شرط باندې مغلق نه وي نو دا اقاله صحیح دی او ۲ دویم د دې خلاف دی...
دوهم جز: که خیار شرط صرف بایع لپاره وي نو مبیعه د بایع د ملک نه نه خارجیګي او په خار شرط سره رضا مندي نه پوره کیږي په دې وجه مبیعه د بایع د ملک نه نه اوځي.
دریم جز: قاعده: چې په بیعه کې اقالی صحیح شرط ولګول شي نو بیعه فاسدیګي او چې کله فاسد شرط ولګول شي نو هغه بیعه خو په طریقه اولی سره فاسدیږي.
څلورم جز: د خیار په صورت کې مبیعه د مشتري په ملک کې نه راځي دا قول د امام صاحب رح دی.او صاحبین رح وایې چې نه اوځي او د مشتري په ملک کې راځي ځکه چې دا به فضول شي.
پنځم جز: چې کله یو کس خپله ښځه چې دا د بل وینځه ده د دې مولی نه یې په دری ۳ ورځو د خیار شرط باندې واخیستله نو دامام صاحب رح په نیزد باندې دا نکاح به فاسده نه وي ځکه خیار شرط په وجه مشتري د دې مالک نه دی نو هر کله چې مالک نه دی نو نکاح به فاسده نه وي ځکه چې نکاح په ملک یمیني سره فاسدیږي.

## اتم مطلب: د خیار په اړه وضاحت

لومړی جز: جز: او که مشتري د خیار موده کې دې سره وطی وکړه نو په دی وطی سره خیار نه باطلیږي بلکه مشتري ته د خپل خیار په وجه د دې بیعي رد کاوه اختیار حاصل دی ځکه چې مشتري کومه وطی کړیده نه د وینځې په وجه مګر چې کله باکره وي نو بیا یې خیار باطلیږي د امام صاحب رح په نیزد سره.
دوهم جز: د طرفینو دلیل من له الخیار خپل اختیار لاندې بیعه فسخه کول د من لا له الخیار په حق کې تصرف کول.
دریم جز: زمونګه په نیزد سره په خیار شرط کې وراثت نه جاری کیږي مثلاً: چې کوم کس مړ شي چې هغه لپاره خیار وي نو د ده خیار باطل شو نو د وارثانو اړخ ته نه منتقل کیږي خیار که بایع لپاره وي او که مشتري لپاره وي، او امام

شافعي رح وايې خيار په وراثت جاري کیږي دلیل: خیار شرط د انسان داسې حق دی گوم چې شرعا ثابت دي د احنافو دلیل: خیار شرط د مشیت او اراده نوم دی.

څلورم جز: د غیر عاقد لپاره د خیار شرط لگول استحساناً جایز دی.

پنځم جز: ولنا ان الخیار لغیر العاقد لا یثبت الا بطریق النیابت عن العاقد.

شپږم جز: خیار رؤیت د خیار عیب نه زیات قوي دی ځکه چې خیار رؤیت بیع مکمل کیدلو نه منع کوي او د خیار عیب په صورت کې بیعه مکمل کیږي خو ملکیت نه لازمیږي.

اووم جز: ومن اشترا شیأ لم یروه فاالبیع جایز عندنا، وله الخیار اذا رأه ان شاء اخذه بجمیع الثمن و ان شاء رده، و قال الشافعی رح لایصح العقد المقدار اصلا لان المبیع محهولاًزمونگه په نیزد سره د خیار رؤیت لپاره هیڅ وخت محدود نه دی بلکه هغه وخته پورې به پاتې وي چې کومه پورې یې امضاء شوي نه وي چې دا باطل دی .

اتم جز: خیار شرط چې څه باطلوي نو هغه خیار رؤیت هم باطلوي لکه مبیعه کې تصرف کول او عیب داره کیدل، د خیار رؤیت د اثبات لپاره قاعده: که مبیعه شی واحد وي نو د خیار رؤیت ساقطولو لپاره پهره مبیعه کتل شرط نه دي ځکه چې ډیر ځله د پوره مبیعه کتل نا ممکن وي لکه که مبیعه غلام یا وینځه وي نو د دې پوره بدن ته کتل ضروري دي نو دا خو په اسلام کې حرام دی نو ثابته شوه چې مبیعه پوره کتل متعذر شو.

نهم جز: هر کله چې مشتري د عدم تفاوت په وجه پاتي اوصاف معلوم نه شي نو دلته مشتري ته خیار رؤیت حاصل دی او کنی نه دی حاصل.

لسم جز: که مبیعه متعدد د متفاوت الاحاد وي نو دلته خیار رؤیت باطل دی، او په ټولو شیانو کې یو ته کتل کافي دی.

یوولسم جز: وان رأ صحن الدار فلا خیار له دا قول د امام صحب رح دی، او امام زفر رح وایې چې د کور اخیستلو په صورت کې د خیار رؤیت ساقطولو لپاره په ټولو کمرو کې گرځیدل ضروري دي.

دولسم جز: و نظر الوکیل کنظر المشتری حتی لا یرده الا من عیب، ولا یکون نظر الرسول کنظر المشتري فلا یسقط خیاره و هذا مذهب عند ابی حنیفه رح، و قالا هما سواء وله ان یرده. که مشتری د کتلو نه بغیر شی واخیستلو بیا یې بل څوک د هغې په قبضه باندې مقرر کړو یعنی وکیل یې جوړ کړو، چې کله دا وکیل دا مبیعه اوگوري نو دا دا ثابتوي چې خیار رؤیت به د مشتري نه ساقط شي، او قاصد بیا بل رقم حکم لري: چې د ده په کتلو سره خیار رؤیت نه ساقطیږي ځکه چې هغه صرف د حکم د منلو لپاره مقرر شوی دی نه د صلاحیت لپاره دا مذهب د امام صاحب رح دی، او صاحبین وایې چې دا دواړه په کتلو سره خیار رؤیت ساقطیږي نو د مشتری نه خیار رؤیت لری کیږي.

دیارلسم جز: د احنافو په نیزد سره د نابینا اخیستل خرڅول جایز دي، او که ړوند مشتري وي نو د ده لپاره خیار رؤیت هم ثابت دی ځکه چې ده داسې شی اخیستی دی چې ده نه دی لیدلی ، قاعده: چې دد کتلو نه بغیر یو شی اخیستل جایز دي او د ده لپاره خیار رؤیت ثابت دی، او ؤوند سړی د بینا سړی په شان دی لکه څنگه چې شرایط د بینا لپاره دی همدا

رنگه د نابینا لپاره هم دی ، او امام شافعي رح وايې چې که یو سړی نه ړوند نه وي او وروسته وړوند شي نو اخیستل او خرڅول بلا شبه جایز دی خو که چېرته پیدایشي وړوند وو نو بیا جایز نه دی ځکه چې ده ته رنکونه نه دې معلوم او ده ته بیانول بی فایدي دي .

څوارلسم جز: من مات وله الخیار الرؤیت بطل خیار رؤیت لانه لایجري فیه الارث عندنا.

پنځلسم جز: ومن رأ شیأ ثم اشتراه بعد مرت فان کان علی الصفت التی راه فلا خیار له، لان العلم باوصافه حاصل له باالرؤیت السابقت.

شپاړسم جز: واذا اطلع المشتري علی عیب فی المبیع فهو باالخیار ان شاء اخذه بجمیع الثمن و ان شاء رده، لان المطلق العقد یقتضی وصف السلامت، او مشتري نشي کولای چې د عیب په اندازه ورنه پیسي کمي کړي که دا عیب د بایع په لاس کې پیداشو نو کولای شي مشتري چې هغه رد کړي مګر چې کله بایع دا شرط وګرځوي چې ددې عیب په وجه دومره روپۍ کمي شوي دي.

اولسم جز: ان القبض نوعان: تام قبض: و هو ان یقبضه و هو یراه، په دې سره خیار رؤیت د مشتري نه لري کیږي.

# نظريت الالتزام درس

## لسم فصل

## نظريه په اړه بيان

### لومړی مبحث: دظريه او د هغې اړوند د حق تعريفات او وضاحت

### لومړی مطلب: نظريه او د هغې اړوند لکه د حق تعريفات او وضاحت

لومړی جز: نظريه يو حقوقي موضوعي نظام دی، په بله اصطلاح کې يو عام او پراخ مشترک مفهوم لري او ناحيه يې عامه ده، قاعده کلي: دا يوه کلي او معياري ضابطه ده او ناحيه يې خاصه ده.

دوهم جز: حق د ثبوت او وجوب په معنا سره راځي، مثال: لقد حق القول على اكثرهم فهم لا يؤمنون او ثابت امر ته هم وايې .

دريم جز: والمطلقات متاع بالمعروف حقا على المتقين دلته د حق دثبوت په معنا راغلي ده.

څلورم جز: همدا رنګه حق د ټاکلې برخي او عدل په معنا هم راځي لکه: والله يقضي بالحق.

پنځم جز: د متاخرينو په نيزد سره حق يو شرعي ثابت حکم دی د استاذ علي خفيف په نيزد سره: چې حق يو مصلحت دی چې شرعا طلبول کيږي، د استاذ زرقاء په نيزد سره: حق يو ځانګړينه ده چې اسلامي شريعت د واکدارۍ او التزام په ډول مقرر کړيده او دا تعريف جامع دی.

شپږم جز: تکليف: لازموالی يا محبوره کيدل دی په مال باندې لکه د پور ورکول.

اووم جز: د حق ارکان: صاحب الحق، محل الحق، مدين يا مکلف شخص چې حق اداء کوي.

### دوهم مطلب: د شخصيت پيژندنه او د هغي اړوند وضاحت

لومړی جز: د شخصيت ډولونه: طبيعي يا حقيق شخص، حکمي يا اعتباري شخص، چې نور يې تر دې شاه ولاړ وي، صاحب الحق: په ديني حقوقو کې الله دی او په شخصي حقوقو کې بيا انسان دی.

دوهم جز: حقيقی شخص: د احنافو په نيزد سره چې کوچنی د مور په رحم د ۴۲ ورځو شي نو دا حقيقي شخص دی، او کله چې په جنين تکوين سره شروع شي.

دريم جز: غره: چې کله زنانه خپل خاوند اوهي او ښځه کوچنی سقط کړي د دې ديت ۵۰ ديناره او ۵۰۰ درهمه دی، د جمهورو په نيزد سره ساقط شوي څخه نور خلک ميراث وړلای شي او دا يې د نورو څخه ميراث نه شي وړلای، د احنافو په نيزد سره نور هم د ده څخه او دا نورو څخه ميراث وړلای شي.

څلورم جز: او په کوچني کې ۳ مياشتی وروسته او ۱۸ ورځی وروسته روح پيدا کيږي.

## دريم مطلب: د حق پيژندنه او د هغې اقسامو وضاحت

لومړی جز: حق دوولونه: د صاحب الحق په اعتبار سره ۱ حق الله ۲ حق العبد ۳ حق المشترک ، حق الله: هو مايقصد به التقرب الی الله و تعظيمه و تحقيق النفع الماء، اوحق العبد: هو مايقصد منه حمايت الشخص سواء کان الحق عاما کاالحفاظ او خاصا کحق البايع فی الثمن، او حق المشترک: حق الله غالب کحد القذف، حق العبد غالب کحق القصاص، د الله په حقوقو کې عفوه تنازل نشته دی، دا حق تغير نه مني يعني د مسروق منه په عفوه سره حد د سرقت نه ساقطيږي، او په ميراث نه وړل کيږي لکه دبل په ځای روژه نيول.

دوهم جز: حق الله تداخل نه مني لکه يو سړی څو واره غلا وکړي کله چې و نيول شي يو حد پرې جاري کيږي، او د دې عقوباتو د پوره کولو صلاحيت يوازي د وخت حاکم لري. حق العبد چې يو فردې انسان يې حمايه کوي لکه دا حق عام وي لکه امنيت ساتل، يا دا حق خاص وي لکه د بايع حق په ثمن کې، او د ښځی نفقه په خاوند باندې دا هم حق العبد دی.

دريم جز: د حق العبد حکم: تنازل جواز لري په کې، اسقاط په عفوه سره جايز دی، دا په ميراث وړل کيږي په دې دول حقوق کې تداخل نشته دی.

څلورم جز: يعنی په هري جريمي جلا جلا عذاب دی، او په دې حقوقو کې عقوبات يې يوازي صاحب الحق يا ولي لري.

پنځم جز: مشترک حقوق: د حق العبد او حق الله څخه يوځای لاسته راځي . حق الله + حق العبد= حق المشترک، چې حق الله غالبه وي لکه طلاقي شوي ښځې عدت تيرول ځکه دلته دا حق الله غلبه دی چې نسب ساتنه کيږي چې رحم پاک شي چې حق العبد غالبه وي لکه قصاص اخيستل.

## څلورم مطلب: د حق العبد پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: حق العبد په دوه قسمه دی: ۱ اول: اسقاط نه قبلوي: لکه د شفعې حق ساقطول، د پلار پلاروالی په خپل کوچنی اولاد باندې، د امام ابويوسف رح په نيزد سره چې څوک وقف وکړي نو دی کولای شي چې اسقاط شرط کړي او يا يې نفي کړي، ځکه چې دا د ده خپل حق دی، هغه حقوق چې په اسقاط سره نورو شرعي احکاموته ضرر رسيږي لکه په نکاح کې د رجوع حق ساقطول، هغه حقوق ساقطول چې د بل حق ساقطيږي: لکه د عدت حق او خضانت حق.

دوهم جز: هغه چې اسقاط مني لکه: ټول شخصي حقوق اسقاط مني.

دریم جز: د میراث له نظره چې هغه حقوق په میراث وړل کیږي د جمهورو په نیزد سره اموال، حقوق، منافع، دا په میراث وړل کیږي او د احنافو په نیزد سره: بیا یواځې اموال په میراث وړل کیږي.

پنځم مطلب: د ملکیت پیژندنه او اړوند وضاحت ملکیت په دوه ۲ قسمه دی: ۱ تام ملکیت، ۲ ناقص ملکیت.

## شپږم مطلب: د محل الحق پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د حق په اعتبار محل الحق په شپږ ٦ قسمه دی: حق الشخصي: ما یقره الشرع لسخص علی اخر، لحق الشخصی ثلاثت عناصر: صاحب الحق، محل الحق، المکلف المدین، حق العین: مایقره الشرع لشخص علی شیء معین باالذات کحق المرور والمسیل، لحق العیني عنصران: صاحب الحق، محل الحق.

دوهم جز: حقوق مالیه او غیر مالیه: حقوق مالیه التي تتعلق باالاموال ومنافعها کحق البایع فی الثمن، حقوق غیر مالیه: تتعلق بغیر المال مثل کحق القصاص.

دریم جز: حقوق مجرده وغیر مجرده: حقوق مجرده: حقالمجرد الذي لایترک اثرا باالتنازل عنه کحق الدین، حقوق غیر مجرده: الذي یترک اثرا باالتنازل عنه کحق القصاص.

## اووم مطلب: ثابتوالی د قاضي په حقوقو کې او غیر ثبات د قاضي د دې اړوند وضاحت

لومړی جز: دریم تقسیم ۳ : په اعتبار د ثبات د قاضي او غیر د ثبات د قاضي دا په دوه ۲ قسمه دی: ۱ دیاني حقوق ، او بل ۲ قضایې حقوق. قضای حقوق هغه دي چې د قاضي تر ولایت لاندې راتلای شي او په دې کې نیت ته نه کتل کیږي دیاني هغه حقوق دي چې د هغې خلاف دي لکه قاضي پر مدین باندې هیڅ الزام نشي لګولای لکه عرفي ازدواج.

## اتم مطلب: د حقوقو مصادر او اړوند وضاحت

لومړی جز: د حقوقو مصادر او اسباب یې: د لزوم په نسبت د حق مصادر ۵ پنځه دي: ۱ اول شرعه: لکه کاالاءلتزام باالنفعت علی الاقارب والزوجت، ۲ دویم عقد: کالیع والهبه، ۳ دریم الارادت المنفرده کاالوعد باالشیء والنذر، ۴ څلورم فعل النافع کاأدا الدین، فعل الضار کاالالتزام المتعدي ضمان الذي اتلفه.

دوهم جز: قال الدکتوري السنهوري: مصادرالحقوق فی الاسلامي: ۱ اول: الواقعت القانونیت الشرعی: تشمل الفعل الضار والفعل النافع ۲ دویم: التصرف القانونیت الشرعی: یشمل العقد والارادت المنفرده.

دریم جز: د حق احکام: (استیفاء الحق) په دوه قسمه دی: ۱ استیفاءالحق الله، ۲ استیفاء الحق الانسان.

لکه استیفاء الحق: لکه عبادت لونځ روژه زکوت، او استیفاء الحق الانسان: لکه د ملک شخصي څخه اخیستل کیږي ، که مکلف شخص د دې حقوق اداء نه کړي نو حکم یې دا دی لکه ۱ اول : جنس الحق که دا هلاک شوی وي نو دا

پیدا نه شو بیا دې جنس دی ورکړي.۲ دویم: عین الحق: کوم شی چې غصب کړی دی هماغه به ورکوي ، نو د اول او د دویم حکم دا دی: چې خپله صاحب المال او مکلف شخص کولای شي چې حل یې کړي. او ۳ دریم: خلاف الجنس الحق: که موټر یې هلاک کړو نو دا به ورته اول همدا موټر ورکوي او که دا پیدا نه شو نو بیا به ورته غنم ورکوي که مالک ورسره په هر څه رضاء کېدو نو هماغه به ورکوي، نو د دې حکم دلته بیا به هم قاضي ته مراجعه کوي ځکه چې دلته زیادت او کموالی راځي او بل منازعه راځي نو د منازعي په صورت کې قاضي ته مراجعه کیږي... دا ټول اقوال د امام احمد رح او مالک رح دي دلایل: اداالامانت الی من ایتمنک ولا تخن من خانک. امام شافعي رح وایې چې استیفاء دی خپله کوي قاضي ته ضرورت نشته دی دلیل: و جزاء سیئت سیئت بمثلها ...

حمایت الحق:

د صاحب الحق حق د حمایت او ملاتړ شرعیت کوي یعني د دین احکامو ساتنه وکړي.

استعمال الحق:

د حق په استعمال کې باید مشروعه طریقه وي چې نورو ته زیان ونه رسوي.

نقل الحق:

حقوق چې کله انتقالیږي د ټاکلو اسبابو په واسطه سره راځي چې هغه عقد او التزام دی.

انقضاء الحق:

حق چې کله پای ته ورسیږي په موده سره او په مختلفو اسبابو سره راځي لکه حق الزواج په طلاق سره راځي.

د عقد دوه معنا گانی دي: ۱ اول داچې: د حنابله او مالکیه او شوافعو په نیزد سره: د عقد عامه معنا دا ده چې د یو کار کولو اراده وکړي که اراده منفرده وي لکه وقف او ابراء، که اراده دوه طرفه وي: لکه بیعه او اجاره، ۲ دویم داچې: خاصه معنا دا ده چې ایجاب او قبول ته ارتباط ورکول په مشروعه طریقه سره چې په محل کې اثر معلوم کړي.

## نهم مطلب: عقد او التزام پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: عقد او التزام: التزام هغه دی چې په ضمن کې انشاء د حق، د حق نقل، د حق تعدیل، او د عقد انتهاء ولري که یو طرفه وي او که دوه طرفه وي، اوالتزام عام هم دوه طرفه او هم یو طرفه ته راځي او عق خاص یواځي دوه طرفه ته شاملیږي.

## لسم مطلب: تصرف او التزام پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: تصرف په دوه ۲ قسمه دی: ۱ اول فعلي تصرف هغه دی چې دا فزیکې یا مادې واقعه ده چې د یو شخص څخه صادریږي لکه قبض الدین،غصب، تسلیم، ۲ دوهم تصرف قولي: دا په دوه قسمه دی ۱ اول: عقد تصرف چې دا

بیعي او اجاره ته وایږو ۲ دوهم: غیر عقدي تصرف: دا هغهددی چې په مجرد اخبار سره وي لکه دعوه، اقرار، انشاء، وقف، طلاق او ابراء.

دوهم جز: التزام اراده منفرده: جعاله، وقف، ابراء، وصیت، یمین، کفاله. عقد په اراده منفرده سره د پلار د صغیر ځوي سره عقد، همدارنګه د نیکه د لمسي سره، قاضي، رسول، وصي...

دریم جز: د احنافو په نیزد سره، بغیر د امام زفر رح:

زواج په واحد عقد سره: کلی قاعده: باید عاقدان دوه ۲ وي، په عقد کولو کې لیکن ځیني استثنائ حالت شته دی ۱

اول: کله چې یو شخص د دوړو له طرفه ولي وي لکه کان یزوج الجد بنت ابن الصغیره لابنها ابنه الصغیره.

څلورم جز: کله چې یو شخص له دواړو له طرفو نه وکیل وي لکه: زوجت موکلي فلانا موکلتي فلانت.

پنځم جز: کله چې یو شخص له یو طرف وکیل او بل طرف نه اصیل وي لکه: لو وکلت امرأة رجلا لیزوجها من النفسه.

شپږم جز: کله چې یو څوک له طرف نه ولي وي او بل طرف نه وکیل وي لکه زوجت بنتي من موکلتي.

اووم جز: شوافع وایې چې یوازي هغه وخت د یو عاقد په واسطه سره د نکاح عقد کیږي چې هغه عاقد نیکه وي یعني جد ځکه چې د ده په څیر نور والیان دیر رحم او شفقت نه لري.

د عقد جوړښت: د احنافو په نیزد سره رکن تعریف: ما یتوقف علیه وجود الشیء وکان جزء داخلا فی الحقیقت.

اتم جز: ارکان یې ایجاب او قبول دی، لکه په عباداتو کې چې رکوع او سجده داخله ده، نو په معاملاتو کې ایجاب او قبول داخل دی، او هغه چې د دې قایمقام وي لکه اشاره، کتابت، فعل.

نهم جز: غیر حنفیه: ما یتوقف علیه وجود الشیء و ان لم یکن جزء داخلا فی الحقیقت، ارکان د عقد دری دي: عاقدین: بایع او مشتری، معقود علیه: مبیعه او ثمن، صیغت العقد: ایجاب او قبول، ایجاب او قبول د عقد جوړونکی دی، یا په اتفاق د عاقدینو دلالت کوي.

لسم جز: ایجاب د احنافو په نیزد سره: دا دلالت کوي بر خاص فعل او یا قول چې پر رضاء د اول عاقد، که هغه مشتري وي او که بایع وي. بل قبول: دا دلالت کوي په موافقت د رضاء باندې نو قبول بلل کیږي.

## یوولسم مطلب: د مالي عقودو تعاطي او د زواج عقد او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: په مالي عقودو کې د فقهاو اختلاف: د احنافو او حنابلو په نیزد سره تعاطي صحیح کیږي په هغه عقد کې چې د خلکو رضایت وي او تعارف په کې وي، د مالکیانو په نیزد سره تعاطي صحیح کیږي په هغه عقد کې چې د خلکو رضایت وي او که تعارف الناس وي او که نه وي نو دا موهم نه دی، د شوافعو او شیعو په نیزد سره: تعاطي نه صحیح کیږي ځکه چې دې کې دومره قوت نشته دی او رضا صرف په قول سره صحیح کیږي نه په فعل سره.

دوهم جز: زواج عقد په تعاطي يا فعل سره صحت نه لري ځکه چې زواج اوږد عمر لري تر څو چې د زنا څخه بچ شي، او بل دا چې د ښځي کرامت و ساتل شي، و امام شافعي رح وايي چې طلاق،خلعه، رجعت،په فعل سره صحت نه لري. بلکه په قول سره صحت لري.

## دولسم مطلب: په اشاره سره عقد او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: په اشاره سره عقد په دوه شرايطو سره کولای شی ۱ اول: چې کله په قول باندې قدرت و نه لری نو د احنافو او شوافعو په نيزد سره : چې څوک په قول او کتابت سره قدرت ولري نو په اشاره سره عقد نه صحيح کيږي. د احنافو په نيزد مورزاده گوونگي که په کتابت پوهيدو نو بيا اشاره باندي عقد صحت نه لري، الاشاره المعهودت للاخرس کاالبيان باالسان ، شرط: شرط هغه دی چې مايتوقف عليه وجود الشیء.

دوهم جز: د عقد مجلس تعريف: اتحادالمجلس منالعاقدين فی حال عقدالمجلس.

## ديارلسم مطلب: د تصرف پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: تصرفات په دری ۳ قسمه دي: اول ۱: هغه چې په مطلق ډول نفعه وي لکه: د غره لرگي،دويم ۲: چې په مطلق ډول ضرور وي لکه: طلاق، دريم ۳: هغه چې هم گټه او هم تاوان لري لکه: ازدواج،اجاره،بيعه.

دوهم جز: هغه عقود چې هغی کي اتحاد د مجلس شرط نه دی،۱: وصيت،۲: ايصاء، ۳: وکالت.

دريم جز: امام احمد بن حنبل رح وايي چې هر عقد چې جايز وي او غير لازم وي نو قبول يې په ځنډ سره جواز لري، اتحادالمجلس ته ضرورت نه لري، لکه: مضاربت،مشارکت،مزارعت، مساقات،وديعت او جعالت.

## څوارلسم مطلب: د ايجاب پيژندنه او د هغې باطل والی اړوند وضاحت

لومړی جز: ايجاب په لاندې پنځو ۵ شيانو سره باطليږي: اول ۱: د جمهورو په نيزد سره د ايجاب کونکي رجوع ده په مجلس کي مخکي تر قبول نه،دويم۲: د ايجاب ردول دي د قبول کونکي له طرفه که صراحتا وي او که ضمنا وي، دريم ۳: د مجلس وخت پای ته رسيدل دي، څلورم ۴: کله چې ايجاب کونکی د اهليته اوځي لکه وژل کيدل، کله چې محل عقد هلاک شي.

دوهم جز: او هر شی معقود عليه نه شې کيدای لکه شراب، زواج د محرماتو سره.

## بلاغـــت درس

## یوولسم فصل

## د بلاغت تعریفات او د هغې اقسام

### لومړی مبحث: د بلاغت تعریف

### لومړی مطلب: د بلاغت پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: بلاغت تعریف: بلاغت په لغت کې وضاحت ته وایې او په بلاغت کې دوه شیان موصوفیږي: ۱ بلاغت فی المتکلم، ۲ بلاغت فی الکلام او فی المفرد.

دوهم جز: فصاحت فی المفرد هغه ته وایې چې خالي وي د تنافرالحروف نه او غرابة او مخالفة القیاس لغوې نه.

دریم جز: تنافر هغه ته وایې چې دا موصوفیږي په کلمه باندې او واجبو یثقل په ژبه باندې لکه مستشزرات نو دا تنافرالحروف دی.

څلورم جز: په فصاحت پاندې دري شیان موصوفیږي: ۱ فصاحت فی المفرد، ۲ فصاحت فی الکلام، ۳ فصاحت فی المتکلم.

پنځم جز: غرابت تعریف: غرابت په لغت کې کون الکلمة و حیشیة غیر الفصاحت المعنی دی.

شپږم جز: فصاحت فی الکلام هغه ته وایې چې نه ورکې ضعف التالیف، تنافرالکلمات، تعقید نو دا شیان په کې نه وي په فصاحت فی الکلام کې لکه زید اجلل.

اووم جز: ضعف التألیف: دا هغه ته وایې چې کلام د نحوي قانون نه خلاف وي لکه: د جمهورو قانون دا دی چې هغه له ضمیر نه مخکې مرجع ذکر کړې ده لفظا او هم معنا او هم حکما. ضرب غلامه زیدٌ.

اتم جز: تنافر الکلمات هغه دي چې څو کلمي راجمع شي چې د هغو په تلفظ سره په ژبه ثقیل وي او په لوستلو کې سلامتیا او رواني پاتې نه شي.

نهم جز: تعقید دیته وایې چې یو کلام معقد وي یعنې ظااهرالدلالة علی المراد وي یعنې په معنا باندې خاص دلالت نه کوي تعقید: تعقید په دوه قسمه دی ۱ تعقید لفظي، ۲ تعقید معنوي.

### دوهم مطلب: د فصاحت فی الکلام پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: فصاحت فی الکلام: دیته وایې چې مطابقت د دې کلام وي د مقتضی الظاهر سره دا فصیح کلام دی، بل فصاحت فی الکلام هغه ته وایې چې یوه کلمه په مختلفو اوصافو سره راغلي وي.

دوهم جز: بلاغت فی الکلام هغه ته وایې چې دې مقام د هغې ځای نه بچ کيدل دي د خطا نه په تأدية المراد کې.

## دريم مطلب: د علم معاني پيژندنه او د صدق الخبر پيزندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د علم المعاني تعريف: هو علم يعرف بها احوال اللفظ العربي التي بها يطابق اللفظ مقتضی الحال.

دوهم جز: صدق الخبر هغه ته وايې چې دا مطابقت د حکم واقع سره وي.

دريم جز: جاحظ وايې چې ۱ صدق الخبر هغه ته وايې چې مطابقت د واقعي سره وي سره د اعتقاد نه، او جمهور وايې چې مطابقت د واقعي سره وي. ۲ کذب الخبر هغه ته وايې د جمهورو په نيزد سره عدم مطابقت د واقعي سره وي، او بعضي وايې چې کذب الخبر ديته وايې چې عدم مطابق د اعتقاد سره وي، جاحظ رح وايې چې کذب الخبر ديته وايې چې عدم مطابق د واقعي او اعتقاد سره وي. لکه: افتری علی الله کذبا ام به جنة دا دجاحظ دليل دي چې نه به صدق وي او نه به کذب وي.

## څلورم مطلب: د حقيقت او د مجاز پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: حقيقت تعريف: هغه ته وايې چې ما هو له ته اسناد شوی وي، او حقيقت عقلي ديته وايې چې اسناد د فعل او معنا د فعل الی ما هو له عند المتکلم فی الظاهر.

دوهم جز: حقيقت او مجاز ديته وايې چې مبنی للفاعل ته چې نسبت په کې فاعل ته وشي نو ديته حقيقت وايې، او که په کې فاعل ته نسبت ونه شي نو هغې ته مجاز وايې.

دريم جز: حقيقت عقليه په څلور قسمه دی: ۱ الاول ما يطابق الواقع والاعتقاد جميعا لکه کقول المؤمن انبت الله البقل، ۲ مايطابق الاعتقاد فقط کقول الجاهل انبت الربيع البقل، ۳ مايطابق الواقع فقط لکه کقول المعتزلی لمن لا يعرف حاله و هو يخفيها منه خلق الله الافعال کلها، ۴ مالايطابق الواقع ولا للاعتقاد لکه جاء زيد و انت.

څلورم جز: مجاز عقلي هغه ته وايې چې اسناد د فعل وشي شبه فعل ته يا شبه فعل اسناد وشي غير ما هو له ته نو دا مجاز عقلي دي == د مجاز عقلي نومونه: مجاز عقلي، مجاز حکمي، مجاز فی الاثبات، اسناد مجازا مثال: عيشةالراضيه.

پنځة جز: اسناد اقسام: ۱ نسبت اضافي، ۲ اسناد ايقاعي، ۳ نسبت اسنادي.

# منطق درس

## دولسم فصل

## د منطق بیان

### لومړی مبحث: د منطق پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

### لومړی مطلب: د منطق تعریف او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د منطق تعریف: المنطق الة قانونية تعصم مراعات الذهن عن الخطاء فی الذهن ای فی الفکر، موضوع: معلومات التصوري والتصديقي، غرض: صيانة الذهن عن الخطاء فی الفکر.

دوهم جز: کليات خمسه: نوع، جنس، فصل، خاصه، عرض عام.

دريم جز: وضع په دوه قسمه دي: ۱ وضع خاصه د ا هغه ته ويلي شي چې دلالت د لفظ دی په معنا باندې په خپله بغير د قريني نه لکه ضاحک بالقوه او باالفعل ۲ وضع عامه دا هغه ته وايې چې دلالت د لفظ دی په معنا باندې سره له قريني نه لکه متنفس باالقوه او باالفعل.

## د نحوة درس

## دیارلسم فصل

## د نحوة بیان

### لومړی مبحث: د نحوة تعریف او اقسام:

### لومړی مطلب: د نحوة پیژندنه او دضمایرو، ماضي او اړوند وضاحت

لومړی جز: د نحوة تعریف: په لغت کې قصد او اراده ته وایې او په اصطلاح کې علم بأصول یعرف بها احوال او اخراالکلم الثالث من حیث الاعراب والبناء و کیفیة الترکیب بعضها مع بعض.

دوهم جز: ضمیر په دوه قسمه دی: ۱ بارز هغه ته وایې چې په کلمه کې ښکاره وي لکه هو یضرب ۲ مستتر هغه ته وایې چې په کلمه کې پټ وي لکه ضرب.

دریم جز: ماضي تعرف: مادل عل زمان قبل زمانک.

څلورم جز: فعل مضارع مشابهت لري د اسم سره په دوو۲ شیانو کې ۱ مشابهت د اشتراک سره: څکه چې اسم مشترک دی په دریو معناګانو سره او هم مضارع ده چې هغه د حال او استقبال دی، ۲ مشابهت د تخصیص سره: لکه څنګه چې د اسم نه یوه معنا خاص کیږي همدا رنګه په فعل کې هم دي لکه حال په کې مونګه خاص کوو.

پنځم جز: د مضارع حالتونه: ۱ کله به مبني وي، ۲ او کله به معرب وي == نو هغه حالت کې چې معرب وي نو فعل مضارع کې به نون تاکیدي نه وي لکه لیضربن او نون د جمع مؤنث به هم نه وي یضربن، او کله چې نون تاکید او نون د جمع مؤنث په کې وي نو بیا به فعل مضارع مبني وي.

شپږم جز: اعراب د فعل مضارع: ۱ رفع، نصب، ۳ جزم. او فعل مضارع په اعتبار د اعراب سره په پنځه قسمه ده: ۱ کله چې فعل مضارع خالي وي د حروف علت نه لکهیضربان او تضربان، ۲ کله چې فعل مضارع صحیح وي او ضمیر بارز مرفوع ورسره متصل وي لکه یضربان یضربون، ۳ کله چې فعل مضارع ناقص یایې وي لکه رمی رضی یدعو، ۴ کله چې فعل مضارع اخره کې الف راغلی وي لکه یرضی، ۵ کله چې فعل مضارع خالي وي د عواملو ناصبو نه نو نه پرې لم او نه پرې لن داخل وي لکه یضرب نو دا رفع عامل ورکړه. او دا خالي کیدل یې خپله عامل دی دا رایه د کوفینو ده.

اووم جز: فعل مضارع په یولسو ۱۱ ځایو کې منصوب راځي: ۱ فعل مضارع به منصوب وي پس د حروفو نواصبو نه لکه ان یضرب، ۲ چې حتی راشي په فعل مضارع کې نو بیا به منصوب وي لکه حتتی یضرب، ۳ حتی نه بعد چې ان مقدر وي

لکه حتی ان ادخلها، ۴ د او نه بعد چې ان مقدر وي نو فعل به مضارع به منصوب وي لکه لالزمنک او ان تعطيني حقی، ۵ فا نه بعد ان مقر وي لکه زرني فأان اکرمک، ..... نور هم دي هغه په شرحه جامي کې اوګورى.

اتم جز: افعال قلوب: علمت، رأيت، وجدت، ظننت، خلت، حسبت== اولني د يقين لپاره راځي = او اخرني دري د شک لپاره راځي.

نهم جز: حروف جازمه: ان، لم، لما، لام امر، لام نهي.

لسم جز: شرط او جزا: دا چې کله دواړه مضارع وي او يا شرط يې په فعل مضارع کې وي نو جزم يې واجب او ضروري دی لکه ان تضرني ازرک، او کله چې شرط فعل مضارع وي او جزا په کې ماضي وي نو اوس هم په کې جزم واجب دی لدخول الجازم و هو ان او دا عامل هم دی.

يوولسم جز: جمله انشايه په لس قسمه ده: امر، نهي، استفهام، تمني، ترجي، عقود، ندا، عرض، قسم، تعجب.

دولسم جز: امر اقسام: ۱ تعد نو عد شو، ۲ تضرب نو اضرب شو، ۳ تنصر نو انصر شو، ۴ تفتح نه افتح جوړ شو، ۵ تکرم نه اکرم جوړ و.

# حقوق مبادي درس

# څوارلسم فصل

# د حقوقو بيان

## لومړی مبحث: د حقوق تعريف او اقسام

### لومړی مطلب: د حقوق پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لمړی جز: حقوق د هغه قواعدو ټولکه ده چې د نړۍ له انتظام او يا د انسان له طبيعت څخه يې سرچينه اخيستي ده او هر څه په عدالت برابره وي.

دوهم جز: د حقوقو تعريف: حقوق د اجباري قواعدو ټولگه ده چې د نظم او عدالت استقرار د رامينځته کيدو لپاره د انسان ټولنيز ژوند حکومت کوي.

دريم جز: کانت وايې چې حقوق هغه ته وايې چې حقوق د هغه شرايطو له ټولگی نه عبارت دی چې د هغو په اساس د يو نفر ارده د مشترکی ازادۍ د اصل مطابق له يو بلی اراده سره تلفيق کيږي.

څلورم جز: ارسطو وايې چې حقوق د دولت له خوا هغه ډير څرگند او مشخص بيان دی چې په يو گډ جوړښت سره پيل شوي وي او د دې باره کې خبرتيا ورکوي چې دا کار څه ډول سره ترسره شي.

پنځم جز: افاقي حقوق اقسام: ۱ ملي حقوق، ۲ بين المللي حقوق = بيا ملي حقوق په دوه قسمه دي: ۱ عامه حقوق، ۲ خاص حقوق = بيا عامه ح په پنځه قسمه دي: ۱ اساسي ح، ۲ اداري ح، ۳ مالي ح، ۴ جزا ح، ۵ کار ح. = بيا خصوصي حقوق په دوه قسمه دي: ۱ حرفوي ح، ۲ غير حرفوي ح = بيا حرفوي حقوق په دري قسمه دي: ۱ تجارت ح، ۲ صنعت ح، ۳ کار ح = بيا غير حرفوي په څلور قسمه دی: ۱ کورني ح، ۲ ميراث ح، ۳ وجايبو ح، ۴ عيني ح. = بيا بين المللي حقوق په دري قسمه دي: ۱ ع ب م ح، ۲ خ ب م ح، ۳ ج ب م ح .

# اصول فـقه درس

# پنځلسم فصل

# اصول فقه بیان

## لومړی مبحث: اصول فقه تعریف او امثال

### لومړی مطلب: اصول فقه پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: اصول فقه په پنځه معناګانو سره راغلی ده: ۱ اول: اصل دلیل: و اقیمو الصلوات، ۲ دویم: په معنا د قانون سره لکه: کل فاعل من اصل النحوه. ۳دریم: په معنا د راجح سره لکه: اصل فی الکلام الحقیقه. هدایت: هغه دی چې هدایت موصلت الی المطلوب دا سره د واسطي نه هدایت ته ځان رسول دي، هدایت علی ما یوصل الی المطلوبدا بغیر د واسطي نه دي.

دوهم جز: جبریه ډله وایې بنده چې کوم دی هغه هیڅ اختیار نه لري په خپلو اعمالو باندې او نه خالق دی او نه کاسب دی خپلو اعمالو لره قدریه وایې چې انسان الله پیدا کړی دی په هر څه باندې قادر دی او خالق هم دی خو کاسب نه دی خپلو اعمالو لره.

دریم جز: مراد په کتاب الله سره ټول نه دی مراد مګر ۵۰۰ ایاته مراد دي هغه د احکامو لپاره دي او نور باقي قصص دي .

څلورم جز: مراد په سنت رسول الله سره بعضها ....ثلاثت الاف یعني ۳۰۰۰ دي او مراد په قیاس سره چې مستنبط وي د اصول ثلاثه نه چې هغه قران عظیم الشان دی، سنت رسول الله او اجماع امت محمدیه دی.

پنځم جز: لکه مثال چې قیاس مستنبط وي د اصول ثلاثه نه: حرمت اللواطه علی حرمت الوطی فی حالت الحیض بعلت الاذی، چې د سنت نه وي لکه: حرمت تفاضل الجص والنوره بعلت القدر والجنس، چې د اجماع نه وي لکه: حرمت ام المزینت علی حرمت ام امته التي وطأها، او بل دا چې اصول ثلاثه دا مثبِت دی او هغه قیاس مثبَت دی.

### دوهم مطلب: د لفظ تقسیماتو پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د لفظ او تقسیماتو بحث: چې اول درې ۳ چې کوم دي هغه په اعتبار د لفظ سره دي او څلورم په اعتبار د معنا سره دی.

دوهم جز: خاص هغه دی چې وضع لمعنا معلوم علی الانفراد، حکم د خاص: ان یتناول المخصوص ولا یحتمل البیان لکونه بینا.

دریم جز: اذا قمتم الی الصلات او اذا قمتم الی الطواف: امام شافعی رح وایې چې طواف بی اودسه کول جایز نه دي دلیل: الطواف باالبیت مثل الصلات.

څلورم جز: قرء نه مطلب امام شافعي رح وایې چې دی څخه مراد طهر دی، امام صاحب رح وایې چې حیض دی ورنه مراد او قروء مذکر لفظ دی.

پنځم جز: ثلاثه لفظ دا دلالت کوي په خپله معنی باندې یعنی مدلول باندې چې هغه مرتبه د دوو ۲ ـ نه پورته او څلور ۴ ـ نه ښکته ده.

شپږم جز: د محلیلة الزوج الثاني بحدیث غسیله لا بقوله(حتی تنکح زوجا غیره)

اووم جز: کومه ښځه چې د خاوند له خوا نه یو ۱ یا دوه ۲ طلا قه ورکړل او هغه بیا ورته خاوند رجوع و نه کړي نو هغه بل زوج سره نکاح وکي نو ده سره هم وخت تیرکړي دا هم یعنی ( زوج ثاني ) طلاق ورکړي نو دا ښځه د امام شافعی رح په نیزد سره اول خاوند د هغه اندازه طلاقو حق سره چې کوم پاتي شي لکه یو ۱ ورکړي د دوو ۲ طلاقو حق سره ۲ـ بیا پوري امام صاحب رح وایې چې کله حق بل خاوند ته ورکړل یعنی نکاح یې ور سره وشي نو ټوله مسئله د سر نه شوه .

اتم جز: یوه ښځه وه رفاعه بی بی نو خاوند یې په دری ۳ طلاقو سره طلاقه کړه او عدة یې تیر شو نو عبدالرحمن زبیر په نکاح کړه نو هغه سره تبیعت و نه شو ....نو بیا نبي ص ته یې شکایت وکړو لاحتی تذوقي من عسیلته و یذوق هو من عسیلتک.

نهم جز: غلا شوي مال ته مسروق وایې : امام صاحب رح چې کله سارق نه مال هلاک شوي وي نو لاس ترینه صرف قطع کړي او تاوان ترینه مه غواړي . او امام شافعی رح وایې چې دواړه کاره وکړئ.

## دریم مطلب: د طلاق، خلع پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: زمونږ په نیزد سره طلاق بعدالخلع واقع کیداي شي په ښځه باندي امام شافعی رح وایې چې خلع دیته وایی چې ښځه راشي خاوند ته اوایې چې ما پریږده څه چې دی راکړي او څه چې درنه غواړم هغه به درکړم نو دلته خلعه فسخه ده او نکاح ده او نکاح نشته دي چې کله نکاح نه وی نو بیا طلاق چاته ورکوي. جمهور وایې چې خلعه طلاق دي او احمد بن حنبل رح وایې چې چه خلعه فسخه ده امام صاحب رح وایې چې طلاق خلعه دي.

دوهم جز: دا خلعه ځینی وایې چې طلاق باین دي ځینی وایې چې نه طلاق رجعی دي . امام صاحب رح وایې چې دا باین مخفف طلاق دي بیا هم خاوند طلاق ورکولاي شي تر څو باین مغلظ شي.

دريم جز: مفوضه ښځه هغه ده پلار يا ورور راشي خپله خور يا لور بلا مهره چاته په نکاح ورکړي نو ديته مفوضه وايې چې، مفوضه: چې ولي په نکاح ورکړي. مفوضه: چې خپله دا کار وکړي. نو دلته په مطلق عقد سره مهر مثل راځي، چې وطی يې کړي وي او که نه ، امام شافعی رح وايې چې ....... ښځه سره چې دخول نه وي شوي نو هغه ته مهر نشته دی، امام صا حب رح وايې چې که قبل الدخول سړی مړ شي نو متعه ده نو کنی مهر مثل دي.

څلورم جز: حکم د خاص: خاص احتمال د بيان نه لري لوکنه بيناً. امام صاحب رح وايې چې کان المهر مقدر شرعا من جانب الشارع دا قياس دي په يدالسارق سره ، امام شافعی رح وايې چې اندازه د مهر دا متعينه شوي ده او سپارلي شوي ده ، رأی العبادته.

پنځم جز: ومنهُ الامر و هو قول القايل لغيره على سبيل الاستعلاء، امر مضارع ته هم شامليږي او مقصد دامرڅخه چې کوي، هغه امر به ايجاب الفعل وي، ويختص الامر بصيغة الامر يعنى بصيغة الازمة بيان لكون الامر خا صاً.

شپږم جز: خاص هغه دی چې وضع وي لپاره د يو معنی معلومي منفرد وي له نورو افرادو څخه، حکم: خاص شامليږی خپل مخصوص سره قطعاً، مثال فرض نه دي تعديل په ارکانو د رکوع کې.

اووم جز: عام هغه لفظ دي چې شامليږي هغه افرادو لره په حقيقت کې په طريقه د شمول، حکم: واجب دي ـ مثال: استنزهو من البول فاِن عامةً عذاب القبر منه.

اتم جز: منابع په دوه ۲ قسمه دي، ۱ـ اصلي منابع : چې په حقيقت کې د ( ع،ب،م،ح) رسهاً او مستقيماً د هغې نه استفاده کوي ، په غير اسلامي ممالکوکي، ۱: ب م معاهدات، ۲: ب م تعاملات، ۳: د م قوانينو عمومي روحيه، په اسلامي ممالکوکي: ۱: اسلامي شريعت، ۲: ب م معاهدات، ۳: ب م تعاملات، ۴: د م قوانينو عمومي روحيه.

نهم جز: د قانون تفسير لپاره يعنی د قانون الفاظ چې کله مغلق وي، نو د دي د واقع کولو لپاره دري مرجع وجود لري، ۱: هرکله چې د قانون خلا او مغلقيت د شخص افرادو له خوا رفع شي ديته شخص تفسير وايي. ۲: هر کله چې د قانون خلا او مغلقيت د محکمي قاضيانو له خوا رفع شي ديته قضايي تفسير وايي . ۳: هر کله چې د قانون خلا او مغلقيت د تقيني ارگانونو له خوا رفع شي ديته تقيني تفسير وايي لکه چې کله پارلمان قانون جوړوي.

لسم جز: په بين المللي سطحه د قوانينو تفسير: ۱ اول: چې کله تفسير کيږي نو عدالت نړيواله محکمه لخوا کيږي، ۲ دوهم: نړيوال دوکتورين.

فرعي منابع هغه دي چې عمومي بين المللي حقوقوق کې د هغې څخه په مستقيم ډوا استفاده نه کيږي، بلکه په غير مستقيم سره.

## څلورم مطلب: د منابعو پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: فرعي منابع: ۱ قضایه رؤیه، ۲ دوکتورین، قضایه رؤیه هغه ده چې مخکنۍ پریکړه په نوی پریکړه باندې تطبیقول.

دوهم جز: د دولت متشاکله عناصر: ۱ دولت ۲ نفوس او باید د یو دولت نفوس په خپله ځمکه باندې ۲۰۰۰۰ شل زره وي چې اندازه یې ٦۱ km ځمکه سطحه ولري.

دریم جز: د دولت شرایط: قلمرو، نفوس، حاکمیت، عالي قدرت او دولت عام دی او حکومت خاص دی، حکومت د دولتون روابط ترتیبوي، او دولت په نړیواله کچه باندې روابط ترتیبوي، حکومت اجرایه قوه ته وایې.

څلورم جز: د حکمتونو قواوي: مقننه قوه لکه لکه پارلمان، قضایه قوه لکه ستره محکمه، اجرایه قوه لکه حکومت او وزیران شول.

پنځم جز: د قضائ قوې تطبیق صرف حکومت کوي.

شپږم جز: غیر طبعي سرحدات لکه سیمي خالدار شو، طبعي سرحدات لکه غرونه او سیندونه شول.




اووم جز: فدرالي نظام: هغه ده چې د اساسي قانون پر بنسټ دوه یا څو دولتونه سره یو ځای شي او یو مرکزي حکومت مینځته راوړي وي.

## بلاغـــت درس

## شپاړسم فصل

## د بلاغت بیان

### لومړی مبحث: د بلاغت تعریف او اقسام

### لومړی مطلب: د بلاغت پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: علم معاني هغه ته وايې چې د هغې په وجه پيژندل کيږي احواال د لفظ عربي چې مطابق وي د مقتضی د حال سره.

دوهم جز: د علم معاني موضوع اللفظ العربي من حيث انه يطابق مقتضی الحال.

دريم جز: د علم معاني غرض صيانة الذهن عن الخطأ المعنوي.

څلورم جز: ارکان تشبيه: مشبه، مشبه به، ادات تشبيه، وجه شبه.

پنځم جز: تشبيه المجمل: هو الذي حذف منه وجه شبه فقط او ادات تشبيه ، لکه محمد کاالاسد.

شپږم جز: تشبيه البليغ: ............................... .................لکه: محمد اسد.

اووم جز: مجاز مرسل هغه کلمه ده چې په اصل معنا کې نه وي استعمال شوي خو په بله علاقه کې استعمال شوي وي او هغه علاقه کې مشابهت نه وي مثال: و ينزل لکم منالسماء رزقا.

اتم جز: مجاز عقلي هغه کلمه ده چې ته اسناد د فعل او يا په معنا د غير ما هو له کې استعمال شوي وي.

نهم جز: اسناد د فعل مجازي عقلي:سبب د فعل ته، او زماني ته، او مکان ته هم کيږي مصدر، مبني للفاعل، للمفعول نه فاعل ته هم کيږي.

لسم جز: کنايه هغه ده چې اطلاق يې کيږي په کنايې لازمي معنا باندې، او مجاز ديته وايې چې په مجاز کې هم غير معنا اخيستل کيږي او کنايه کې هم او په مجاز کې اصل معنا نه شي اخيستی او په کنايه کې اخيستی شی.

يوولسم جز: تقسيم الکنايه باعتبار المکنی عنه: ١ مکنی عنه صفت، وقد يکون موصوفا، و قد يکون نسبتا.

## دوهم مطلب: د کلام او د هغې اقسام اړوند وضاحت

لومړی جز: تقسیم الکلام الی: ۱ خبر ۲ و انشاء : فاالخبر مایصح ان یقال القایل لقائله انه صادق فیه کاذب ، و انشاء: ما لا یصح ان یقال لقائله انه صادق فیه او کاذب فیه = والانشاء رکنان: ۱ محکوم علیه، ۲ محکوم به، ۳ مسند، ۴ مسند الیه.

دوهم جز: فائدت الخبر: اءفادت المخاطب الحکم الذي تضمنه الجمله، لازم فائدت الخبر: اءفادت المخاطب ان المتکلم عالم باالحکم و یسمی ذالک لازم فائدت الخبر.

دریم جز: د تاکید الفاظ: ان، ان، قسم، لام په ابتدا کې، و تنبیه الحروف راوړل، زاید حروف راوړل، قد اما شرطیه.

څلورم جز: مقتضی الظاهر: دیته وایې چې کله خالی الذهن ته بغیر له تاکید څخه خبر راوړل شي او متردد ته استحسانا تاکید راوړل شي او منکر ته وجوبا تاکید راوړل شي.

پنځم جز: انشاء طلبي هغه ته وایې چې د هغې غوښتنه کیږي خو د غوښتنې په وخت کې حاصل شوی نه وي، انشاء غیر طلبي دیته وایې چې د هغې غوښتنه او طلب نه کیږي دا په شپږ ٦ قسمه ده: ۱ تعجب، ۲ مدحه، ۳ ذم، ۴ قسم، ۵ افعال رجاء، ٦ عقود.

شپږم جز: امر طلب د فعل دی په طریقي د استعلاء سره، د دې څلور صیغي دي: ۱ فعل امر، ۲ مضارع چې لام امر ورسره وي، ۳ د فعل امر اسم، ۴ مصدر چې نایب وي .

اتم جز: استفهام طلب د فعل دی په یو شي باندې چې هغه مخکې نه وي ورته معلوم، استفهام حروف: ۱ هل، ۲ همزه، دا یو د دغو شیانو لپاره راځي: ۱ تصور، ۲ تصدیق.

نهم جز: تصور دیته وایې چې ادراک د مفرد وکړي او غالب ډول په کې وروسته له ام څخه راځي.لکه: انت مسافر ام اخوک، تصدیق دیته وایې چې ادراک د نسبت راځي او معادل کې نه راځي.

لسم جز: قصر خاص کول د یو شي دی په شي باندې.

یوولسم جز: تمني هغه ده چې طلب د فعل دی چې د هغه حصول امید نه وي ممکن وي خو لاسته راوړلو تمع نه وي، حروف یې دا دي: لیت، لعل، لو، هل.

دولسم جز: ترجي هغه ده چې یو کار کله سرته د رسیدو او د حصول امید وي ترجي بلل کیږي. الفاظ یې دا دي: لعل، عسی، لیت.

دیارلسم جز: وصل دیته وایې چې عطف کول د جملي دي په بلې جملې باندې، فصل دیته وایې چې د عطف پرېښودل دي

څوارلسم جز: ایجاز دیته وایې چې راټول کړای شي ډیري معنا ګانی د لګو الفاظو لپاره سره د جلاوالي او فساحت. لکه الا له الخلق والامر، دا ایجاز په دوه قسمه دی: ۱ ایجاز قصر: دیته وایې چې لند عبارتونه او لنډي معنا ګانی راغلي وي مثال: الا له الخخلق والامر. ۲ او ایجاز حذفي: دیته وایې چې حذف کړای شي یوه یا دوه یا ډیري کلمي یا جملي سره د داسې قریني چې محذوف یې معلوم وي لکه و جاء ربک والملک صفا صفا.

پنځلسم جز: اطناب دیته وایې چې زیاتوالي د الفاظو دی په معنا ګانو باندې لپاره د فایدي.

## احــــــــــــكام الحديث درس

## اولسم فصل

## د حديث الاحكام بيان

### لومړی مبحث: د حديث احکام او د هغې پيژندنه

### لومړی مطلب: د حديث احکام او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: ځينی خلک سلف ته سلف وايې او ځيني ورته سلم وايې، او په اصطلاح کې هغه بيعه ده چې ستا په ذمه پاتی وي.

دوهم جز: قرض هغه دی چې ستا په ذمه دی نه د بيعې په صورت سره.

دريم جز: ابن مسيب وايې چې سلم او سلف دواړه ججايز نه دي او نور علماء وايې چې جايز دی.

څلورم جز: جوازالسلم هغه وخت راځي چې کله مکان القبض ذکر شوي نه وي نو دا قول د اسحاق رح دی.

پنځم جز: جمهور علماء وايې چې کله شی موجود نه وي په کوم شي چې سلم پرې کيږي نو امکان به چې موجود شي.

شپږم جز: جواز التفرق هغه وخت کيدای شي چې عين وخت کې پيسي ورکړي دا قول د امام شافعي رح او کوفيين دی، او حنابله وايې چې کله وروسته يې هم ورکړي نو بيا هم سهي ده، يعنې مال مخکې واخلي او روپۍ وروسته ورکړي.

### دوهم مطلب: د رهن پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: رهن هغه دی چې ته له مانه يو شی اخلې زه تاته وايم چې ماته قرض راکړه هيڅ شی نه لرم نو بيا هغه روپۍ ورنه کړي او بيا ورنه موټر سايکل ودروي.

دوهم جز: امام احمد رح او اسحاق رح وايې چې استفاده د رهن څخه جايز دی، جمور امام صاحب امام مالک رح او امام شافعي رح وای چې جايز نه دی، ځکه چې دا د حديث مخالف القياس دی، او امام اوزاعي رح او الليث رح وايې چې د رهن څخه استعمال جايز نه دی په بدل د نفقي سره.

دريم جز: امام مالک رح او شافعي رح او احمد رح وايې چې کله رهن هلاک شي د مرتهن په لاس کې نو ضمان يې په راهن د مرتهن د مال څخه هيڅ نه ساقطيږي، او اصحاب الرأی او امام النخعي رح او الثوري رح وايې چې که قيمت د حق د رهن په اندازه وي نو په هلاکت د رهن سره حق ساقطيږي او که د حق قيمت کم وي تر رهن بيا د قيمت په اندازه

حق ساقطیږي، او باقي پر راهن راځي، او که قیمت د حق کم وي تر رهن بیا د قیمت په اندازه ..................... او که قیمت د مرهون زیات وي تر نو حق ساقطیږي او ضمان د زیادت یې نه واجبیږي پر مرتهن باندې.

څلورم جز: رباعیا هغه اوښ ته وایې چې شپږ ٦ کاله یې پوره شوي وي او په اووم ٧ ک داخل وي.

پنځم جز: تفلیس مصدر دی دا هغه ته وایې چې داسې حالت ته ګرځیدل چې په هغې کې د پیسو مالک نه وي، او په شرعیت کې مفلس هغه ته وایې چې قرضونه یې تر هغه پیسو زیات وي چې د ده سره وي.

اووم جز: حجر په لغت کې منع او تنګسیا ته وایې او په اصطلاح کې هغه قول د حاکم دی چې قرضدار ته وایې: ما پر تا بندیز لګولی دی له تصرف کولو څخه ستا په مال کې.

اتم جز: امام شافعي رح وایې قرض په مثل د بیعي دی دلیل: من وجد ماله جمهور وایې چې په مثل د بیعي نه دی ځکه حدیث کې لفظ د بیعی راغلی دی ایما رجل باع.

نهم جز: مرګ په مثل د افلاس دی.

لسم جز: جنس د هغه کس چې قرض نه اداء کوي جایز دی حاکم، جمهور وایې چې جواز ورکړی دی چې بندیز ورباندې ولګوي او مل یې خرڅ کړي تر چې قرضونه یې اداء شي، امام صاحب رح وایې چې  حجر جایز نه دی او نه یې مال خڅول جایز دي بلکه دصرف یې بندي کړی.

یوولسم جز: امام شافعي رح او جمهور وایې چې قرض دومره زیات وي چې ټول مال ته شامل شي بیا هم حجر لګول جایز دی.

## دریم مطلب: د تصرف پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز:  امام مالک رح او حسن رح وایې چې تصرف د مفلس په خپل مال کې غیر نافذ دی که څه هم په هغه باندې بندیز نه وي لګیدلی، او امام شافعي رح وایې چې تصرف د مفلس جایز دی تر څو پورې چې قاضي پر هغه باندې بندیز نه  لګولای.

دوم جز: اما شافعي رح وایې چې بالغ سفیه باندې بندیز د تتصرف جایز دی، او امام صاحب رح وایې چې یو انسان پنځویشت ۲۵ کلونو ته ورسیږي نو مل ورته وسپاری کخ څه هم هغه ظابط نه وي.

دریم جز: د احد غزا د هجرت په دریم ۳ کال وه او د خندق غزا د هجرت په څلورم کال وه، او جمهور علماء وایې چې خندق غزا د هجرت په پنځم کال وه.

څلورم جز: د بلوغ اندازه: انب وهب او امام شافعي امام احمد وایې چې حد بلوغ ۱۵ کاله ده، او جمهور وایې چې حد د بلوغ ۱۷ کاله ده یا ۱۸ کاله ده، د امام صاحب رح په نیزد باندې د هلک ۱۸ یا ۱۹ کاله دی او د جیني ۱۷ کاله دی.

پنځم جز: د اللیث بن سعد او طاوس بن کیسان رح وایې چې ښځې ته جایز ده چې په ثلث د مال کې تصرف وکړي بغیر د اجازه د خاوند نه، او که تر ثلث زیات وي نو بیا جایز نه دی نو ددې استدلال کوي چې قیاس یې پّ جواز د وصیت په ثلث د مال کې.

## څلورم مطلب: د احاله پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز:  حواله نقل د دین دی له یوې ضمه څخه بلې ضمې ته، او ضمان دیته وایې چې تعهد د غیر مدین دی په ورکولو د قرض د بل چا.

دوهم جز: اهل ظواهر او حنابله وایې چې د احالی قبلول واجب دي جمهور وایې چې قبلول مستحب دي.

دریم جز: مړي څخه ضمان نه دی صحیح دا قول د امام صاحب رح دی، او جممهور وایې چې صحیح دی.

څلورم جز: ابن حزم وایې چې کفاله باالابدان رواه نه ده، او جمهور علماء وایې چې جایز دی.

پنځم جز: امام مالک رح وایې چې صفت واحد وي نو بیا د ابدانو شرکت رواه دی، امام صاحب رح وایې چې بغیر دشرط څخه د ابدانو شرکت رواه دی، امام شافعي رح وایې چې باطل دی د ابدانو شرکت ځکه هر یو شخص په بدن او منافعو سره توپیر لري.

شپږم جز: امام شافعي رح او ابن عباس رض او احمد رح وایې چې که مستعار شی تلف شي ضمان وربادنې شته دی، په مطلق ډول سره، هادي او یو جماعت وایې چې که شرط یې ورسره لګولای وي په دې  ډول یې که هلاک کړو ضمان به ورکوي، او که معیر شرط نه وو لګولای نو بیا ضمان نشته دی، امام صاحب رح او حسن رح وایې  چې ضمان نشته دی خو که قصدا ډول باندې یې هلاک کړو بیا ضمان شته دی.

اووم جز: ظفر مسله: کله چې یو شخص په بل شخص باندې حق وي او هغه نه ورکوي نو دا سړی په هغه ظلم باندې کامیابیدای شي چې ورنه یې واخلي نو حدیث له هغه خیانت څخه منعه کړی دی نو دلته امام شافعي رح وایې چې د ظلم مال څخه دی خپل حق پوره کړي که د جنس د مال څخه وي او که نه وي دلیل: و جزاء سیئت سیئت بمثلها... او امام صاحب رح وایې چې په نقدو کې خپل حق اخیستی شي یعنی معلومي نقدي ورکړې وي نو هغه ترینه بیرته واخلي نو بیا سهي ده او کنی نه ده سهي، امام ملک رح وایې چې د ودیعت څخه انکار جواز نه لري نو څه یې چې ورنه اخیستي دي همانغه به ورکوي دلیل: ولا تخن من خانک.

## پنځم مطلب: د ځمکی او د د غصب اړوند وضاحت

لومړی جز: ځمکه چې کله غصب شي یا تلف شي نو جمهور وایې چې ضمان لري.

دوهم جز: امام شافعي رح او کوفین وایې چې کله یو شی تلف کړي نو مثل به ورکوي که مثل پیدا نه شو بیا به قیمت ورکوي، امام مالک رح وای چې قیمت به ورکوي بل قول د امام مالک رح دا دی: چې کیل یا وزن کېدو نو مثل به ورکوي.

دریم جز: کله چې د بل چا ځمکه د هغه د بې اجازې پرته واخلي او استعمال یې کړي نو حکم یې دا دی: چې احمد او مالک او اسحاق رح هم دوی ټول وایې چې او اهل حدیث هم وایې چې د زرع څخه پری هیڅ نشته دی او هغه څه چې په کنبت یې خرچه کړي دي هغه به ورکوي او امام شافعي رح وایې چې صاحب د ځمکی هر قسم اختیار او تصرف لري که کرایه ترینه اخلي او که کنبت ورته لري کوي.

## شپږم مطلب: د ځمکی د زرع او د هغې اړوند وضاحت:

لومړی جز: من زرع في ارض قوم بغیر اذنهم نو فلیس له من الزرع شیء وله نفقته.

دوهم جز: مشروعیت د مساقات: ان رسول ص عامل اهل الخیبر بشرط ما یخرج منها من ثمرا او زرع.

دریم جز: مساقات نا معلومي نیټې پورې امام شافعي رح وایې چې رواه نه دی، ځیني فقهاء وایې چې رواه دی.

څلورم جز: ځیني فقهاء وایې چې مساقات او مزارعت دواړه په یو معنا دي او جمهور وایې چې مساقات د کجورو او نورو ونو خړوبولو او ساتلو ته وایې، او مزارعت دیته وایې چې بیخي وني نه وي هغه یوائې تخم وي.

پنځم جز: ماذانیات هغه دي چې هغې کې اوبه بهیږي یعني هلاکت امکان یې ډیر وي = اقبال جداول دیته وایې چې هغې کې لنبتي راغلي وي.

## اووم مطلب: د شفع او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: شفعه په لغت کې زیادت او زوج په معنا سره دی او په اصطلاح کې نقل کول د حصي دي له یو شریک څخه بل شریک ته.

دوهم جز: نبي ص وایې چې شفعه په هغه ځمکه کې ده چې هغه تقسیم شوي نه وي او کله چې تقسیم شي او حدود یې معلوم شي او لاري یې بدلي شي بیا شفع نشته دی.

دریم جز: الشفعت لا ترث ولا تورث، الصبیعلی شفعت حتا یدرک، لیس للیهود والنصاراشفعت.

څلورم جز: قراض هغه ته وایې چې معامله وکړي یو عاملیه یو برخی د گټې د بل چا سره.

پنځم جز: ثلث فیهن برکت، للبیع الی اجل، والمقارضت، و خلط البر باالشعیر للبیت لا للبیع.

شپږم جز: جمهور وايې چې اجرت د حجام دا حلال دی، امام احمد رح چې مکروه دی لپاره د اصیل سړي چې اجرت اخلي او دا کسب کوي ابن عربي رح وايې چې جواز دی په اخيستلو د اجرت د دې دا په هغه وخت کې چې عمل د ده معلوم وي، او نور وايې چې دا کسب حرام دی.

## اتم مطلب: د فاسدی بیع او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: فاسدې بيعې ته ځکه دا نوم اخلي چې د کثرت په وجه يعني کثيرالوقوع ده او په عنوان کې فاسد نوم ذکر شوی دی، ممبيعه او ياثمن که هر يو شرعا حرام وي نو بيعه فاسده ده لکه مرداره يا وينه، يا ازاد سړی ثمن جوړ کړي نو دا بيعه هم فاسده ده، والبيع بالخمر والخنزير فاسد ځکه دا دواړه د ذميانو په نيزد مال شميرل کيږي.

دوهم جز: قاعده: غير مقدور التسليم شی ثمن جوړولو په وجه به بيعه فاسده وي.

دريم جز: والباطل لايفيد ملک التصرف ولا يفيد ملک االرقبه، لان العقد باطل فاالعاقد باطل غير معتبر.

څلورم جز: امام صاحب رح وايې چې او الولده او مدبر په بيعه کې دي او دواړه که چيري د مشتري په لاس کې هلاک شول نو مشتري باندې ضمان نه راځي او د صاحبينو په نيزد سره ضمان راځي.

پنځم جز: د بيعي فاسدي حکم: د دې په قبضه کولو سره ملک فايده ورکوي دا مذهب د امام صاحب رح دی، او که چيرته د مشتري په لاس کې هلاک شو نو دا به مضمون وي د دې ضمان يا به باالمثل وي يا به باالقيمت واجب وي.

شپږم جز: قاعده: کوم شی چې ملک نه افاده کوي هغه باطل دی.

اووم جز: ميته، والدم، والحر دا ټولي بيعي باطلي دي ځکه دا اموال نه دي او کوم شی چې اموال نه شي نو هغه باطل دي او نه مبيعه د دې شيانو نه صحيح کيږي.

اتم جز: قاعده: کوم مال چې غير متقوم وي نو په هغې باندې بيعه نه صحيح کيږي، خنزير او شراب ځکه غير متقوم دی چې ديته الله پاک رجس ويلی دی.

نهم جز: که د شرابو او خنزير په مقابل کې د کپړې تهان ذکر شو نو دا بيعه فاسده ده.

لسم جز: و بيع ام الولد، والمکاتب، والمدبر فاسد، او د مطلق مدبر د دې بيعه باطله ده، او د مدبر مقيد بيعه باالاتفاق جايز ده، دليل: المدبر لايباع ولا يوهب ولا يورث نو دلته بيعه جايز نه ده دا قول د امام صاحب رح دی، او امام شافعي رح وايې چې مطلق مدبر بيعه جايز کړې ده يعنې چې د دې ازادوالي د مولی په مرگ باندې معلق شوی دی.

يوولسم جز: و ان ماتت ام الولده اوالمدبرفي يدالمشتري فلا ضمان عليه هذا قول ابی حنيفه رح، و عند صاحبين (رح هما) يضمن عليه، دا دواړه د مشتري په قبضه کې په وجه د بيعي دي، مدبر او ام الولده دواړه په بيعه کې راتلای شي، او کوم شی چې په بيعه کې راځي نو د هغې د هلاکت په صورت کې ضمان راځي بخلاف المکاتب لانه في يده نفسه فلا يتحقق فی حقه القبض الا في رضاءه.

دولسم جز: ولا يجوز بيع السمک قبل ان يصطاد دا قول د امام صاحب رح دی، او د بيعي جواز لپاره مبيعه د بايع مملوک او مقدورالتسليم کيدل ضروري دي نو دلته خيار حاصل دی مشترې ته که اخلي او که نه يې اخلي په اوبو کې، و يجوز بيع القصيل لانه في يمکن قلعه، قصيل ديته وايې چې فصل شين وي او ثمر ته نه وي رسيدلی نو دا بيعه جايز ده.

ديارلسم جز: قال و ضربت الناقص وهو مايخرج من الصيد بضرب الشبکت، او ضربت الناقص بيعه جايز نه ده ځکه چې په دې صورت کې مبيعه مجهوله ده چې په جال کې څومره چوغکی نيول کيږي، او بل په دې بيعه کې دهوکه ده.

څوارلسم جز: بيع المزابنه جايز نه ده ځکه نبي ص منعه فرمايلي ده: نهی النبي ص عن المزابنه والمحاقله. والمحاقله هوالذي بيع الحنطلت في سنبلها بحنطت، امام شافعي رح وايې چې د پنځو ۵ وسقو نه په کم کې مزابنه او محاقله جايز ګرځولي ده.

پنځلسم جز: ولا يجوز البيع باء القاء الحجر والملامست، والمنابزه و هذه البيوع کانت فی الجاهليه.

شپاړسم جز: ولا يجوز البيع المراعي ولا اجارتها، الناس شرکاء في ثلاثت اشياء: الماء، والکلاء، والنار.

اولسم جز: ولايجوز البيع النخل دا قول د امام صاحب رح او ابويوسف رح دی، او امام محمد احمد مالک شاعي رح وايې چې که مچۍ د ده په ساتنه بوخت وي نو د دې بيعه جايز ده.

اتلسم جز: ولا يجوز البيع الدود القز عند ابي حنيفه رح ځکه دا حشرات الارض دي، امام ابويوسف رح وايې چې که په چينجيو باندې ريښم موجود وو نو دا خو بيا د هغې تابع دي نو بيا بيعه جايز ده، او امام محمد رح وايې  چې هر قسم خر څول يې جايز دي د دې بيعې که ريښم ښکاره وي او که نه وي ځکه دا منتفع به دی.

نولسم جز: ولا يجوز بيع البيضت عند ابي حنيفه رح، و عندهما دا بيعه جايز ده و عند شيخين عدم جواز دی.

شلم جز: ولا يجوز البيع الابق ثم عاد من الابق لايتم ذالک العقد نو دا بيعه باطله ده او دا مقدور التسليم نه ده، او امام صاحب رح وايې چې يتم العقد اذا لم يفسخ.

يويشتم جز: ولا يجوز البيع ابن المرأت في قدح، او امام شافعي رح وايې چې جايز ده لانه مشروب طاهر .

دويشتم جز: ولو وقع فی الماء القليل افسده عند ابي يوسف رح ځکه د اړتيا په وخت کې ضرورت لري.

درويشتم جز: ومن باع جاريه فاءذا هو غلام لم يجز البيع ال في رضاء المشتري.

څلرويشتم جز: و اذا امر المسلم نصرانيا، که مسلمان نصراني ته، يا باالعکس، يا يو سړي د احران تړلو نه مخکې ښکار وکړو بيا يې احرام وتړلو او يو غير محرم کس يې د دې کار لپاره وکيل ونيو دلته په دې ټولو صورتونو کې د امام صاحب رح په نيزد سر ه د جواز قايل دی، او صاحبين وايې چې د عدم جواز قايل دی.

پنځويشتم جز: ومن باع عبدا علی ان يعتقده المشتري او يدبره او يکاتبه او أمت علی ان يستولدها فاالبيع فاسد.

شپږويشتم جز: و کذالک لو باع عبدا علی ان يستخدمه البايع شهرا او شهرين او علی ان يسکنها او علی ان يقرضه المشتري درهما او علی ان يهديه له هديه فالبيع فاسد لان شرط فاسد لايقتضيه العقد وفيه المنفعت الاحد المتعاقدين.

اویشتم جز: ومن اشترا جاریت الا حملها فاالبیع الفاسد.

اته ویشتم جز: ومن جمع بین حرا او عبدا او شات ذکیت و میتت بطل البیع فیهما وهذا عند ابي حنیفه رح وقال ابي یوسف و محمد رح ان سمی لکل واحدمنهما ثمنا جاز فی العبد والشات ذکیت، وقال زفر رح فسد فیهما.

نهه ویشتم جز: واذا قبض المشتري المبیع فی البیع الفاسد بأمرالبایع و فی العقد عوضان کل واحد منهما مال ملک، ملک المبیع و لزمته القیمت، وقال الشافعي رح لا یملکه و ان قبضه لأنه محظور فلا ینال به نعمت الملک.

دیرشم جز: فان باعه باالبیع الفاسد نفذ بیعه، وسقط حق الاسترداد لتعلق حق العبد الثاني.

## نهم مطلب: د مکروهې بیع او د نورو بیعو پیژندنه،حکم او اړوند وضاحت

لومړی جز: مکروه په دوه قسمه دی: ۱ اول مکروه تحریمي: دا چې کوم دی حراموته نژدي دی، او دوهم ۲ مکروه تنزیهي: دا چې کوم دی  مباحو اعمالو ته نژدي دی.

دوهم جز: بیعه نجش دا ده چې د مبیع ثمن د دې قیمت په اندازه لګولی دی خو یو سړی په ثمن کې اضافه والی کوي او وایې چې زه د مشتري د بیان شوي ثمن نه دومره دومره زیاتي ثمن په عوض اخلم حالانکه د ده اراده د اخیستلو نه وي بلکه صرف دوکه وي چې مشتري قیمت نور هم اضافه کړي او واینخلي نو دا خو امر قبیح دی او امر قبیح چې په کومه بیعه کې راشي نو هغه بیعه مکروهه ګرځي خو که مشتري د قیمت په اندازه ثمن نه دی لګولی او بل دوهم کس څه پیسي زیاتي کړي او د قیمت په اندازه یې کړلو او نه اخیستلو نو دا جایز دی ځکه چې په دې کې د مشتري نقصان نه بغیر د بایع نفعه ده نو دا جایز دی.

دریم جز: اقاله ارکان: ایجاب او قبول دی یعني اقاله تیر شوی قول زایله کول دي.

څلورم جز: بیعه مرابحه دا ده: چې د ثمن اول څخه په زیات عوض باندې خرڅول دي، بیعه تولیه هغه ده چې د ثمن اول په مثل خرڅ شي، ولا تصح المرابحه والتولیه حتی یکون العوض مما له مثل.

پنځم جز: نهی النبی ص عن البیع مالم یقبض، و یجوز بیع العقار قبل القبض.

## د خصوصي بیـــــن المللي حقوقو درس

## اتلسم فصل

## د خصوصي بين المللي حقوقو بيان

### لومړی مبحث: د خصوصي بين المللي حقوقو او اړوند تعريفات

### لومړی مطلب: خصوصي بين المللي حقوقو پيژندنه او اړوند وضاحت

لومړی جز: د فرانسي پوهنتون استاد وايې چې خ ب م ح هغه خاص ح دي چې د حقوقي اشخاصو روابط په بين المللي سطحه حقوق روابط ولري تنظيموي، او د خاصو حقوقو معنا دا ده چې ب م جنبه ولري.

دوهم جز: ډاکټر محمد نصير خ ب م ح هغه دي چې په بين المللي ژوندانه کې د خ اشخاصو او افرادو روابط څخه بحث کوي.

دريم جز: يو فرانسوي له يو افغان سره واده وکړ په دې رابطه کې د منازعي په صورت کې خ ب م ح مقررات حل او فصل کوي همدا رنگه د دوو انگريزانو تر مينځ د غير منقولو اموالو په هکله چې په ايټآليا کې قرار لري نو دا په انگلستان کې د حل او فصل لپاره يې د همدې قواعدو څخه کار اخيستل کيږي، همدا رنگه دوه افغانان دې په فرانسه کې ازدواج کړی دی خو غواړي چې په افغانستان کې دا جدا شي نو حل او فصل لپاره يې د همدې قواعدو او مقرراتو څخه کار اخيستل کيږي.

څلورم جز: د انگلستان په هيواد کې د خ ب م ح اصطلاح چې پښوا د قوانينو د تعارض په نامه ياد وه، مگر اوس په خ ب م ح په نامه ياديږي.

پنځم جز: خصوصي بين المللي حقوق موضوعات د دولتونو په واسطه تعين کيږي، تابيعت، اقمتگاه، د خارجيانو وضعيت، د قوانينو تعارض، او د محاکمو تعين د خ ب م ح له خوا کيږي.

شپږم جز: د خ ب م ح د تحول تاريخچه د انسانانو روابطو سره يوځای انکشاف کړيدی، او د اسلام مقدس دين په راتلو سره بيا قومي سرحدات نړيگي، د مسلمان او غير مسلمان مسله مطرح کيږي په اسلامي شرعيت کې بيا ټول مسلمانان د داخليانو او غير مسلمو او دا بيگانه گان گڼل کيږي او بيا دا بيگانه گان سره روابط د شرعيت په اساس د ذمي او امان د عقدونو په اساس بر قراريږي.

اووم جز: اهلیت عبارت دی چې د هغه صلاحیت څخه چې په یو شخص یې د یو حق درلودلو او د یوې وجیبې پوره کولو او د هغه حقوق پکار اچولو چې د قانون په واسطه ورکړې دی برخمن کوي، اواهلیت په دوه قسمه دی: ۱ د تمتع اهلیت ۲ اجراء اهلیت: اول: د تممتع اهلیت: دا هغه دی چې یو کس د هغه په واسطه سره کولای شي چې د خپل اهلیت څخه فایده واخلي، مثال د کور اوسیدو څخه، دوهم د اجراء اهلیت دا هغه دی چې د دې په واسطې سره کولای شي چې د یو حقوقو عملي اجراء کولو صلاحیت لاسته راوړي مثال د کور خرڅول.

# مالي نـــــظام درس

## نولسم فصل

## مالي نظام بيان

### لومړی مبحث: د مالي نظام تعريفات او اقسام

### لومړی مطلب: د مالي نظام پيژندنه او د علما اړوند وضاحت

لومړی جز: نظام مصدر دی چې د نظم د کلمي څخه اخيستل شوی دی او دا عربي کلمه ده النظام هوالترتيب الامور في شؤون المختلفه على شکل واحد.

دوهم جز: مال کل ما يقتني ويجوزه الانسان باالفعل سواء کان عينا ام منفعت. هم ما کل ما ملکته من جميع الاشياء.

دريم جز: د احمد زرقاء په نيزد سره: مال هغه ته وايې چې المال هو کل عين ذات قيمت ماديت بين اللناس ، د امام صاحب رح په نيزد سره: چې طبيعت ورته ميلان کوي هغه مال دی.

څلورم جز: د ناپوهانو له تصرف څخه يې مال منع کړی دی الله فرمايې چې ولا تؤتو السفهاء اموالکم التي ... يعني په غير مناسبو ځايو کې استعمال کوي.

پنځم جز: تبذير او اسراف ديته وايې چې په خرچ او استعمال کې اعتدال او ميانه روي مراعت نه شي، د ابن عباس رض او مسعمد رض وايې چې دا ديته وايې چې مال د خپل حق څخه بغير استعمال شي او بل د نعمت حق اداء نه شي او پّ باطله لاره کې مصرف شي.

شپږم جز: مال اقسام په اعتبار د حلالوالي او نه حلالوالي

مال متقوم

غير متقوم

د ثابت کېدو اونه ثابت کېدو په اعتبار سره

عقار

منقول

د مماثلت او غير مماثلت په اعتبار سره

مثلي

قيمي

د بقا او غير بقاء په اعتبار سره

استهلاکي مال

او استعمالي مال

## دوهم مطلب: مال متقوم پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: مال متقوم ديته وايې چې هر هغه شی چې باالفعل محزر وي او نفعه ورڅخه شرعيت رواه کړي وي لکه عقار مال، او هر هغه شی چې ستا د وس او طاقت نه بهر وي نو هغه غير متقوم مال دی لکه په اوبو کې ماهي، او چې باالفعل محزر نه وي او له هغې څخه نفعه اخيستل د ضرورت نه بغير وي نو نه دی رواه لکه شراب، او خنزير شو، او د اضطراري په حالت کې د مسلمانانو لپاره شرعا غيــــــــــــر متقوم مال گڼل کيږي، نفعه ورڅخه اخيستل رواه نه دي.

دوهم جز: امام صاحب رح وايې چې شراب اوخنزير د كفارو لپاره متقوم مال دي،كه چـــــــــــــا دا شيان تلف كړل، نو تاوان پري لازم دي، او نور وايې چې مال متقوم نه دي.
دريم جز: متقوم مال د هر عقد محل كيداى شي نه غير متقوم مال، مال متقوم د تلف په صورت كي تاوان لازميږي، كه مثلي وي نو مثلي به وي او كه قيمي وي نو قيمي مال تاوان لازميږي.
او كه غير متقوم مال څوک د چا تلف كړي نو هيڅ تاوان نه لازميږي،او كه د ذمي وي دا مال نو يوائې د احنافو په نيزد سره تاوان راځي،ځكه دا د كفارو لپاره مال متـــــــــــــقوم دي.
څلورم جز: د مالكيانو په نيزد سره منقول هغه مال ته وايې چې حمل كول او نقل كول له يو ځاي څخه بل ځاي ته په اول شكل سره نقل كول، لكه: جامه،كتاب،موټر...

## دريم مطلب: د عقار مال پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړى جز:  او عقاري مال هغه دي چې اصلاً له يو ځاي څخه بل ځاي ته نه نقلـــــــــــــــول كيږي، او مدني قانون هم په دي باندي تاثير كړي دي، يعنى د مالكيانو نظر يې اخيستي.
شفعه په عقار كي ثابت كيداي شي، او په منقول كې چه جدا له عقار څخه خرڅ شي نه ثابتيږي، همدارنگه په بيع وفاكي هم په عقاركې شفعه ثابتيږي، او په منقول كې نه راځي، بيع وفا د جمهورو په نيزد سره په عقار كې جواز لري، په منقول كي جواز نـــــــــــــه لري.
دوهم جز: د امام صاحب رح په نيزد سره وقف په عـــــــــــــقار كې صحيح دى،او په منقولو مالونو كې نه دى صحيح.
دريم جز: بيع قبل القبض د امام صاحب رح او ابو يوسف رح په نيزد سره د عقار بيع مخكې له تسليم او قبض څخه جواز لري،خو په منقولو كې جواز نه لري.
څلورم جز: د افغانستان د اساسى قانون ۱۴ مادى له مخې: بهرني اشخاص په افغانستان كې د عقاري مالونو د ملكيت حق نه لري.
پنځم جز: مثلي مال هغه ته وايې چې د هغې نظير او مثل د تفاوة د احادو او اجزاوو څخه په ښار كې پيدا شي،دا په څلور قسمه دي، ۱: هغه چې پيمانه كيږي، لكه: غنم،وربشى. ۲: هغه چې په تول سره كيږي، ۳: هغه چې په عدد سره كيږي،لكه: غوزان،هگى. ۴: چې په متر سره وي، لكه: رخت،تخته.
شپږم جز: قيمي مال هغه دي چې د هغې نظير په ښار كې پيدا نشي.
اووم جز: استهلاک مال هغه دى چې د هغې عين ذات د ختميدو څخه نه وي ممكن لكه: خوراک او استعمال مالي هغه ته وايې چې له مكر او گټو اخيستلو سره سره بيا هم پاتې وي، لكه: ځمكه،كور.

## څلورم مطلب: د اقتصاد او د نظامونو پېژندنه او اړوند وضاحت

لومړی جز: اقتصاد په دوه ۲ قسمه دي، ۱: فردي اقتصاد هغه وي چې یو کس په خپله سعیه او کوشش سره څه تولید کړي، ۲: اجتماعي اقتصاد هغه دی چې یو ملت په هغې کې شریک وي،لکه: معدتونه،زکاة،عشر...

دوهم جز: اقتصاد دری ۳ نظامونه لري، ۱: پانګوال نظام منابع لکه:کار، ځمکه،پانګه،اداره ۲: اشتراکي نظام منابع لکه:ځمکه،کار سعـــــــــیه او کوشش د انسان ۳: اسلامي نظام منابع لکه: کار،ځمکه،انسان.

دریم جز: کاپیتالیزم سرمایه داري نظام: دی کې هر کس په ازاده ډول سره کولاې شي چې خپل ټول وسایل او کـــــــــــــــــــوښښ په لار واچوي،مال او شتمني پرې لاسته راوړي.

څلورم جز: د اسلام اقتصاد عقیدوي بنسټ دا دی چـــــــــــې د ټولو کایناتو مالک الله دي، لله ملک السموات و الارض و ما فیهن، اقتصادي بنسټونه: ۱: په رواه ډول په ځانګړي ډول ملکیت اعتراف کول، د اسلامي حکومت تابش منابع: زکوة

## پنځم مطلب: د زکوة پیژندنه او اړوند وشاحت

لومړی جز: زکوة اصطلاحي تعریف: امام مالک رح په نیزد سره: اخراج جزء من مال مخصوصٍ.

امام صاحب رح وایې چې زکوة: تملیک مال جزء مال مخـــــــــــــصوصٍ. امام شافعی رح وایې چې زکاة:بانهااسم لما یخرج عن مال وبـــــدن.

احمد بن حنبل رح وایې چې زکاة: هو انها حق واجب في مال مخصوص

دوهم جز: په کمونیزم نظام کې دولت د ټولو اقتصادی چارو څښتن ګـــــــــــــــڼل کیږي، هیڅ کس نشي کولاې چې د مال څښتن شي، هر انسان مکلف دی چې د خپل وس کار وکړي او ضرورت پوره کړي.

## شپږم مطلب: د سرو او سپینو زرو نصاب او هم د عشر اړوند وضاحت

لومړی جز: د سرو زرو نصاب شل ۲۰ مثقاله دی او ۷،۵۰ تولی دی، امام صاحب رح وایې چې یو مثقال دی ۰۴،۰۸ ګرامه دی، او جمهور وایې چې ۲۰ شل مثقاله دی او ۹۱ ګرامه دی، د سپینو زرو نصاب ۲۰۰ شرعي درهم دي.

دوهم جز: عشر په اصل کې لسمې ۱۰ حصي ته وایې نو دا په دوه قسمه دي: ۱ باراني ځمکه ۲ د ماشین په واسطه سره، او امام صاحب رح وایې چې دیکې اندازه نشته دی چې لګ وي او که ډیر وي عشر او نصف عشر راځي په کې، او صاحبین رح هما وایې چې لیس في مادون خمسه اوسق.

دریم جز: امام مالک رح وایې چې خمس برخه ټوله بیـــــــــت المال اخلي.

څلورم جز: فئ هغه مال ته وایې چې مسلمانان د اهــــــــــل حرب څخه بغیر د جنګ څخه لاسته راوړي.

پنځم جز: خراج په لغت کې کرایه ته وایــــــــې او د مال هغې برخې ته وایې چې خلک یې په کال کې د خپلې ځمکي په بدل کې ورکـــــــــوي.

شپږم جز: عشر او خراج دواړه یو شی دي، د جمهورو په نیزد سره عشر په کې راځي، او امام صاحب رح وایې چې هر یو بیل دی، خراجي ځمکه هغه ده چې د زور یا د سولــــــــــــي له لاري نیول شوي وي.

## اووم مطلب: د طبعي منابعو او د شفعی اړوند وضاحت

لومړی جز: طبعي منابع: ۱ معدن ۲ رکاز ۳ خزانه.

دوهم جز: امام صاحب رح وایې چې ګاونډي د شفعی حق لـــــــــــري، او امام شافعي رح او احمد رح وایې چې نه یې لري د شفعي حق.

دریم جز: ارکان د شفعي: ۱ طلب کونکی د شفع یعنی شفیع، ۲ سبب د شفعی یعني ګاونډي، ۳ مشفوع به یعنی ځمکه د شفعی، ۴ مشفوع فیه ۵ مشفوع علـــــــیه، یعني په چا چې شفعه واقع شوېده.

# اصـــــــول فقه درس

## شلم فصل

## د اصول فقه بيان

### لومړی مبحث: د اصول فقه تعريفات

### لومړی مطلب: د اصول فقه پيژندنه او اړوند وضاحت

لومړی جز: عام تعريف: لفظ يستغرق جميع ما يصلح له بوضع واحد دفعت واحد من غير حصر، لکه: الرجال.

دوهم جز: تخصيص يواځي د عام د ځينو افرادو لپاره راځي.

دريم جز: لفظ د استعمال له مخې اقسام: ١ حقيقت، ٢ مـــــجاز، ٣ صريح، ۴ کنايه. مجاز: ديته وايې چې د يوې قرينې له امله حقيقی معنا نه اخيستـــــــل کيږي. کنايه: ديته وايې چې معنا مراده يې پټه وي او له قرينې نه پرته نه معلوميږي.

څلورم جز: نص هغه ته وايې چې په خپله ځان کې په يوه معنا دلالت کوي پرته له هرې قرينې څخه.

# پنځـم سمستر  درسونه، ایات الاحکام درس

## یوویشتم فصل

## د ایت الاحکام بیان

### لومړی مبحث: د غنیمت مال تشریح

### لومړی مطلب: د غنیمت مال پیژندنه او اړوند وضاحت

لومړی جز: یسئلونک عن الانفال قل الانفال لله... د اد اصحاب بدر په باره کې نازل شوی دی، او د الله په غنائمو کې به هیڅوک لاسوهنه ونه کې بغیر د رسول الله ص نه، په دې ایت کې جمهور وایې چې د محاکماتو څخه دې هیڅ شی نه دی منسوخ شوی او  الله ج اجمالا بحث کړی دی، بیا یې په تفصیل سره بحث وکړو، ځیني نور وایې چې دغه ایت په دغی ایت سره منسوخ شوی دی واعلما انما غنمتم من شیء... .

دوهم جز: امام خپل مشر کولای  شي چې مخکې د غنیمت نه مال تقسیم کړي  په مجاهدینو باندې، جمهور وایې چې او هم رسول الله ص په بدر کې اوویل چې: من قتل قتیلا فله کذا و کذا و من اسر اسیرا کذا و کذا، او امام مالک رح وایې چې تنفیل ته یې مکروه ویلي دي ځکه بیا خو دا دنیـــا په سر جګړه شوه  او تنفیل همدا دی.

دریم جز: ابن العربي وایې تنفیل په دوه ۲ قسمه دی: ۱ جایز دی چې له جګړي څخه وروسته مجاهدینو ته ورکول کیږي. ۲ مکروه دی چې مخکې له جګړي څخه یې تقسیم کـړي.

څلورم جز: امام مالک رح او امام صاحب رح وایې چې تنفیل به له خمس څخه ورکولای شي نه د اصل غنیمت څخه ځکه رسول الله ص وایې چې مال مما افا الله علیکم الاالخمس والخمس مردود علیکم، امام شافعي رح وایې چې تنفیل به د اصل غنیمت څخه ورکولای شي ځکه چې رسول ص وایې چې ما د ابو جهل سامان معاذ بن عمر ته ورکی، او بل په حنین کې ویـــــــــــلي وو: چې من قتل قتیلا له علیه بینه فله سلبه، ابن العربي وایې چې دا روایتونه یواځې قاتل د مقتول د سلب کولو باندې دلالت کوي.

پنځم جز: ابن العربي وایې چې د کافرانو د شوکت ماتولو لپاره او د هغو ضعیف کولو لپاره په لور باندې د یو کس یرغل کول رواه دي.

شپږم جز: (لذالقربی) نه مطلب دا دی چې د نبي ص خپـــــــــــــــلوان دي یعنې بني هاشم بن مطلب عبارت دی.

اووم جز: فیء هغه مال ته وایې چې بغیر د جـــــــــــــګړي څخه ونیول شي، د الله سهم دا معنا چې دا دې په کعبې شریفې باندې دې مصرف شي ( لله ای لبیت الله )، جمهور وایې چې دا دکلام پیل دی او له دې څخه مطلب تبرک دی.

اتم جز: امام صاحب رح او امام شافعي رح وايي چې خمس په دري ۳ ډلو ویشل کیږي: ۱ یتیمان، ۲ مسکینان، ۳ او په لاره کې د ســــــــــفر څخه پاتې کسان ځکه چې رسول الله ص د وفات څخه وروسته برخه باقي نه ده، امام مالــــــــک رح وايي چې خمس برخه به بیت المال ته تسلیم کړې.

نهم جز: والبدن جعلناها لکم من شعائرالله لکم فیها خیر... دا ایت هلته نازل شو چې کافران بت برستانو به غوا حلاله کړه د هغې غوښې به د کعبي شا او خوا کې را ویزاندې کړي او ويني به يې د کعبی په دیــــــــــــوالو باندې مخلي، نو اسلام چې کله راغي نو دا منعه شول.

لسم جز: بُدنَ هغه اوښ ته وايې چې هغه ښځه وي او که نر وي، امام صاحب رح وايي چې غوي ته هـــم وايې يعني مشترکه معنا ده، شوافع وايې چې حقيقت کې اوښ ته وايې نو غوای ته مجازا وايې.

یوولسم جز: الاکل من الحوم الهدی: امام صاحب رح او احمد رح وايي چې د تمتع او قران او له تطوع څخه خوراک کولای شي، او امام مالک رح وايي چې دواړو صورتونو کې خوراک کــــــــــولای شي که دا هدیه وي او که د سزا لپاره وي. مگر امام صاحب رح او احمد رح وايي چې د سزا لپاره وي نو بیا خوراک نشي کولای، او امام شافعي رح وايي چې خوراک يې نه دی رواه، او که د تطوع لپاره وي نو خيرات او خوراک يې رواه دی.

دولسم جز: امام صاحب رح وايي چې د فقيرانو لپاره خوراک ورکول او هديـــــــــــــه کول مستحب دي، او امام شافعي رح وايي چې نه بلکه واجب دي.

یوولسم جز: وقت الذبح ومکانه: امام شافعي رح وايي چې یوم النحــــــــــر او ایام التشریق دي، او امام مالک رح احمد رح امام صاحب رح وايي چې وقت الذبح که واجب وي او که نفلي وي نو د نحر ورځې دي.

دولسم جز: سورت النور: اجازه د داخلیدو لپاره د کور، و غضــــــی البصر، و حفظ الفرج، و حرمت الاختلاط من العفاف والستر، والطهارت النزاهت، صیانت الاسرت، او که چېرته دا عملي نه شي نو بیا حدونه دي: کحد القذف، کحد الزنا، و احکام اللــــــــــعان.

دیارلسم جز: و کتب عمر الی اهل کوفه: علمو نساءکم سورت النور، وقال العایشه رض لا تنزلوالنساء الغرف و علموهن سورت النور والعزلی.

## دوهم مطلب: د زنا پیژندنه او د هغې اړوند احکام او وضاحت

لومړی جز: الزاني لاينکح الا زانيه... د ايت د فاحشي عناق او مرثد غنوي باره کې نازل شولو.

دوهم جز: جلدت ــــــــــــ للزاني البکر، والرجم ــــــــــــــــ للزاني المحصن، غير متزوج لپاره ۱۰۰ دُري دي، او متزوج لپاره فجعلتها الرجم باالحجاره حتی الموت.

دريم جز: الزناء في صدر الاسلام: والتي ياتين الفاحشت من النساءکم فاالستشهدو ... فان شهدو فامسکوهن فی البیوت حتی یتوفاهن الموت ... او یجعل الله لهن سبیلا، نو دا احکام بیا دې سره منسوخ شول الزانيه والزاني فاجلدوا کل واحد...

څلورم جز: ځيني احکام عام دي نو هغه بيا خاص دي په سنت نبوي سره لکه: والسارق والسارقت... نو هره قطعه په حقير شي باندې نه راځي مگر چې راځي نو قيمت به يې لس ۱۰ درهم وي، يا ربعه دينار وي.

پنځم جز: د اهل ظواهرو په نيزد سره او امام احمد رح هم وايي چې رجم او جلد جمع کيږي دليل: دا عموم راغلی دی په ايت کې الزانيت والزاني ... نو الف جنس عموم لپاره راغلی دی، علي رض حين جلد ثم رجمها... او جمهور وايې چې يوازې رجم دی نه جلد دليل: بفعل النبي ص فقد تکرر الرجم في زمانه ولم يروه احدا انه جمع بينه وبين الرجم والجلد مگر د محصن لپاره الا الرجم.

شپږم جز: امام صاحب رح وايې چې د حد نه څه نفي کول نشته دی لپاره د زاني مگر سل ۱۰۰ دُري دي، او دا نفي کول صرف د امام کار دی، ان شاء غرب و ان شاء ترک دليل: ظاهر د ايت نه معلوم دی چې نفی نشته دی.

اووم جز: او که چېرته نفي وي نو بيا به نبی ص ويلي وو چې جلد هو جميع الحد، بل علي رض وای اذا زينا البکران فانهما يجلدان ولا ينفيان لان نفيهما فتنت لهما، جمهور وايې چې حد د ده چې کوم دی هغه سل ۱۰۰ دُري دي نو تغريب عام دی، دليل: عبادت بن صامت وايې چې البکر باالبکر جلدت مأت و تغريب عام، والثيب باالثيب جلد مأت والرجـــــــــــــــــــــــــــــــــــــم.

اتم جز: امام شافعي رح او احمد رح وايې چې تغريب شامليږي ښځې ته هم يعني دا نفيه عامه ده هم سړي ته او هم ښځې ته فتغرب المرأة مع المحرم و اجرته عليها، او جمهور مالـــــــــــــــک او اوزاعي وايې چې دا تغريب صرف سړي لپاره خاص دی دليل: البکر باالبکر ...، ابن کثير وايې چې ان الزاني اما ان يکون بکرا او محصنا فانه مأت جلدت و يزاد علی ذالک ان يغرب عام عن بلـــــــــــــده عند الجمهور خلافا ابو حنيفه فانه تغريب الی رأی الامام ان شاء غرب و ان شاء لم يغرب.

نهم جز: امام صاحب رح وايې چې د ذمي محصن لپاره صرف جلد دی، امام شافعي رح او احمد رح وايې چې حد يې رجم دی، نو دلته ترجيح دوهم قمل ته ده.

لسم جز: تنفيه الاقامت الحدود نو اتفاق د علماء دی چې هغـــــــــــــــه د حدودو اقامه بايد په اصيل سړي باندې وکړي يا امام، يا قاضي، يا ولي. هر چې غـــــــــــــــــلام دی نو امام شافعي رح مالک رح او احمد رح وايې چې په غلام باندې اقامه د حدودو هغه به صرف سيد کوي، امام صاحب رح وايې چې اقامه د حدودو صرف امام کولای شي ولا يملک السيد الا باذن الامام.

يوولسم جز: امام شافعي رح او مالک رح وايې چې ټول حدود يو شان دي، مگر امام صاحب رح وايې چې د شرابو حد سخت وي او د زنا بيا د هغې نه سخت وي او بيا د شرابو حد د تور لگولو نه سخت وي.

دولسم جز: الاعضاء التي فی الحد هی: وجه، والعورت، والمقاتل ځایونو باندې. مګر امام احمد رح وایې چې جامي به ورنه ویستلې شي او د هر اندام حق به اداء کړي مګر په سر او مخ باندې به وهل نه کوي، امام صاحب رح وایې چې سر، مخ، تناسلي اله باندې به وهل نه کوي، امام مالک رح وایې چې یوازي به په شاه وهل کیږي دلیل: لبینت اوالحد علی ظهرک، امام شافعي رح وایې چې مخ، او عورت باندې به نه وهل کیږي، امام ابویـــــــــــــوسف رح او شافعي رح وایې چې سر باندې به وهل کیږي، مګر جمهور وایې چې په سر باندې به نه وهل کیږي.

دیارلسم جز: حدودو څخه شفاعت رواه نه دی: الله وایې چې ولا تأخذكم بهما رأفت في دين الله، نو سعیـــــــــــد ابن مسیب وایې چې رأفت نه مراد تخفیف دی، مجاهد رح او شعبي رح چې دلته مراد ساقطول د حدونو دي، ابن العربي وایې چې دلته تخفیف مراد دی.

څوارلسم جز: مجاهد رح وایې چې حضور الحد و شهوده یو کس یا د دې څخه زیات کسان حاضریدل دي، عکرمه وایې چې دوه کسان یا د دوو څخه زیات، امام زهري رح وایې چې درې ۳ یا د دریو زیات، ابن عباس وایې چې زنا ګواهان څلور دي.

پنځلسم جز: کمساحقه د دوو ښځو تر مینځ تر سره کیږي د دې سزا صرف تعزیر دی، او اتیان البهایم سزا یې صرف جممهور  وایې چې سزا یې تعزیر ده، او امام محمد رح وایې چې سزا یې د لواطت په شان ده یعنی فاعل او څاروي دواړه وژل کیږي، حکم الواطت: امام مالک شافعي رح احمد رح اومالک رح وایې چې باالقتل مطلقا حده سواء کان بکرا، ثیبا، فاعلا، مفعولا. دلیل: من وجدتموه یعمل من عمل لوط ع فاقتلو الفاعل والمفعول به. کیفیت القتل: ۱ یهدم علیه جداره، ۲ یرجم.

شپاړسم جز: امــــام شافعي رح وایې چې  ان الواطت حده کحدالزناء یجلد البکر، و یرجم المحصن، او امام صاحب رح وایې چې فاعل یعني ان الواطت جریمت غظیمت فلا یکون کا الزناء وانـــــــما فيه التعزير.

اولسم جز: جمهور وایې چې اتحاد المجلس بأشهدو مجتمعین فان جاءو متـــــــــــــــفرقین لا تقبل الشهادت و هو مذهب الجمهور .

اتلسم جز: مذهب الجمهور جواز الزواج باالزانیه بغیر عفیفت النساء دلیل: واحرام لایحرم الحلال، عایشه او ابن عباس رض وایې چې حرمت الزواج باالزانیه لاینکـــــــــــــح الزاني الا زانیه او مشرکه وحرم ذالک علی المؤمنین.

## النظریت الملـکیه درس

## یوویشتم فصل

## النظرية الملكية بيان

### لومړی مبحث: د مالونو تشریح

### لومړی مطلب: د مالونو پیژندنه آو د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: هغه مالونه چې د یو کس په ملک کې نه شي داخلیدائ هغه ته عام المنفعت وایې، بل هغه ډول مالونه چې د هیچا په ملک کې نه شې راتلائ مګر که شرعي جواز ولري لکه د حج اوقافو ځمکې.

دوهم جز: ملک ذات او هم منفعت وي لکه غوا، موټر شو ، یا ملک یواځې د ذات وي نه منفعت وي لکه ځمکه په کرایه ورکول، والملک فی اللغت: ساتنه د انسان مال لره ده او حاکمیت به هم وربانديږ ولري یعنې حاکمیت دا معنا چې هبه، خرڅول، ضایع کول دا ټول کولائ شي.

دریم جز: شرعي مانع په مال کې دا دی چې کاالجنون، اوالعته، اوالسفه، اوالصغر، او بیګانه سړی ستا په مال کې تصرف کولای شي دا په هغه وخت کې چې کله مسوغ شرعي ولري: کاالولایه، والوصیت، والوقاله.

دوهم مطلب: د ملک پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: انواع الملک: ۱ اول: تام الملک، دا هغه دی چې عیـــــــــــــــن د شي او ذات د شي دواړه د یو کس وي لکه خپل کور چې اوسیګې او په دې کې هر قسم تصرف کولای شي. ۲ دوهم: ملک ناقص، دا هغه دی چې یا عین د شي او یا منفعت د شي د سړې په اختیار کې وي لکه کرایه کور نو دا د خرڅولو حق نه لري.

دوهم جز: د ملک تام خصوصیتونه: ۱ اول: ملک تام محدود زماني پورې نه مقید کیږي، ۲ دوهم: اسقاط نه قبلوي، ۳ دریم: نقل نه قبلوي.

دریم جز: د خپل مال هلاکولو لپاره سړی ضامن نه دی، اما دیانتا ضامن دی ځکه اتلاف د مال حرام دی، نو معلومه شوه چې ضامن+ملک= نو دا نه جمـــــــــــــــــــــــع کیږي.

څلورم جز: ملک الناقص په دوه قسمه دی: ۱ اول: ملک العین، ۲ دوهم: ملک المنفعت الشخص او حق الانتفاع.

پنځم جز: منافع د میراث: داسې وي چـــــــــــــــې لکه وقفي شیان یا لکه مؤقتي شیان شول په کور کې اوسیدل شول چې حد یې ذکـــــــــــــــــر وي. اسباب خمسه: اعاره، اجاره، وصیت، وقف، ابحت.

پنځم جز: اعاره دیته وایې چې امام صاحب رح جمهور او مالک رح وایې چې دا مالک وي د منفعت خو بـــــــــــغیر د عوض ځخه په اعاره کې مالک هر وخت کولای شي چې عقد فسخه کړي نه په اجاره کې ځکه اجاره کې موده تعین شوی ده، و عند الشافعي رح او حنابله رح وایې چې دا منفعت حاصلول دي بلا عوض توګه سره نو بیا بل چاته یې نشي ورکولای، یعنې په خپله به تری استفاده کوي.

شپږم جز: اجاره تعریف: تملیک د منفعت دی په عوض سره او مستجیر لره رواه دي چې یواځې ترینه استفاده وکې نه بل چاته ځکه چې دا په عوض سره اخیستل شوی دی.

اووم جز: وقف تعریف: حبس کول د عین دي د هغه تملیک څخه چې د هیچا لپاره یې تملیک نه ثابتیګي چا لپاره چې وقف کړی وي هماغه به ترېنه استفاده کوي بس.

اتم جز: وصیت تعریف: چې فایده حاصلول وي فقط د ملکیت څخه په څه چې وصیت کړی وي.

نهم جز: اباحت تعریف: منفعت حاصلول دي خو د مالک په اجازې سره.

دریم مطلب: د حق المنفعت او د ارتفاقي حقوقو اړوند وضاحت

لومړی جز: حق المنفعت: دا حق موءقت دی چې معلومه نیټه یې معلومه کړي وي، هغه مستفـــــــــــــید شی چې هلاک شو، وفات منتفع، امام مالک رح وایې چې دا اعاره عقد لازمې دی چې کله یې وخت ورسره تعین کړی وي نو بیا لازمې دی، امامان جمهور وایې چې دا اعاره چې ده چې دا په مرګ د مستعیر او معیر پای ته نه رسیګي، همدارنګه اجاره هم ده، ځکه چـــــــــــــې دا عقد لازمې دی کاالبیع.

دوهم جز: ارتفاقي حقوقو ځانګړتیاوې: عام احکام: کله چـــــــــــــــــې ارتفاقي حقوق پای ته ورسیږي او په ثبوت ورسیګي نو باقي پاتي کیږي تر څو چې ضرر مرتب نه شي.

دریم جز: اسباب ملک تام د شرعیت له نګاه نـــــــــــه: استیلاء علی المباح، عقود، خلیفیت، والتولد من الشیء المملوک. او د قانون له مخې استــــــــــــیلاء هغه شی چې مالک نه لري، میراث او تصفیه د ترکې، وصت، عقد، التصاق عـــــــــــلی العقار و منقول باندې، حیازت.

څلورم جز: استیلاء علی المباح شرایط: دا به مخکې د چا تصرف کې نه وي، دلیل: من سبق الی مالم یسبقه الیه مسلمم فهو له، بل دا چې قصد التملک ولري په کې.

پنځم جز: امام صاحب رح وایې چې من احیا ارضا میتت فهو له، خو په اجازې د حاکم سره، او جمهور وایې چې اجازې د حاکم ته ضرورت نشته دی.

شپږم جز: کنز هغه دی چې خلکو په ځمکه کې پټ کړی وي دا په دوه قسمه دي: ۱ اول: رکاز: چې دا هـــــغه دی چې د جاهلیت په وخت کې پټ کړي وي او بل ۲ دوهم: دا بیا د دې خلاف دی... بیا دا دواړه د احافو په نیزد سره دیته

رکاز وايې. او د دې حکم دا دی: چې خمس په کې دی او امام مـــــــــالک رح او امام شافعي رح او امام احمد بن حنبل رح وايې چې معدن په اسلام کې چا ښخ کړي دي، او رکاز په جاهليت کې.

اووم جز: امام مالک رح وايې چې ټول معادن انواع چې کوم دي هغه په تـــــــــــملک د استيلاء سره نه راځي بلکه دا په دولت کې حسابيږي لکه ځمکه. احناف وايې چې معادن چې کوم دي هغه په ملکيت کې راځي خو په ملکيت د ځمکې سره ځکه چې ځمکه د چا په ملکيت کې راغله نو هر سه سره د هغه شو يعني د ټولو اجزاو سره، او که دا په دولتي ځمکه کې پيدا شوه نو دا بيا د دولت ده، او که چېرته غير مملوکه ځمکه کې پيدا شوه نو بيا د هغه چا دي چې چا پيدا کړه.

اتم جز: شوافعو په نيزد سره د ځمکې په ژوندې کولو سره معادن باطنه د ده په ملکيت کې راځي، او حنابله وايې چې معادن جامده د ده په ملکيت کې راځي که چېرته يې ژوندۍ کوله. معادن په دوه قسمه دي: ١ جامد ٢ مايع، بيا جامد په دوه قسمه دي ١ اول: يو هغه دی چې هغه باندې سکه وهل کيږي لکه سره زر سپين زر... ديکې خمس دی، ٢ دوهم: بل د دې خلاف دی لکه ډبري او ياقوت.

نهم جز: په معادنو کې دولت لپاره خمس دی، دا قول د امام صاحب رح دی، او امام شافعي رح وايې چې واجب نه دی په معادنو کې د دولت لپاره مگر په زکـــــــــــــات کې شته دي برخه.

لسم جز: کنز جاهلي کې ټول اتفاق لري خمس بـــــــــيت المال لره دی.

يوولسم جز: عقود ناقله: کاالبيع، والوصيت، والهبه، په شفعه کې د احنافو په نيزد سره چې دا حق د جار دی او هم د شريک دی لپاره دې هغه جار چې تنبتيدلی وي، او جمهور وايې چې دا حق صرف د شريک لپاره دی.

دولسم جز: الخليفه: دا هغه ته وايې چې نيابت دی يعنی: الخليفه الشخص عن الشخص و هی الارث، بل دا دی چې خليفت الشيء عن الشيء و هی التضمين.

ديارلسم جز: ضرر اقسام: ١ اول هغه دی چې په واقعې ډول سره کيږي، ٢ دوهم: بل هغه ضرر دی چې غالبا واقع کيږي، ٣ دريم: ضرر کثـــــــــــير وي خو غالب نه وي، او ضرر قليل وي.

څوارلسم جز: ١= هغه اموال چې خاص ملکيت کې نه راځي لکه: مساجد، مدرسي، انهار، طرق العامه، بل ٢= دا دی چې هغه اموال چې د الله په خلقت سره خپله پيدا شوي وي لکه: معادن، نقط، احجار، والکلاء، والنار.٣= هغه اموال چې د هغې ملکيت د افرادو څخه دولت ته ورگرځي لکه اموال الضايعه، چې مالک و نه لري يا هغه ديد هغې موارث نه وي لکه: حديث شريف دی چې بيت المال وارث لمن لا وارث له.

پنځلسم جز: هغه ځمکې چې د هغې ملکيت حاصل وي په زور او قهر سره، نو دلته حکم دا دی: چې امام مالک رح وايې چې په مـــــــــــجرد استيلاء سره د ځمکې مالکان دا مسلمانان دي يعنی اسلامي دولت دی، حنابله او شيعه

او زایده او امامیه وایې چې د محاربینو ملکیت له لاسه لاړونو دا اوس داسې شو لکه مباح مال که هر چا لاس ور واچولو نو د هغه کس دی دلیل من سبق الی من یسبقه الیه فهو له.

شپاړسم جز: هغه ځمکې چې غلبه پرې حاصله وي د هغې مالک د امام صاحب رح او زایدیه په نیزد سره امام په اختیار کې دی چې دا ځمکې تقسیموي او که د هغې اهل ته یې مقرره وي، جمهور صحابه شافعیه او ظاهریه وایې چې د دې ملکیت مسلمانانو ته ورځي لکه: غنیمتونه، امام مالک رح وایې چې دا ځمکه به وقف وګرځي لپاره د مسلمانانو، امام احمد رح وایې چې امام به هغه کار کوي چې هغه ډیر غوره وي، شوافع وایې چې د دې ځمکو تقسیم واجب دی په امام باندې، امام صاحب رح وایې چې په کوم شی کې چې تقسیم زیات وي یعنې مصلحت زیات وو نو هغه مکار دی امام وکړي.

اولسم جز: هغه ځمکې چې د خوف له امله ترې خلک وتلي دي نو دا ځمکه په فيَ کې راځي بعضي فقهاء وایې چې دا ځمکه په حکم د وقف کې ده، مګر شوافع او حنابله وایې چې د امام اجازي ته ضرورت لري، جمهور وایې چې منقولات هم وقف کیږي نو دا منقولات به مصرف کیږي د مسلمانانو ګټې لپــــــــــاره او دا کار امام ته سپارل شوی دی، شوافع وایې چې منقول به خمس کیږي په شان د غنــــــــیمت سره.

اتلسم جز: هغه ځمکې چې په داخل د دولت کې دي: ۱ مملوکه چې مرافق د مملوکي وي لکه عــــــــــامره ځمکه، ۲ و خراب: بله هغه ځمکه ده چې دا د هغې خلاف وي، ۳ ارض مباحت: هغه ځمــــــــــکه چې مباح وي لکه د مرافقو ځمکه یعنې د ښار څخه وي، ۴ بل د مرافقو د ښار څخــــــــــه نه وي.

نولسم جز: معروفه ځمکه: التي انقطع ماءها او لم تستغل یسکــــــــــنا او استثمار ... او په دې باندې ډیره زمانه تیره شوي وي.

شلم جز: حریم بحث: احناف وایې چې حریم د بــــــــــــئر چې کوم دی هغه ۴۰ زراعه دی، او صاحبین وایې چې ستون زراعا، او حریم د نهر چې کوم دی ابوسوسف رح وایې چې د ویالي نیمایې دي ۱ـ۲ ځمکه دومره اندازه حریم دی، او امام محمد رح وایې چې هر طرفته بر د ویالی دا حریم دی.

یوویشتم جز: مړه ځمکه د امام صاحب رح په نیزد سره چې کښت په کې متعذر وي، شوافع وایې اباده نه وي او نه د ابادی ځمکې حریم وي.

دویشتم جز: د ځمکې د ابادولو لپاره په عرف کې پنځه اسباب وجود لري: د ځمکې پاکول، د ککښت أباره اماده کول، یو حایط دیوال چاپیرول، ژور خندق استل، د اوبو لاره ویستل.

درویشتم جز: هغه ځمکې چې هغې کې د تیرو خلکو اثار معلوم شي لکه د روم اوثمودیانو نو د دې لپاره د ځمکې ژوندې کولو سره مالک ګرځیدای شي دا قول د مذهب اربعه دی.

ځلرویشتم جز: هغه ځمکې چې په اسلام کې مسلمان اباده کړي وي او یا ذمي خو غیر معین وي نو په دواړو حالتونو کې مالک معلوم نه وي. احناف او مالکیان وایې چې څوک یې ژوندۍ کړي هغه مالک گرځي، شوافع وایې چې دا ضایـــــــــــــع مال دی د حاکم اجازې ته ضرورت لري او سپارل شوی دی، او حنــــــــــــــــــابله وایې چې په احیا سره یې څوک مالک کیدای نه شي.

پنځه ویشتم جز: د ژوندي کوبو لپاره کیفیت او طریقي: امام صاحب رح وایې: ۱ کور جوړول، ۲ نیالگي کینول،۳ قلبه کول،۴ احاطه کول،۵ د اوبو ځاه ایستل=== امام محمد رح وایې: چې ۱ د اوبو ویاله ایستل=== مالکیان وایې: چې۱ کور جوړول ۲ نیالگي کینول ۳ زراعت کول ۴ قلبه کول ۵ ځاه ایستل.==

شپږویشتم جز: اراء المذاهب فی الموات القابل للاحیاء: ۱ مذ هب الحنفیه: چې د ښار د ځمکو نه به لري وي. ۲ مذ هب المالکیه: چې هغې کې ابادیانی نه وي. ۳ مذهب الشافعیه: چې اباده نه وي او نه ورته خاص حریم وي. ۴ مذهب الحنابله: چې مالک و نه لري، اوبه و نه لري، او ابادي و نه لري. نو دا ځمکې د ابادولو قابلیت لري.

اوویشتم جز: حنابله وایې چې ځمکه ژوندې کولو دیته وایې چې مانــــــــــع دیوال حایط پرې را وگرځوي دلیل: من احاط حایطا علی ارض فهو له.

اته ویشتم جز: یحصل الاحیاء باالتحجیر قال الحنفیه: نو دا احیاء د ځمکې نه دي کچېرته دا دیوال یعنې تحجیر دری ۳ کاله دی یعنې لیس لمحتجر بعد ثلاث سنین حق.

نهه ویشتم جز: امام مالک رح وایې چې دا دواړه قولونه یو شی دي یعنې دا قول د عمر رض دی.

## فقه هدایه کتـــــــاب الدعوه درس

## دوه ویشتم فصل

## کتاب الدعوه بیان

### لومړی مبحث: د دعوه تعریف او تشریح

### لومړی مطلب: د دعوه پیژندنه او د دې اړوند وضاحت

لومړی جز: دعوه په لغت کې د حق غوښتنی ته وایې او په اصطلاح کې طلب کول د حـــــــــــــــق دي د بل شخص څخه د قاضي په وړاندې لکه د کتاب دعوه کول، حکم: قول د رجل دی د احنافو په نیزد سره.

دوهم جز: شروط: یې دا دي چې مدعي او علیه پیژندل، او دا تمیز کړل دي، لکه عقل په کار اچول، د قاضي په مجلی کې وي، حاضرین به وي دواړه یعنی مدعي او علیه، مدعي علیها به معلوم وي، تناقض به نه وي.

دریم جز: دعوه په دوه قسمه ده: ۱ فاسده دعوه دا دیته وایې چې د صحیحې دعوه خلاف وي، ۲ صحیحه دعوه: دا هغه ته وایې چې دا پاس شرایط په کې وي.

څلورم جز: الفرق بین المدعي والمدعي علیه: رسول الله ص وایې چې البینت علی المدعي والیمین علی من انکر، و قال محمد رح: فی الاصل چې مدعي هغه دی چې منکر وي ځکه چې حدیث کې وایې چې: والیمین علی من انکر.

پنځم جز: د دعوه د قبول شرایط: کله چې علیها مقدر او جنس ذکر کړي چې زما په فلاني باندې ۱۰۰ درهم دي د مدعي علیه په قبضه کې مال عین منقول وي و یتعلق باالدعوه وجوب الحضور (مال منقول) او کله چې حاضر وي نو په هغه باندې نعم یا لا سره جواب لازمي دی. که چېرته دغه مال غیر منقول وي لکه ځمکه وي نو د هغې حدود به معلوم وي او بیان کړي وي نو هغه شی مدعي علیه قبضه کړي وي او بل مطالبه به کوي حدود د مالکانو نوم نسب نیکه دا ذکر کول ضروري دي.

شپږم جز: گواهی کې هم حدود بیانول شرط دی، و فی العقار لایکتفی: نو په عقاري مالونو کې د مدعی بیانولو او مدعي علیه په تصدیق کولو به اکتفاء نشي کولای بلکه د بینه سره به د مدعي علیه قبضه ثابتول ضروري دي

### دوهم مطلب: د یمین پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: باب الیمین: نو کله چې مدعي د بینه نه عاجزه شي او مدعي علیه د دعوه نه انکار وکړي او قسم مطالبه وکړي نو قسم پرې واجب دی امام صاحب رح وایې چې د مدعي علیه نه به قسم اخیستلای شي چې زما گواهان په دې

ښار کې حاضر دي نو دا صحیح نه دی دلیل: ان ثبوت الحق فی العین مرتب علی المعجز عن اقامت البینه، امام ابویوسف رح وايې چې قاضـــــــــــــــي به د مدعي علیه نه به قسم اخیستلای شي دلیل: البینت علی المدعي والیمین علی من انـــــــــکر ولا ترد علی المدعي، امام شافعي رح وايې چې دا روایت امام احمد رح او مالک رح هم دی دوی وايې چې نو قسم به د مدعي طرفته منتقل کیږي.

دوهم جز: فاذا کرر الغرض علیه ثلاث مرات قضی علیه باالنکول.

دریم جز: تکرار د قسم د امام صاحب رح په نیزد سره د استحباب په صورت کې دی نه د شرط او واجب په صورت کې.

څلورم جز: فاما المذهب الثلاثه انه لو قضی باالنکول بعد العرض مرت جاز لما قدمناه دلیل: چې مدعي علیه انکار وکړو نو مدعي ب په بهادرۍ سره ورکول غـــــــــــــــواړي یا د مدعي د دعوه اقرار غواړي.

پنځم جز: ثم النکول قد یکون حقیقتا و قد یکون حکمیا: ۱ حقیقیا: د قاضي د پیش کولو نه وروسته علیه انکار وکړو چې قسم نه خورم. ۲ حکمیا: دیکې سکوت وکړي څنګه چې د حقیقی انکار حکم دی نو همدا رنګه هم د دې حکم هم داسې دی.

شپږم جز: نهه شیان دی چې دی ځای کې د منـــــــــــــکر نه قسم نه شی اخیستی د امام صاحب رح په نیزد سره: نکاح، رجعت، ایلاء، رقیت، استیــــــــــلاء، نسب، ولاء، حدود، لعان...

اووم جز: وقال الصاحبین رح هما یستحلف في کله الا فی الحدود واللعان دلیل: مدعي علیه د منکر نه قسم اخیستل او د هغه انکار کول یو قسم له مدعي د دعوه څخه انکار کول یعنی باالکل دروغجن دی، او د مدعي د دعـــــــــــــوه اقرار کول دي.

اتم جز: ویستحلف الســــــــــــــارق امام محمد رح وايې چې که مسروق منه نه د سارق نه مال اخیستل غواړي او د لاس کټ کاوو اراده يې نه وي نو د غل څخه به قسم اخیستل کیږي او غل به په دې الفاظو ســــــــــــره قسم کوي (چې په الله قسم د دې مسروق منه په ما باندې مال نشته دی) که غل قسم اوخوړلو نو غل باندې مال واجب نه دی او نه قطعه د ید، او که غل انکار وکړو د قسم څخه نو د مال ضــــــــامن دی خو په دې شرط چې قطعه د ید پری نشته دی.

نهم جز: که په دغه غل باندې یو سړي او دوه ښخو شاهدي ورکړه نو بیا پرې حد نه واجبیږي او مال پرې ثابتیږي که ښځي بعد الدخول یا قبل الدخول دعوه وکړه نو میړه يې منکر وو نو که قســـــــم يې اوکړو نو بیا طلاق نه واقع کیږي او که انکار يې وکړو نو بیا به مطلقه شمارل کیــــــــــــــږي.

لسم جز: طلاق بعد الدخول کې صرف په خاوند باندې نیم مــــــــــــــــــهر واجب دی، و انما یستحلف فی النسب المجرد عندهما.

یوولسم جز: د دعوه شرطونه: مدعي او علیه دواړه به بلغین او عاقلین وي.

دولسم جز: و من ادعی  قصاصا علی غیره: که یو سړي په بل باندې د قصاص دعوه وکړه او علیه د دې نه انکاري شو او مدعي بینه هم قایمه نه کړه نو د علیه څخه باالاجماع قسم اخیستلای شي، که دا دعوه د نفس قصاص وه او که د نفس نه کم د قصاص وه که قسم یې و خوړلو نو قصاص به ترې لرې کیږي او که انکار یې وکړو نو بیا قصاص لازم دی په دې شرط چې ده قصدا جرم کړی وي، یـــــــــــاران وایې چې په انکار د قسم سره په نفس او ما دون النفس دواړو کې مدعي علیه باندې دیـــــــــت لازم دی.

## دریم مطلب: د کفالة باالنفس پیژندنی او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز:  که مدعي د قاضي مجلس کې اویل چې زما گواهان په ښار کې موجود دي نو مدعي علیه ته به حکم ورکولای شي چې دری ۳ ورځې لپاره د خپل ذات کفیل ورکړي.

دوهم جز: والکفالت باالنفس جایز عندنا، امام شافعي رح وایې چې  غیر جایز، که مدعي صرف دعوه وکړه او بینه یې پیش نه کړه نو صرف په دعوه باندې د مدعي علیه نه کفیل اخیستلای نه شی.

دریم جز: والتقدیر باالکفالت عند ابي حنیفه رح ثلاثت ایام وقال ابو بویوسف رح تقدیر باالکفالت عند قیام حضور القاضي کیفیت الیمین والاستحلاف: چې قسم د الله په نومونو سره هر نوم باندې کیږي د بل چا نوم باندې قسم نه کیږي قال رسول ص: من حلف بغیر الله فقد اشرک.

## څلورم مطلب: د استحلاف او د څرنگوالي وضاحت

لومړی جز:  ولا یستحلف باالطلاق، ولا باالعتاق د دعوه صحیح کیدلو او نه صحیح کیـــدلو بعضي وایې چې نه که چېرته دا جگړه مار ښکاره کېدو نو بیا دا قسم ورکولای شي په طلاق او عتاق کېځکه چې دې کې اکثر خلک د فسق په وجه د الله نه کم یریږي نو د دروغو قسم څخه منع کیږي.

دوهم جز: ویستحلف باالله الیهود الذي انزل التورات علی موسی، والنصرانیه باالله دلیل: قال رسول ص لابن صوریا الاعور انشدک باالله الذي انزل التورات علی موسی ان حکم زنا في کتابکم هذا.

دریم جز: و یستحلف المجوسی، کیفیت القسم المجوسي: باالله الذي خلق النار دا قول د امام محمد رح دی، او امام صاحب رح وایې چې  قاضي به صرف به د علیه څخه به د الله په نوم باندې قسم اخیستلای شي، که هغه یهود وي او که د بل دین والا وي، که نصراني یا مجوسي وي دلیل: من حلف بغیرالله فقد اشرک.

څلورم جز: والوثنی لا یحلف باالله لان الکفر بأسرهم یعتقدون الله تعالی، ولا یحلفون في بیوت عبادتهم، و یستحلف فی الغضب باالله او علیه انکار وکړو نو که مدعي سره بینه نه وي نو بیا قسم په دې طریقه سره کیږي: چې په خدای قسم دا مدعي ما باندې د مغضوب شـــــــــــي واپس کوو حق نه لري.

پنځم جز: که مدعي سره بینه نه وي بیا د علیه څخه د حاصل مـــراد سره قسم اخیستل کیږي او که بینه وه نو بیا به ورنه په سبب سره قسم اخیستلای شي.

شپږم جز: و من ورث عبدا: که یو سړی په مـــــــــــــــــیراث کې یو غلام حاصل کړو او په دې باندې بل سړي د خپل ملکیت دعوه وکړه او مدعي سره بینه نه وه نو د علیه نه به د ده په علم باندې قسم اخیستلای شي، فاان وهب له او اشترى یحلف على الثبات.

اووم جز: تحالف: په یوه قضیه کې مدعي او علیه دواړو ته به قسم ورکړل شي نو دیته تحالف وایې.

اتم جز: فاان هلک المبیع ثم اختلفا لم یتحالفا عند ابي حنیفه رح وابی یوسف رح، وقال محمد رح والشافعی رح یتحالفان و یفسح البیع على قیمت الهلاک.

نهم جز: و ان هلک احدالعبدین ثم اختلفا فی الثمن: امام صاحب رح وایې چې دلته تحالف نه کیږي، امام ابویوسف رح چې د ژوندي غلام باره کې قسم به ورکولای شي، امام محمد رح وایې چې د دواړو باره کې به قسم اخیستلای شي.

لسم جز: واذا اختلفا الزوجان فی المهر نو زوج دعوه وکړه چې ما د دې سره په الف ۱۰۰۰ سره نکاح کړې ده او ښځې اویل چې اثنـــــــــــان الف ۲۰۰۰ سره نکاح کړې ده نو که هر چا سره بینه وه نو د هغه لپاره به فیصله کیږي خو په شرط د دې چې د دې ښځې مهر مثل د ښځې دعوه نه کم وي که یو هم بینـــــــــــــــــه و نه لرله نو بیا به تحالف ورکول کیږي.

یوولسم جز: و اذا اختلفا المولی والمکاتب في مال الکتابت: نو امام صاحب رح وایې چې په دواړو باندې تحالف نه راځي بلکه د مکاتب قول به مع الیمین معتبر وي، صاحبین وایې چې تحالـــــــــــــف واجب دی او تحالف نه وروسته عقد کتابت فسخه کولای شي، همدا قول: د امـــــــــــــام شافعي رحرح هم دی.

دولسم جز: کتابت په شان د عقد معاوضي دی چې فسخه قبلوي، دا قول د صاححبینو رح دی نو دا د بیعې مشابه شو.

دیارلسم جز: و اذا اختلفا الزوجان في متاع البیت فیما یصلح الرجل فهو للرجل کاالعمامت، وما یصلح للنساء فهو للمرأت کالوقایه: دا هغه ته وایې چې پټو، څادر، سرپیچک، سرتړونی== وما یصلح لهما کالانیه، فهو للرجل لان المرأت وما في یدها کلها للزوج.

څوارلسم جز: فاان مات احدهما وختلف ورثت مع الاخر فما یصلح للرجل والنساء مع الاخر فهو للباقي منهما دا قول د امام صاحب رح دی، او امام ابویوسف رح وایې چې هغه سامان چې ښځې د خپل کـــــور نه راوړي وي نو هغه د ښځې دي، او باقي سامان په اړه به د خاوند نه قسم اخیستلای شي، او کوم شیان چې د دواړومشترک وي هغه به د خاوند وي که خاوند ژوندی وي او که مړ وي نو د خاوند وارثان به یې اخلي دا قول د امام محمـــــــــــــــــد رح دی.

پنځلسم جز: دو ان کان احدهما مملوکا فاالمتاع في حالت الحیات الحرى اقوا منه، او که مملوک ژوندى وي نو بيا د مملوک دي که حر مړوي دا قول د امام صاحب رح دى، او صاحبين وايي چې العبدالمأذون له فى التجارت والمکاتب بمنزلت الحرت.

شپاړسم جز: و اذا ادعا اثنان عينا في يد اخر کل واحدمنهما: دوه کسانو دعوه وکړه پر يو بل شي باندې د قابض څخه چې دا شي زما دى هر اوويل ، قاعده: کله مطلق ملکيت دعوه په داسې شي وه نو د خارج حجت يا بينه به مقدم وي دا قول د امام صاحب رح او د امام محمد رح دى، او امام مالک رح او امام شافعي رح وايي چې د قابض حجت به مقدم وي، او د طرفينو په نيزد سره که چېرته يو کس په ګواهۍ سره څه وخت بيان کړو نو د طرفينو په نيزد سره د خارج ګواهي بـــــــــــــه مقدم وي، امام ابويوسف رح وايي چې د هغه کس ګواهي قبوله ده چا چې وخت ثابت کړو نو دواړو دعـــــــــــوه او بينه برابر بيان کړه نو دا به مساوي تقسيمېږي.

اولسم جز: امام محمد رح او شافعي رح وايي چې قرعه به اندازه کولای شي يعنې پچه به اچوي نو که د هر چا راوتله نو د هغه ده يعنې د هغه ملکيت دى، ځکه لان اححد بينت کاذبت دليل: لان النبى ص اقرع عليه وقال اللهم انت الحکم بينهما، احناف وايي چې دا د قرعي حکم منسوخ شوى دى.

اتلسم جز: فاان ادعى کل واحدمنهما نکاح امرأة و اقاما بينت لم يقض بواحد من البينتين ځکه دلته شرکت نه راځي نو ښځه به د هغه چا وي چې د کوم تصديق بيان کړي په دې شرط چې دواړو ګواهانو به تاريخ نه وي بيان کړى، که تاريخ يې بيان کړى وي نو ښځه به د هغه چا وي چا چې تاريخ وړاند بيان کړى وي نو د هغه ښځه ده.

## فقه المقارن درس

## دوه ویشتم فصل

## فقه المقارن بیان

### لومړی مبحث: مختلفه مسایل

### لومړی مطلب: مسایل او د دې اړوند وضاحت

لومړی جز: النیت فی الوضوء واجب عند الائمه الثلاثه شافعي، مالک، احمد (رح هم)، مندوب عند الاحناف دلیل: اودس وسیله ده د غیر او وسایل نه دي مختاجه نیت ته دادلیل د امام صاحب رح دی، الایت الامرت باالوضوء مطلق لایجوز بقیده ظنی الدلالت ظنی الثبوت.

دوهم جز: اعمال المکلفین علی قسمین: ۱ حاصلیږي مقصود او مراد ورنه نفس واقع کیدل دي نو اعتبار نشته دی نیت ته کااداء الدیون، وردالامانه، او د نیــــــــــــت اعتبار په اودس کې نشته دی دا خبره د همدی قسم څخه راخیستي ده.

دریم جز: کاساني رح وایې چې متصل دی نیت د اودس پورې، او احناف وایې چې نیت ته ضرورت نه لري بلکه مستحب دی نیت.

څلورم جز: ادلة سمعیت انواع: ۱ اول: قطعی الثبوت انه بالاول یثبت الفرض، قطعی الدلالت دی دواړو سره کاالنصوص المــــــــــتواتر، ۲ دوهم: ظنی الثبوت قطعی الدلالت وبا لثاني والثالث یثبت الوجوب کاأخبــــــــارها الاحاد التي مفهومها قطعي، ۳ دریم: ظنی الثبووت ظنی الدلالت کاأخبار الاحاد التي مفهومها ظني و بالرابــــــــــــع تثبت السنه والاستحباب. === نو دا حدیث انما الاعمال باالنیات یې د څلورم څخه یې راخیستی دی.

پنځم جز: جمع بین الصلاتین فی السفر: اتفاق د علماء دی جمع تقدیم د ماسپښین او مازیگر په عرفه کې او جمع تأخیر ماښام او ماسخوتن په مزدلفه کې رواه دی، بغیر له دې څخه جمع په سفر کې شافعي او حنابله او مالکیه وایې چې جمع رواه ده که تقدیم وي او که تأخیر وي، او احناف وایې چې نه دی رواه.

شپږم جز: جصاص رح وایې چې تعلق د نیت په فعل پورې دی دا دوه وجه لري: ۱ ثابتول دي د عمل د فضیلت پورې، ۲ ثابتول د حکم دي ، کوم چې تعلق په فضیلت پورې دی هغه اثر نه شي اچولی په عدم فضیلت د حکم کې لکه: غسل الثوب والبدن، او کوم چې تعلق په حکم پورې کوي لکه لمونځ، روژه...

اووم جز: ان الماء ليس مطهر بطبعه لان هذا مبنى على اثبات القوي: يقول الاحناف ان الماء مطهر بطبعه، ان الماء يفتم الصلات ويرفع المانع الذي جعله الشارع صارا عن الدخول فى الصلات بطبعه من غير مقدم نيت، والثواب لايختاج الى النيت بل مطلق عبادت الثواب الرضاء.

## دوهم مطلب: د نية استعمال او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: النية فى التيمم: ۱ مذهب الشافعي رح لايجوزالتيمم بغير النيت اى واجبت فيـــه، ۲ امــــام صاحــــب رح وای چې نيت په تيمم کې واجب دی، ۳ او صاحبين رح وايې چې ان الوضوء صحيح بغير النيت نو د دې قايمقام هم صحيح دی دا قول د امام صاحب رح هم دی، ۴ سمرقندي وايې چې ان النيت للتيمم فرض باالاجماع، ۵ امام زفر رح او اوزاعي رح وايې چې نيت په تيمم کې واجب نه دی، ٦ وهم ابن هبيده رح وايې چې نيت شرط دی لپاره د رواه والى د صحت د تيمم، ۷ بعضې احناف وايې چې تيمم قصد ته وايي او قصد تيمم ته وايې او امر شوی دی په تيممم باندې او امر د وجوب لپاره دی نو لهذا تيمم لپاره نيت شرط دی.
دوهم جز: ادلة القايلين يمنع الجمع فى السفر دا د اححنافو رايه ده: ان الصلات كانت على المؤمنين كتاب موقوتا، الحديث: ما رأيت رسول ص صلى صلات لغير ميقاتها الا صلاتين: جمع بين ظهرين و جمع بين الغشاءين.
دريم جز: د جمع صوري جوازي دلايل: ۱ حديث عايشه رض ان النبي ص كان يؤخر الظهر و يعجل االعصرو يؤخر المغرب و يعجل العشاء فى السفر، ۲ ان النبي ص قال للمستحاضت فاءن قوتي على ان تؤخر الظهر و تعجل العصر جميعا ثم تؤخر المغرب و تعججل العشاء ثم تغتسلين و تجمعي بين الصلاتين فافعلي.
څلورم جز: جمع والي په مابين د دوو مونځونو کې په سفر کې: جواز دی په سفر کې جمع والي د دوو مونځونو کې دا خو ظاهر د حديث دی او دا حمل دی په جمع صوري باندې.

## دريم مطلب: د سفر پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: قصرالصلات فى السفر: سفر چې کوم دی هغه يوه حصه د عذاب ده نو له همدې وجه نه شارع دا مشقت ګرځوي په رخصت سره د امام صاحب رح په نيزد سره په سفر کې او په سفر کې په مکلف باندې اسانتيا راځي: لكه الله ج وايې چې دين احكام عملي کول اسانه دي: ۱ روژه کې افطار کول، ۲ څلور رکعته مونځ دوه رکعته کول، ۳ مدت مسحه په موزو باندې د يو ورځي څخه تر دری ورځو پورې، يعني په مقيم باندې يوه ورځ او مسافر لپاره دری ورځې دي.

دوهم جز: معنا السفر: جرجاني رح وايي چې وتل د کور څخه په قصدي توګه سره تر دريو ورځو او شپو پورې، او يا د دې څخه زيات خو په سير د اوښ يا قدمونو سره. دا تعريف د امام صاحب رح په نيزد سره دی. عزالي رح وايي چې انتقال د ځای د مقيم څځه دی په قصدي توګـــــــــــــــــــه سره خو په مقصد معلوم سره.

دريم جز: قصر په لغت کې حبس ته وايي: ١ و منه القصر الصلات خلاف الطول، ٢ و قصر الصـــــــــــــــلات عدم اتمامها لأجل السفر، او په اصطلاح کې کوتاه والی دی د څلورو رکعتو څخه دوه رکعته کول، او بعضې ارکان ترکول، ترک القيام الى القعود، و ترک السجود والرکوع الى الايماء.

څلورم جز:د ان الصلات المغرب والفجر لا تقصران: جمهور علماء وايي چې دليل قصر الرخصت: ان النبي ص کان يقصر فی السفر و يتم و يفطر و يصوم، امام صاحب رح وايي چې چې دليل: فرض الله على لسان نبيکم فی الحضر اربعا، و فی السفر رکعتين، و فی الخوف رکعت ابن عمر رض وايي چې رکعتان فی السفر و صلات الاضحی، والفطر، والجمعه، کلهم رکعتان.

## څلورم مطلب: د قصر د مونځ اندازه په سفر کې او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د قصر د مونځ اندازه په سفر کې: امام صاحب رح وايي چې دا لازمې ده چې دوه رکعته کول په سفر کې، او جمهور علماء وايي چې دوه هم او څلور هم کولای شي يعنې ګناه ور باندې نشته دی، احنافو جواب دا دی: چې هر ځای کې نفي د جناح دا د مباح والی دليل نه دی نو الله وايي چې فلا جناح عليه ان يطوف بهما، يعنې صفا او مروا باندې طواف وکې نو ګناه نشته دی نو دا فرض دی.

دوهم جز: تحديد السفر: د لمانځه د قصر لپاره شرطونه: سفر به مشروع وي، د خپلو د ښار د اباديو څخه به جدا وي، چې کوم ځای ته ځي هلته به د اقامت قصد ونه لري په معينه موده کې.

دريم جز: جمهور علماء وايي چې د قصر لپاره مسافه: څلور۴ برده ده يعنې ١٦ فرسخه کيږي، او ۴۸ ميله کيږي، او ځينې وايي چې اندازه د سفر د تګ د يوې ورځې وي اندازه کړې ده، احناف وايي چې د قصر لپاره درې ورځې او شپې دي په سير د ابل سره، ظواهر وايي چې اندازه يې نه ده ټاکل شوې د سفر د قصر لپاره، چې د سفر نوم وربانديې شو نو بيا قصــــــــــــــــر دی دا قول د ابن تيمه رح او ابن قيم رح دی دليل: و اذا ضربتم فی الارض فليس عليکم جناح... .

څلورم جز: جمهور علماء وايې چې مخکې د مفارقت د عمران يعنې د ابادیو څخه قصر  جواز نه لري دليل: انا  صليت مع النبي ص باالمدينه اربعا و باالخليفه ركعتين، او عطا بن رباح سليمان بن ابي موسى وايې چې په مطلق سفر سره يعنې نيت سره په مجرده توګه سره جواز لري.

پنځم جز: مشروعيت السفر: ديکې قصر شته دی او معصيت سفر کې اختلاف ششته دی: ۱ جمهور وايې چې په معصيت سفر کې قصر جواز نه لري دليل: انما حرم  عليكم الميتت والدم ولحم الخنزير... ۲ احناف وايې چې معصيت سفر باندې قصر جواز  لري دليل: قصر په ايت کې مطلق راغلی دی: و اذا ضربتم فی الارض فليس عليككم جناح ان تقصرو من الصلات... .

شپږم جز: مدت الاقامه: جمهور وايې چې هغه وخت مسافر مقيم بلل کيږي چې د څلورو ورځو څخه زيات پاتې کېدو نيت وکړي ورځ د دخول او د خروج دد سفر څخه وتلي ده، حنابلو ۲۱ مونځونه ټاکلی دي دليل: يقوول  سمعت رسول ص للمهاجر اقامت ثلاثه بعد الصدر بمكه، احناف او شوافع وايې چې ۱۵ ورځي او شپي دي بيا مقيم بلل کيږي، حسن بصري رح او قتادته وايې چې مسافر تر څو خپل کور ته را نشي او يا د بل ښار د هميش پاتې کېدو نيت ونه کړي دليل: اقام النبي ص تسعت عشر يقصر فنحن اذا سفرنا تسعت عشر قصرنا، اقام النبي ص بتبوک عشرين يوما صلو اربعا يقصر الصلات.

## پنځم مطلب: زکات صلی الذهب والفضه او د صبي زکوة تشريح او اړوند وضاحت

لومړی جز: زکات صلی الذهب والفضه: ۱ زکات شته دی د سرو زرو کې، ۲ زکات شته دی په هغه جواهرو کې چې ښځه يې استعمالوي د ښايست لپاره لکه ملغلري، جمهور وايې چې زکات نشته دی دليل: ليس الزكات في حلی الذهب، ما رأيت احدا يزكيه، احناف او ظواهر   وايې چې زکات شته دی په کې دليل: والذين يكنزون الذهب والفضــــــــــــــــه ولا ينفقونها فی سبيل الله... .

دوهم جز: زكات مال الصبي: جمهور وايې چې زکات ورباندې واجب دی په مال الصغير او مجنون کېدليل: خذ من اموالهم صدقتا تطهرهم وتزكيهم و تصل عليهم...، امام صاحب رح وايې چې لکه څنګه چې زکات په زروعو او ثمارو کې شته دی کله چې يې مالكشو او نورو کې زکات نشته دی دليل: زكات د زرعې او ثمارو کې شته دی ځکه چې دا نمو کوي.

## شپږم مطلب: الاحکام المتعلقه برؤیه هلال رمضان او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: الاحکام المتعلقه برؤیه هلال رمضان: ربط د احکامو شرعیو هغه دی چې مختاجه دی زمانې او نیټې ته هغه په رؤیت الهلال سره کیږي دلیل: یسئلونک عن الاهله قل هی مواقیت لناس والحج ... چې په نیټې پورې اړه لري احکام هغه صرف قمري میاشتې دي لکه: ایلاء، صوم، حج، عدت المتوفیعنها زوجها، په دې احکامو کې قصر نشته دی لکه عدت موده ۴ میاشتې == او ۲ شي نو دا نه قصر کیږي.

دوهم جز: جمهور وایې چې عدم قبول اقل من رجلین عدلین في اثبات الرؤیت الهلال، دلیل: صومو لرؤیته، وافطرو لرؤیته، امام شافعي رح احمد رح او ابن عمر رض وایې چې الاکتفاء برؤیت هلال واحد عدل، او احناف وایې چې الاکتفاء برؤیت الواحد في حال الغیم دون الصحوت اذا کان السماء علت من غیم او صیاب او قتر فیکتفي برؤیت واحد دلیل: یکنفون برؤیت واحد العدل عند عدم وجود علت فی السماء تمتنع الرؤیت.

دریم جز: اذا رائ الهلال رمضان بعض اهل البلاد دون بعض: احناف وایې چې وجوب الصیام علی من لم یره برؤیت من رأه دلیل: الامرت باالصوم لرؤیت هلال والفطر لرؤیته، ابن عباس رض او عکرمه رح وایې چې لا یصون لان لکل قوم رؤیتهم دلیل: ان النبي ص اذا رأیتموه فصوموا، امام شافعي رح وایې چې اذا رأالهلال في رمضان بلد او لم یروه في غیره فاءن تقارب البلدان فحکمهما حکم واحد، و ان تباعد، لایجب الصوم علی اهل البلد الاخری، یجب االصوم.

# مدني قانـــــــون درس

## درویشتم فصل

## د مدني قانون بيان

### لومړی مبحث: د مدني قانون تشريح

### لومړی مطلب: د مدني قانون مختلفه تشريح او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: دمدني قانون هغه دی چې دا د خصوصي افرادو ترمينځ باالذات البين روابط تنظيموي.

دویم جز: مدني قانون يعنې مدني حقوق دي چې د انسان د پيدايښت سره سم پيدا شوي دي.

دريم جز: او مدني حقوق د روم امپراطوري قبل الميلاد کې JUST CIVIL په نوم ياد ول، او په افغانستان کې مدني قانون په ۱۳۵۵هـ کې رامينځته شوی دی چې د دې جوړښت ۱ د فرنسې قانون، د مصر قانون، او د عراق قانون څخه اخيستل شوی دی.

څلورم جز: قانون په لغت کې النظام الثابت ته ويل کيږي، فقه په لغت کې ۱ فهم غرض االمتکلم من کلامه، ۲ فهم الاشياء الدقيق، ۳ فهم المطلق الراجح، او په اصطلاح کې هو علم باالاحکام شرعيت العـــــــملية المکتسب من ادلتها التفصيليه: علم سره خاص شو، احکام سره قصص اوځي، الشرعيت سره وضعي شيان اوځي، العمليت سره اعتقادي اوځي، ادلتها التفصيليه سره علم د مقلد اوځي.

پنځم جز: عقد په اعتبار د عوض او غير عوض سره اقسام: عقود المعوضات: دا هغه دی چې اساس يې عادل بين الطرفين وي لکه اجاره، بيعه، سلم ۲ عقود التبرعات: دا هغه دی چې اساس يې پر تعاون ولاړ وي چې يو طرفه وي لکه هبه کول، ۳ تبرعات ابراء معاوضات انتهاء: د ښگنی او عوض تر مينځ جمع والی کوي لکه هبه باالعوض.

### دوهم مطلب: اجاره تعريف او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: اجاره تعريف: هغه بيعه ده چې منفعت يې معلوم وي په معلوم عوض سره، ابراهيم حلبي رح وايې اجاره هغه ده چې منفعت يې معلوم وي هغه که دين وي او که عين وي، دوکتور نزيه حماد وايې چې اجاره هغه بيعه ده چې مالکول د منفعت دي په عوض سره بربره ده که عوض دين وي او که عين وي او يا منفعت وي، حجاوي حنبلي رح وايې چې اجاره هغه بيعه ده چې تمليکول د عين منفعت دي کله چې منفعت عام وي مخکې د مؤجر څخه مستأجر ته په عوض ســــــــــــــــره.



ليکوال: محمد اسحاق (عزيزي)

دوهم جز: اجاره اقسام: ۱ اجاره علی المنافع والاعیان: دا بیا په خپله په دوه قسمه ده: ۱ منقول ۲ غیر منقول. د حنفي مذهب له نظره: ۱ اجاره په عین منافع ۲ اجاره علی العمل. سرخسي رح وايي چې د اجاره عقد کله منفعت باندې واردیږي او کله په عمل باندې واردیږي.

دریم جز: سمرقندي وايي چې اجاره په دوه قسمه ده: ۱ اجاره علی المنافع ۲ اجاره علی العمل.

څلورم جز: د اجاره د جواز شرطونه: هغه عین چې په اجاره اخیستل کیږي مستأجر به معلوم وي ۲ بدل د اجاره به معلوم وي ۳ او موده به یې معلومه وي ۴ د اجرت مقدار لپاره به عمل معلوم وي.

پنځم جز: علي حیدر وايي چې د مجلي په۱۴۲۱ ماده کې وايي چې اجاره په اعتبار د معقود علیه سره په دوه قسمه ده: ۱ اجاره علی العوض، ۲ اجاره علی الدوابکور، ځمکه، موټر... ۲ بل هغه عقد اجاره دی چې کوم عمل یوازې وي لکه: حرفوي کسب کار کول او یا هم صنعت...

شپږم جز: ابن نجیم رح وايي چې الاجارت شرعا تملیک منفعت بعوض مراد د بیعې منفعت څخه مقصود د عین منفعت دی.

اووم جز: علي حیدر وايي چې اجاره په اعتبار د مـــــــــــــــعقود علیه سره په دوه قسمه ده: ۱ هغه عقد چې واردیږي پر عینو منافعو باندې او دغه قسم بیا په دري قسمه دی: ۱ اجاره العقارلکه کور ځمکه، ۲ اجاره علی العروض لکه کالي سامان ۳ اجاره الدواب لکه حیوانات... .

اتم جز: کاساني رح وايي چې په معقود علیه علو په دغو شیانو سره حاصلیږي: ۱ بیان محل منفعت یعنې دا به معلوم وي، ۲ بیان د مودې په اجاره کولو د کورونو کې یعنې دا به معلوم وي.

نهم جز: که یو څوک یو داسې ځمکه په اجاره کړي چې په هغه ځمکه د بل چا کښت وي یا ونې یا نیان وي نو اجاره جواز نه لري ځکه چې ځمکه د مؤجر په مال باندې مشغوله ده دلته تسلیمول جایز نه دي یعنې نه ثابتیږي، یا دا چې معقود علیه شرعا د استفادې وړ نه وي نو عقد بیا هم جواز نه لري لکه د تیر اخیستل په چت کې، دغې رنګه هغه ځمکه چې لوندوالی ولري نو اجاره په کې فاسده ده.

لسم جز: او اجاره کول په کې د ګناهګار نه صحیح کیږي ځکه چې دا شرعا غیر مقدور الاستیفا ده لکه په اجاره کول د انسان د لوبو او لهوه کارونو لپاره.

یوولسم جز: که چېرته مخکې د اجاره څخـــــــــــــه عمل فرض یا واجب کړی نو عقد نه صحیح کیږي نو په دې سره اوځي اجاره کول د روژی، لمانځه، او حج دا نه صحیح کیږي ځکه دا په مسلمان باندې فرض عین دي همدا رنګه د قران تعلیم باندې اجاره نه ده صحیح.

دولسم جز: اجیر په عمل سره نفعه نه پورته کوي که چېرته پری نفعه واخلي نو عقد جواز نه لري ځکه چې عامل د نفس لپاره دی خو د اجر مستحق نه دی.

دیارلسم جز: ماده: که څوک یواځې د مال د اداري واک ولري نو نه شي کولای چې د اجاره موده د دریو کلونو څخه زیاته وټاکي که زیاته ټاکل شوې وي نو دري کلونو ته راکمیږي.

څوارلسم جز: موده د اجاره: دا په دوه قسمه ده: ۱ د بل ملکیت چې د تصرف حق ولري تر دریو کالو پوري لکه د یتیم مال او د وقف مال، ۲ خپل ملکیت: احناف وایې چې تر لایتناهي پوري کولای شي چې موده وټاکې، بل قول د احنافو: چې تر هغه وخته پورې کولای شي چې د عاقدینو ژوندي پاتیکیدل متصور وي، جمهور علماء وایې  چې تر هغه وخته پورې یې کولای شي چې د معقود علیه یعنې عین جوړ پاتې کیدل متصور وي.

پنځلسم جز: هل یجوز الاجاره الطویله؟ کاساني رح وایې چې بیان د مودې شرط دی په اجاره ورکولو د کورونو، منزلونو، دوکانونو کې ځکه چې معقود علیه بغیر د بیان د مودې څخه معلومه نه گرځي که بیان ترک شي نو بیا مفضـــــــــــــــي کیږي منازعي ته او په دې کې لنډه او اوږده برابره ده په دې شرط چې موده به یې معلومه وي.

## دریم مطلب: د فضولي بحث او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز:  اجاره د فضولي سړي دا موقوفه ده  په اجازه د متصرف سره که متصرف مجنون، او یا صغیر وي نو بیا د دوی د ولي څخه اجازه اخیستل دي، او فضولي سړی هغه دی چې خرڅ یې کړي او یا یې په اجاره ورکړي د غیر مال په غیر اذن سره او ولایت یې ورباندې نه وي.

دوهم جز: شوافع او حنابله وایې چې عدم الصحت تصرف الفضولي في مال الصغیر سواء کان ذالک البیع او اجارا د دې حدیث په وجه: لا تبع ما لیس عندک.

دریم جز: احناف او مالکیان وایې او یو قول د حنابلو هم دی چې جایز دی عقد دفضولي خو که اجازه یې ورکړه نو بیا صحیح دی.

خیار التعین شرایط: مبیعه به یو د دوو شیانو کې وي یا دریو کې: خیار التعین به د متفاوت شیانو کې وي تعین واجب دی د ثمنو هر مبیعه کې واجب دی تعین په مدت د خیار کې، ان یجد السلع محل المبیع.

څلورم جز: د فضولي په عقد کې د مالک اجازه صحیح کیږي په دې شرایطو کې: ۱= ۲ د عاقدینو موجودوالی د ژوند، نو که مؤجر مړ شو نو د ده د وفات کېدو وروسته د مالک او ولي اجازه د عقد په نافذولو کې نه صحیح کیږي، او همدا رنگه مستأجر، ۳ د مالک ژوند، ۴ اجازه به د عقد د فسخه کولو څخه مخکې واقع کیږي، ۵ د بدل اجاره قیام شرط دی، ٦ د اجازی په وخت کې د معقود علیه موجودیدل او معقود علیه په اجاره کې منفعت دی.

# اصول فقــــــه درس

## څلورويشتم فصل

## د امر بيان

### لومړی مبحث: د امر پيژندنه اقسام

### لومړی مطلب: د امر پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: ومنه الامر و هو قول القائل لغيره على سبيل الاستعلاء افعل، او نهي تعريف هم همداسي دی.

دوهم جز: او مقصود په امر کې هغه (الف میم را) نه ده بلکه مقصود ورڅخه هغه حکم د امر دی او مقصود حاصليږي ورنه د وجوب اولزوم څخه او د دې څخه مراد امر صيغه ده نو دا امر داسې شو لکه خاص او هغه هم وضع لمعنى معلوم نو دلته طلب وجوب سره راځي هغه سبيل الاستعلاء نو دعا او التماس ترې اوته.== د امر شرايط:




دريم جز: و يختص مراده بصيغت اللازمه بيانا لكونه الامر خاصا، هغه وجوب لفظ دی يا صيغه ده بلکه نه په فعل سره مقصود دی، = ترادف او اشتراک دواړه نفي دي د امر علايمو څخه.

څلورم جز: والغرض منه بيا ن الاختصاص من الجانبين، لا يكون الامر الاالوجوب ولايثبت الوجوب الا من الامر دون الفعل فيكون نفيا الاشتراک والترادف جميعا.

پنځم جز: فینبغي یحمل اللازم علی اللازم المساوي لا یوجد المراد بدون الصیغه و للصیغه بدون الامر.
شپږم جز: او لفظ وجوب سره ترینه تهدید او تهجیز اوځي ځکه دې کې الزام الفعل نشته دی.
اووم جز: امر په دوه اصطلاح ګانو سره راځي: ۱ یو عربي اصطلاح ده چې دعا او التماس ته وایې، ۲ بله اصطلاح د اصولیینو ده چې تهدید او تهجیز ته وایې نو دلته زمونکه مقصـــــــــــــود د اصلیینو اصطلاح ده.
اتم جز: وجوب په صیغي سره ثابتیږي او فعل د نبي ص واجبونکی نه دی، اصحاب الشافعي رح وایې چې فعل هم یو عمل دی او واجبونک دی دلیل: یا خو امر په دوه قسمه دی قولي، او فعلي چې په قول سره څه راځي هغه به په فعل سره هم راځي، او زمونګه په نیزد سره وجوب په امر کې حقیقت دی امر په دې باندې محمولیږي چې ترڅو خلاف قرینه قایمه نه شي.
نهم جز: امر وروسته تر نهي ابحت لپاره دی.
لسم جز: والامر لا یقتضي التکرار ولا یحتمل دا قول د احنافو دی، بعضي شوافع وایې چې تقاضا د تکرار کوي لکه: وان کنتم جنبا فاالطهرو ، والسارق والسارقت فاقطعو ... شوافع وایې چې امر تقضا د تکرار نه کوي خو احتمال لري لکه اضرب.
یوولسم جز: ۱ هغه مثال دی چې په مثل معقول سره وي: که یو څوک د چا غنم غصب کړه نو دا غنم خو مثلي شی دی بیا وروسته تاوان په هماغه غنم ورکړي نو دیکې څه خبره نشته دی چې دا مثلي دی او پیدا کیږي نو د ا مثل راغي په مثل سره په حقوق العباد کې. ۲ که یو سړي د چا څخه حیوان غصب کړو نو بیا خو وروسته د دې حیوان مثل نه کیږي یعنې خپلو کې فرق لري نو بیا د هغې قیمت ورکول کیږي.
دولسم جز: جزا د فعل په فعل سره څنګه ده: امام صاحب رح وایې چې په هغه صورت کې یو کس د بل کس لاس قطعه کړي په قصدي توګه سره او بیا د جوړیدو څخه یې د مخه پـــــــــــه قصدي توګه اوژلو نو د مقتول وارثانو ته دا پکار دي چې څه رقم یې ورسره کړي دي نو هماغه سی دې ورسره وکړي چې جزا د فعل پّ فعل سره راشي، که ولي په قتل سره اکتفا وکړي نو دا هم جایز دی او دا هم جایز دی چې ولي ټول جرم معاف کړي خو یاران وایې چې د مقتول ولي نه شي کولای چې قصاص واخلي مګر په قتل سره ځکه چې د قطعه نتیجه په قتل کې داخل دي.
دیارلسم جز: والقصاص لایضمن بقتل القاتل: قصاص هم مثل نه لري نو ضمان نه لري نه صورت او نه معنا، نو هر هغه شی چې متقوم نه وي نو د هغې مثل نشته دی.
څوارلسم جز: و ملک النکاح لایضمن باالشهادت باالطلاق بعد الدخول: همدا رنګه ملک النکاح لپاره ضمان نشته دی په شهادت سره د طلاق په واسطي سره یعنې چې یو څوک په طلاق باندې شاهدي ورکړي روسته د دخول څخه دا مذهب د امام صاحب رح دی.

## دوهم مطلب: د فعل حسن او قبحه تشریح او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: اشاعره وایې چې په خپل ذات کې فعل قبحه او حسن نه لري نو دا شرعه ثابتوي، او معتزله وایې چې حسن او قبحه فعل د مأمور به دا عقل درک کولای شي او کله چې عقل د یو شي قبحه او حسن درک کوي نو شارع باندې دا لازمه ده چې د هغې څخه به منعه کوي، احناف وایې چې یو فعل په خپل ذات کې قبحه او حسن لري عقل د هغې درک کولای شي د بعضي مواصفاتو او نتایجو په واسطه سره، که د یو شي حسن وو نو حسن دی کنې قبحه ده.

دوهم جز: حسن او قبحه دري معنا گانی لري: ۱ د حسن معنا دا ده چې کمال ته وایې علم او حسن، او قبحه معنا دا ده چې صفت یې نقصان دی لکه جهل او قبیح دی. ۲ د حسن معنا دا ده چې دنیاوي غرض سره موافق کیدل، او قبحه دا ده دنیاوي غرض سره مخالف کیدل. ۳ د حسن معنا دا ده چې د دېکونکې فعل حقداره ثواب کونکې گرځي، د قبحه معنا دا ده چې د دې کونکې د فعل ملامتیا او عقاب مستحق گرځي.

دریم جز: د حسن په اعتبار سره د مأمور به اقسام: ۱ حسن لغیره: دا هغه دی چې حسن بغیر د واسطې نه د هغه شي په ذات کې وي د کوم لپاره چې مأموربه واقع شوی دی. نو دا په دري ۳ قسمه دی: ۱ یا به حسن سقوط قبلوي د مأمور به لخوا، ۲ یا به سقوط نه قبلوي لکه تصدیق کول تر څو چې عاقل او بالغ وي نو تصدیق ده سره دی. ۳ مأموربه به د حسن لغیره سره یوځای وي او لغیره سره مشابه وي. ۲ حسن لغیره: دا هغه دی چې حسن به غیر د واسطې نه د هغه شي په ذات کې نه وي بلکه د بل شي په واسطې سره وي یعنې ثابت شوی وي. د ا په دري قسمه دی: ۱ هغه حسن چې د دې فعل پورې تړلی وي د دې مأمور به په اداء کولو سره هغه نه اداء کیږي بلکه جلا فعل ته ضرورت لري لکه اودس دی چې دا حسن گرځیدلي دي چې هغه لمونځ او قران تلاوت دی، ۲ دا حسن خو د غیر په واسطې سره ثابت شوی دی خو د دغې مأمور به فعل سره هم غیر اداء کیږي لکه جهاد: دا د اعلا د کلمت الله لپاره په کې ضمنا شامل دی، ۳ دا قسم د غیره لپاره نه دی بلکه د دې پنځو اقسامو لپاره دی.

څلورم جز: قدرت په دوه ۲ قسمه دی: ۱ قدرت مطلقه: داد هغه دی چې یو بنده د هغې په واسطه سره د عبادت کولو توان پیداکوي په دی معنا چې الات به یې سالم وي او اسباب به موجود وي، ۲ قدرت کامله: دیته مسیرت هم وایې څکه چې په مکلف باندې دا اسانه گرځوي دا په دې معنا نه چې مخکې سخت وو او اوس الله اسانه کړو بلکې د ابتدا څخه اسانه وو.

## حدیث الاحـــــکام درس

## پنځه ویشتم فصل

## حدیث الاحکام بیان

### لومړی مبحث: دحدیث الاحکام تشریح

### لومړی مطلب: د نکاح او د هغې د ثبوت اړوند وضاحت

لومړی جز: نکاح په لغت کې ضم او تدخل ته وایې او استعمال یې په وطې کې دی او ځوک وایې چې دا نکاح هو فی العقد مجاز من اطلاق اسم المسبب علی السبب، او دا نکاح لفظ مشترک دی په عقد او مجاز کې.

دوهم جز: امام احمد بن حنبل رح وایي چې نکاح هو واجب، او ابن حزم رح وایې چې فرض ده نکاح په هر قادر د وطي باندې او جمهور وایې ... .

دریم جز: و قال ابن دقیق العبد: ۱ الوجوب: لمن خاف العنت، و قدر علی النکاح و تعذر التسری، دا قول د بعضو مالکیو دی، ۲ حرامه ده نکاح: ځوک چې خالي وي په زجیت باندې په وطي کې او نفقه ورکـــــــــــولو د ښځو باندې قادر نه وي، ۳ الکراهت دی نکاح: في حق مثل الذي قبله حیث لا اضرار باالزوجیت، ۴ مستحب ده نکاح: شهوت یې هم ډیر وي او ځان هم ساتلی شي په نیشتوالي د زوجیت کې او په ساتلو د فرج کې، ۵ الاباحت ده نکاح: هغه ده چې ځان باندې دوافع راوستلای شي او ځان نه مونع لری کولای شي.

ځلورم جز: خطابي رح او بغوي رح وایې چې واجب دی د شهوت ماتول په دواه باندې، دا نکاح لپاره د دې نه ده چې شهوت پهوره کړي بلکه دا یو عبادت هم دی.

پنځم جز: امام صاحب رح وایې چې خطبه په نکاح کې سنت ده، او ظواهر شوافــــــع وایې چې خطبه واجبه ده.

شپږم جز: ځلور امامان او جمهور وایې چې مستحب دی نظر کول مخطوبي ته هغه ته چې ته ورته د خطبې اراده لري، او احمد رح وایي چې مباح دی نظر کول مخطوبي ته، دا قولد د النووي رح هم دی یعنې ورغوی او مخ ته به گوري، او اوزاعي رح وایي چې نظر به کوي هغه ځای د لحم ته الاالعوره، داود رح وایې چې ینظر الی جمیع بدنها،، نو راجح قول د النوي رح دی.

اووم جز: ابن القاسم او ابن العربي دا د مالکیانومذهب کې وایې چې ان الخطبت علی خطبت الفاسق جایز مطلقا لاسیما ان کانت المخطوبت عفیفه فیکون الفاسق غیر کفوا لها.

اتم جز: نه ثابتیږي هبه مگر په قبول سره، ابن حزم رح وايې چې لابدي ده د مهر نه په نکاح کې نو اگر که دا مهر لږ وي، مستحب دی ذکر کول د مهر په نکاح کې قال الفقهاء ولو عقد بغيره صح العقد و وجب لها المهر المثل باالدخول، مستحب دی تعجیل په مهر ورکولو په نکاح کې.

نهم جز: نکاح تړل کیږي په لفظ د تملیک سره دا مذهب د امام صاحب رح دی او مشهور دی عن المالکيه.

لسم جز: مستحب دی د نکاح اعلان او واجب نه دی اعلان د نکاح.

یوولسم جز: څلور خلفاء راشدین، احمد رح او شافعي رح وايې چې نکاح نه صحیح کیږي بغیر د ولي نه، قال البغوي رح چې شرط دی د شاهدینو د نکاح په نکاح کې، اکثـــــــــر اهل العلم وايې چې نه منعقد کیږي نکاح بغير د شاهدانو نه، اهل المدينه وايې چې دا مـــــــــــذهب د امام مالک رح دی چې کله اعلان د نکاح وشي او شاهدي هم يو ځل وکي نو دا جايز دی، واختلفو في صفت الشهود: امام شافعي رح وايې چې شاهدين بايد رجلين عادلين وي، امام احمد رح وايې چې برجل وامرأتين و هذا قول اسحاق رح او اصحاب الرأی وايې چې عادلين شرط نـــــــــــــه دی.

دولسم جز: بطلان نکاح لايکون للمرأت فيه ولـــــــــــــــي.

دیارلسم جز: مستحق ده ښځه چې مهر واخلي خو يدخل الرجل عليها و ان كان النكاح باطلا.

څوارلسم جز: من اراد النكاح امرأة هو وليها لا ولی لها سواه کاءبن عمه، زوجها السلطان منه كان تزوجها برضاها صح النكاح عند اصحاب الرأی، و بطل الشافعي رح، قال الشافعي رح يزوجها بنيابته.

## دوهم مطلب: د ثيبې بلغی احکام او د هغې اړوند وضاحت:

لومړی جز: الثيب بالغ لا يزوجها الا اب ولا غيره الا برضاها اتفاقا، والثيب غير بالغ مالک رح او امام صاحب رح وايې چې دا به په نکاح ورکوي خپل پلار، امام شافعي رح يوسف رح او امام محمد رح وايې چې لا يزوجها اذا زالت البكارت باالوطي، ان البکر بالغا لاتزوجا الا برضاها ولا يجوز للاب ولا لغيره، اماالبكر الصغيره نو اتفاق علماء دی چې هغه به صرف پلار ورکوي.

دوهم جر: ابن المنذر رح وايې چې يستحب ان يعلم سكوتها رضا، وقال السفيان رح چې يقال لها ثلاثا ان رضيت فاسکت و ان کرهت فانطقي، صنعاني رح وايې چې کچېرته خبري و نه کړي او په ژړا شوه نو د دې سکوت په رضا دلالت نه کوي.

دريم جز: ثيبه او باکره به په نکاح نه ورکوی مگر د هغې په رضا سره ان علامت الرضاء السكوت للبكر، امام شافعي رح وايې چې صـــــــــــــغيره به نه ورکوی مگر پلار لانه استئمار الا بعد البلوغ، امام صاحب رح وايې چې دا نور اولياء

کولای شي چې ور یې کړي چاته په نکاح، او خیار چې کوم دی هغه وروسته د بلوغ څخه دی ارجح قول د شافعي رح دی.

څلورم جز: ان المرأة لیــــــــــــس لها ولایت فی النکاح لنفسها ولا لغیرها، قال الجمهور رح لا تزوج المرأة نفسها حتی ول باذن الولی، ولا تزوج غیرها بولایت ولا بوکالت ولا تقبل النکاح بولایت ولا بوکالت، امام صاحب رح وایې چې یجوز ان تزوج العاقلت البالغت نفسها.

پنځم جز: نکاح شغار د امام مالک رح او شافعي رحح احمد رح وایې چې دا نکاح باطله ده، و قال الحنفیه رح النکاح صحیح و لکل واحدمنهما مهر المثل، امام احمد رح او شافعي رح او اسحاق رح وایې چې پلار کولای شي چې په اجباري توګه سره په نکاح ورکړي بالغه باکره ښځه عملا بحدیث الثیب بحق نفسها.

شپږم جز: جمهور علماء وایې چې کوم غلام بغیر اذن مولی نه نکاح وکړه نو هغه باطل ده او په حکم د زنا کې دی، مګر چې کله ورته معلومات نه وي په تحریم د دې نکاح بغیر اذن سره نو صرف حد ترینه ساقــــــــــطیږي، و قال داود رح نکاح العبد صحیح باذن المولی و بغیر اذن المولی.

اووم جز: اجماع قول دا دی چې نکاح متعي حرامه ده، جمهور وایې چې دا نکاح باطله ده چې ورنه حاصل شي تحلیل د دویم خاوند نه، امام صاحب رح وایې چې یصح النکاح و یفسد الشرط او د هغې لپاره مهر مثل دی نو کله چې دېته مهر ورسیدو او بیا طلاقه شوه او عدت یې پوره شو نو بیا اول خاوند لپاره رواه ده.

اتم جز: جمهور وایې چې کله اولیاء دا کار وکړي مؤمنه عفیفه یې داسي مجلود ته ورکړه نو دا نکاح صحیح ده بعضي وایې چې الا مثله.

نهم جز: حسن رح وایې چې عسیله نه مراد انزال المني دی، جمهور وایې چې کنایه د جماع ده د عسیله نه، چې دا دی: ان تغیب الحشفت من الرجل فی فرج المرأة، و یکون من ذالک ما یوجب الحد و یجب الصداق.

لسم جز: کفاءت معتبر دی په دین کې چې لا یحل زواج مسلم من کافرت ملا غکسد ذالک.

یوولسم جز: قال الصحابت من التابعین، و مالک رح، والشافعي رح، وایې چې کفاءت معتبر دی په دین کې، جمهور وایې چې کفاءت معتبر دی په نسب کې، و قال الحنفیه رح قریش اکفاء بعضهم بعضا او د عربو نه اکفاء نشته دی د قریشو سره لکه څنګه چې عرب نه بغیر کفو نشته دی مګر عرب، امام شافعي رح وایې چې لیس النکاح غیر الاکفاء حراما نو که چېرته یې اراده وکړه او اولیاء سره راضي شول نو بیا صحیح ده نکاح.

دولسم جز: د کومي وینځي چې نکاح اصیل یعني خاوند یې اصیل وي نو جمهور وایې چې لایثبت لها الخیار.

دیارلسم جز: ومن اسلم و تحته اختان: نو د دې لپاره خیار دی دې دواړو کې دا قول د امام شافعــــي رح او مالک رح دی، امام صاحب رح او احمد رح وایې چې چې په اوله کې اختیار لري نه په اخیره کې.

خوارلسم جز: جمهور علماء وايي چې کله اسلام حربي ښځې او خاوند يې حربي وي او دا ښځه مدخول بها وه که چېرته يې خاوند اسلام راوړه او دا ښځه په عدت کې وي نو نکاح يې باقي ده، او که چېرته روسته د عدت يې ايمان راوړه او عدت يې تير شو نو بيا فرقت واقع کيږي.

پنځلسم جز: قال البغوي رح: اذا مسلم الزوجان المشركان معا دام النکاح بينهما اتفاقا.

شپاړسم جز: مستحب دی ورکول د مهر خپلې ښځې ته چې هغې نه عيب ظاهر شي نو ورسره يې دخول نه وي کړی.

اولسم جز: ما حکم العنين: قضی عمر رض فی العنين ان يؤجل سنت، عنانه يو عيب دی نو خيار ثابتوي که روغ شو نو بيا صحيح دي که روغ نه شو نو بيا هم اختيار لري، امام احمد رح وايې چې دا عيب نه دی او نکاح پرې نه فسخه کيږي مهلت ورته يو کال دی، او څوک وايې چې مهلت نشته دی.

واصله: هغه ته وايې چې ويښتان نښلوي په نورو ويښتانو باندې.

مستوصله: هغه تهووايې چې طلب د دې کار کوي.

واشمه: خال لګونکې ته وايې.

الغيله: چې په حالت د ترضع کې جماع کول، شوافع او ابن حزم رح وايې چې عزل حرام دی او جمهور وايې چې يجوز العزل عن الحرت باءذها و عن الامت بغير اذنها.

هغه چې خاوند يې وفات شوی وي:




## دريم مطلب: د متوفي عنها زوجها تشريح او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: په اول صورت کې ټول شيان دی مهر دی، ميراث دی، عدت دی== په دوهم صورت کې نيم مهر، عدت او مـــــــــــيراث دی==په دريم صورت کې متعه، عدت، ميراث شته دی== په څلورم صورت کې مهر مثل، ميراث، عدت شته دی.

دا هغه شيان دي چې ښځه يې مستحق داره ده په دغو شيانو کې.

دوهم جز: امام شافعي رح وايې که مهر يې مسمی کړو مخکې د عدت څخه نو دا مهر باطل دی او د دې ښځې لپاره مهر مثل دی، امام صاحب رح وايې چې کوم سړی د کومې ښځې سره عقد نکاح وکړي او مهر ورته مسمی نه کړي نو

هغې لپاره ټول مهر دی په مرگ د خاوند سره اگر که که چیرې دخول يې هم ورسره نه وي کړی او هغې لپاره میراث او هم عدت شته دی، امام شافعي او مالک رح وايې چې هيڅ مستحق نه دی مگر د میراث، او بل قول د شافعي رح دی چې نیم مهر شته دی او دا روایت د احمد رح هم دی.

دریم جز: جواز کون المهر في غیر الدراهم والدنانیر و هو قول جمهور رح، او متعه واجبـــــــــــــه ده د هغې ښځې لپاره چې هغې ته مهر مسمی شوی وي، و قال المالک رح واللیث رح لایجب المتعه.

## خلورم مطلب: کامل اتصال د نبي ص او روایت راوي د قرن پورې تشریح او د هغې اړوند وضاحت:

لومړی جز: کامل اتصال د نبي ص د حدیث دا دی چې هغې کې باالکل شبه نه وي او دا یقین افاده کوي لکه: متواتر حدیث، یا به اتصال کې شبه وي یعنې په اول قرن د قرونو کې هغه به د تواتر راویانو حد ته نه وي رسیدلی.

دوهم جز: خبر واحد د تابعین او تبع تابعین قرن پورې مشهور گرځیدلی شي او په خبر واحد دوو تنو روایت کړی وي نو بیا قابل قبول دی، او خبر واحد عمل واجبوي او علم یقیني نه واجبوي، دا په قران، سنت، اجماع، سره ثابت شوی دی.

دریم جز: که چېرته راوي په عدالت او ضبط باندې مشهور وي او په فقه باندې مشهور نه وي لکه: انس رض او ابوهریره رض دا کسان که چېرته روایت وکړي او قیاس ور سره راشي نو عـــــــــــمل به په حدیث سره کوو که چېرته موافق وي دا قیاس د حدیث سره او که موافق نه وي بلکه مخالف وي نو بیا حدیث د ضرورت په اساس سره ترک کیږي نو دلته بیا به قیاس عمل کیږي.

څلورم جز: مجهول راوي کې پنځه ۵ اقسام دي: ۱ دا چې د سلفو څخه به يې روایت کړی وي دا حدیث صحت والا دی، ۲ یا به سلفو کې اختلاف کړی وي، بعضو به منلی وي او بعضو به نه وي منلی حکم: چې د منلو تقویه ده په کې بعضې صحت والا دی ۳ یا به سلف د رد څخه ساکت پاتی وي حکم: لکه معروف ۴ سلفو به روایت نه وي کړی بلکه هغوې رد کړی دی حکم: عمل ورباندې نه دی صحیح ۵ که د سلفو څخه ظهور نه وي شوی نه د رد او نه د قبول حکم: عمل ورباندې جایز دی.

پنځم جز: د خبر واحد راوي چې حدیث يې قبول وي د هغې شرطونه: ۱عقل به ولري ۲ ضبط به يې قوي وي، ۳ عدالت به ولري ، ۴ اسلام به ولري ، او عدالت دا معنا ده چې گناه باندې دوام ونه کړي او که څوک په گناه دوام کوي د هغه عدالت نشته دی، هغه عقل به ولري کوم چې د بلوغ مرتبه کې راځي، دا دی چې د اول نه تر اخر پورې په دې مجلس کې موجود وي.

شپږم جز: اسلام == کافر. فاسق == عدالت. صبي == عقل مراد ورنه بلوغ دی. والمعتوه == ضبط دی. که چا کې دا شرطونه موجود نه وي نو د هغه خبره نه منل کیږي.

## پنځم مطلب: انقطاع د حدیث د دې پیژندنه او اړوند وضاحت

لومړی جز: انقطاع د حدیث په دوه قسمه دی: ۱ کله داسې وي چې یو راوي بل راوي ته رسولی وي هغه بل ته رسولی وي چې کله اخرنی راوي راشي او اوایې چې ما ټول استـــــــــــاذان حذف کړي دي او اوایې چې قال رسوالله ص دا ظاهري بڼه ده د انقطاع د حدیث ۲ باطني انقطاع دا ده چې سلسله د سند نه وي حذف وي خو بل شکل وي: هغه شرطونه چې مونګه په خبر واحد کې شرط کړی وو یو شرط د شروطو په کې نه وي.

دوهم جز: امام شافعي رح وایې چې لایقبل چې کله یو راوي د صفاتو څخه یو صفت په کې نه وي موجود نو حدیث یې قبول نه دی. هغه صفات دا دی: چې ۱ اسلام، ۲ عدالت، ۳ عقل مراد بلوغ، ۴ ضبط.

دریم جز: و اما الباطن فنوعان: ۱ اتصال خو په یو څه کې راغلی وي خو یو صفت د راوي به موجود نه وي نو دا معنا چې سلسله د سند یې خطاء کړی ده نو حکم یې مردود دی. ۲ یا به بعضې دلیل سره مخالفت ولري یعنې د ما فوق دلیل سره لکه: کتاب الله، سنت معرفه سره ولري، یا د مشهوره حدیث سره ولري، د صدرالاول امامانو سره اختلاف ولري نو د دې حکم هم دی چې مردود منقطعا.

## شپږم مطلب: د خبر واحد پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: فاءن کان من حقوق الله یکون خبر واحد فیه حجه، سواء کان من العبادات لکه: صلات، او من العقوبات لکه: حدود او دائرت بینهما... .

دوهم جز: امام کرخي رح وایې چې خبر واحد په عقوباتو کې نه دی قبول ځکه اتصال کې شبه ده چې یو نفر روایت کړی وي.

دریم جز: نفس خبر د رسول ص وي او که د بل چا وي یعنې خبر واحد لپاره دا تقسیم په څلورو برخو دی: ۱ یا به دا چې علم به په صدق باندې احاطه کړي وي نو دا حجـــــــــــت دی لکه: د نبي ص خبر په صدق باندې ۲ یا به پّ کذب باندې احاطه کړي وي لکه د فرعون دعوه په ربوبیت باندې ۳ یا به دواړه احتماله موجود وي لکه کذب او صدق نو دلته حکم دا دی: چې واجب التوفق وي، ۴ یا به یو طرفته ترجیح ورکړل شوي وي.

## افتاء درس

## شپږویشتم فصل

## د فتوی بیان

### لومړی مبحث: د فتوې پیژندنې تشریح

### لومړی مطلب: د فتوې پیژندنې او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: ناسمه رأیه په دري قسمه ده: ۱ هغه ده چې نص اجماع خلاف وي لکه.... ۲ هغه رأیه ده چې د نصوصو پلټنې څخه مخکې پرې عمل کوي ۳ هغه رأیه چې یوائې فرضي شکل ولري، امام صاحب رح وایې چې په ضعیف حدیث باندې عمل کول د ناسمه رأیه نه غوره ده.

## د تجارت درس

## اویشتم فصل

## د تجارت بیان

### لومړی مبحث: تجارتي معاملات

### لومړی مطلب: تجارت او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د تجارت حقوق منابع: ۱ قانون ۲ قرار دادونه ۳ تجارتي عروض ۴ قضایه رؤیه ۵ دوکتورین، قانون هغه دی چې د ټولنی او د خلکو لپاره د تنظیم برابریت کوي.

دوهم جز: حقوق جمع د حق ده په معنا د عدالت سره راځي او په اصطلاح کې هغه چې په ټاکلي وخت کې په ټولنه واکمني کوي، حقوق په دوه قسمه دي ۱ عنـــــــــدي حقوق: هغـــــــه دي چې یو شخص د بل شخص مقابل کې ولري، ۲ افاقي حقوق: هغه ته وایې چې د واکمن مقام له خوا وضعه وي او په انسانانو باندې تطبیق کیږي.

# د کریمینالوژي درس

# اته ویشتم فصل

# د کریمینالوژي بیان

## لومړی مبحث: د کریمینالوژي تشریح

### لومړی مطلب: د کریمینالوژي تشریح او د جرم اړوند وضاحت

لومړی جز: کریمینالوژي د جرم له حیثه: CRIM په معنا د جرم دی، داسي عوامل ترسره کوي چي ټولنه ورسره په مشکل کي راځي. کریمینالوژي د جرم عواملو له حیثه: اجتماعي د جرم عوامل، فردي عوامل، انگیزي عوامل څخه بحث کوي. کریمینالوژي د مجرم له حیثه: د جرم یعني جامع الشناسي څخه بحث کوي.

دوهم جز: په اول قدم کي کریمینالوژي هر څه ته به يې مجازات ورکول د جرم را منځته کېدو په صورت کې، په دوهم قدم کې بی عقل شیان ترې خارج شول مگر انسان پکې پاتي شو: ۱ عاقل ۲ بالغ ۳ غیر مکره.

دریم جز: کله چې یو څوک د ازادی ارادې خاوند شو او هغه جرم ترسره کی نو هغه مجرم دی لکه: بالغ روغ انسان. کریمینالوژي په اول قدم کې د جرم عوامل لکه: غلا، زنا، قتل. په دوهم قدم کې د مجرم اصطلاح راپيژني.

څلورم جز: کریمینالوژي څلور ۴ اهداف لري: ۱ سقـــــــــراط وایې چې جهالت له مینځه لاړ شي بیا جرم نه راځي، ۲ افلاطون وایې چې غربت او رشوت له مـــــــــینځه لار شې نو جرم نه راځي،۳ ارسطو وایې چې هغه کسان چې رواني تکلیف لري هغوی جرم کوي مگر نه تعلیم یافته، ۴ پوهاند وایې چې هر هغه څوک چې اسماني علم و نه لري هغوی جرم تر سره کوي.

پنځم جز: قاضیان به په محکمه کي دوه ۲شیان نیولي: ۱ عوامل د جرم ۲ د جرم شخصیت په نظرکې نیول.

شپږم جز: هویر عالم وایې چې د کریمینالوژي موضوع یواځي مجرم دی نه جرم.

اووم جز: کریمینالوژي هغه علم دی چې یو غیر حقوقی جنایې ي علم دي چې د جرم علل او عوامل مطالعه کوي.

اتم جز: د جرم باید مخنوي وشي دا د کریمینالوژي موضوع ده.

نهم جز: جرم په دوه قسمه دی: ۱ اجراوی جرم: هغه دی چې تر سره کول يې منع وي او په مقابل کې ئي اجراوي ضمانت ولري، ۲: اهمالي جرم: هغـــــــــه دی چې تر سره کول ئي لازم گرځول شوي وي او هغه تر سره نه کړي.

لسم جز: د کریمینالوژي روابط د جزاییي حقوقو سره: کله چې د جرم شدت په نظر کې نیسي یا مقنن قانون جوړوي یا د جزا د تطبیق په ساحه کې جزا تطبیق کوي نو دا جزاییي حقوق ورسره مرسته کوي.

یوولسم جز: اعدام: قاضي کولای شي چې اعدام ترک کړي او قاضي کولای شي چې د هغې پر ځای باندې تعزیرات عملي کړي.
دولسم جز: کریمینالیستیک: هغه علم دی چې واقعي مجرمین مشخص کوي.
دیارلسم جز: د جرم عوامل: په دوه قسمه دي:




څوارلسم جز: جزا شناسي هغه علم دی چې د اجتماعي عکس العوامل او د هغې تطبیق څرنګوالي څخه بحث کوي چې جزاګانی او امنیتي تدابیر دي، او د جرم عوامل او د مجرم شخصیت ته په نظر کولو سره دا ورته معرفي کوي دا کار د کریمینالوژي دی.

## دوهم مطلب: د جرم عواملو پیژندنه، اقسام او د هغې اړوند وضاحت:

لومړی جز: د جرم عوامل د تایداتو له حیثه: ۱ اماده کونکي عوامل: هغه دي چې په مستقیم ډول سره جرم نه راوړي خو جرم ته انسان اماده کوي لکه: سپین ږیری لپاره، ضعیف، مریضي، اقتصادي کمزورتیا. ۲ تعین کونکي عوامل: هغه دي چې په مستقیم ډول سره جرم مینځته راوړي لکه یو سپین ږیري ته ناوړه خبره کول، فردي عوامل: هغه دي چې په یو شخص پورې مربوط وي، بیروني عوامل: هغه دي چې د انسان د داخل نه بهر جرم ته لاره پیدا کوي، رواني اماده کونکي عوامل: هغه دي چې د انسان په داخل کې یو جز د جرم لپاره اماده کوي، جرمي قوه: هغه ده چې د جرم مقاومت قوه پری غالبه ویحصول یې جرم دی، انساني مقاومت هغه دی چې د جرم نه منعه والی راولي.
دوهم جز: سالمه اراده: هغـــــــــــــه ده چې د ماهیت په درک کولو سره په خپله خوښه کار کولو ته اراده وایې. او سالم وجدان: هغه دی چې یوه باطني قوه ده چې یو څوک ښه کارونو ته جزبوي.

دوهم جز: مادي زادي اختلاط: هغه ته وايې چې د حمل وخت،د حاملګۍ وخت، د تولد وخت چې د دې دري واړو په صورت کې مادي زادي اختلاط راځي نو دا اختلاط کشف کوي او وروسته بيا يو عمل د عامل چې جرم شې نو ديته اختلاطې وايې.

دريم جز: فردي عوامل په دوه ۲ قسمه دي: ۱ فردي زادي،۲ فردي اکتسابي.

څلورم جز: وراثت: هغه ته وايې چې کومه شبه انسان ته پيدا کيږي هغه بايد مور او پلار ته متوجه کيږي، او وراثت په جرمونو کې جاري کيږي، امام شافعي رح وايې چې جرم هم په وراثت پاتي کيږي.

پنځم جز: تولد څخه تر بلوغ پورې ديته طفوليت وايې چې بعضي په کې وايې چې ۱۷ يا ۱۸ کاله دی، غيرد تميز کونکی وخت: پيدايشت څخه تر ۷ کالو پورې دا بيولوژي ثابته کړې ده، تميز کونکی وخت: د ۷ څخه تر ۱۳ کاله پوري دی دا متوسط حال دی، مخنوي لارې د جرم: ۱ مور او پلار دي، ۲ دقيق مصروفيت دی.

شپږم جز: د کبارت دوره: دا دوره د ۱۸ څخه شروع کيږي تر مرګ وخته پوري ۱ زلميتوب دوره: د ۱۸ څخه تر ۲۵ پوري، ۲ ځوانۍ دوره: ۲۵ څخه تر ۴۱ پوري، ۳ پوخوالی دوره: ۴۰ څخه تر ۵۰ پوري، زوړوالی دوره: د ۵۰ څخه تر ۶۰ پوري ده چې ديته شيخ فاني وايې.

# میــراث درس

# نهه ویشتم فصل

# د میراث بیان

## لومړی مبحث: د میراث تشریح

### لومړی مطلب: د میراث پیژندنه او اړوند وضاحت

لومړی جز: میراث په لغت کې نصف ته وایې چې د ورث څخه اخیستـــــــــــــل شوی دی او دا هغه علم دی چې تقسیم د ترکی راپیژني چې کومو کسانو ته ورکول کیږي: دیکې ۸ ښځینه دي: ۱ صلب البنت، ۲ بنت الابن، ۳ ام، ۴ زوجه، ۵ جده، ٦ اعیاني خور، ۷ علاتي خور،۸ اخیافي خور. او څلور ۴ نارینه دي: ۱ اب، ۲ جد صحیح، ۳ زوج، ۴ اخیافي ورور.

دوهم جز: او دیته نصف العلم ځکه وایې چې یو ژوند د مرګ نه اخوا هم دی.

دریم جز: د میراث موانع:۱ قتب، ۲ اختلاف دین، ۳ اختلاف دار، ۴ غلام والی چې ازاد نه وي.

څلورم جز: د میراث اسباب: ۱ زوجیت، ۲ قرابت، ۳ ولاء. قرابت کې بیا دري ۳ دي: ۱ ذوالارحام، ۲ عصبه، ۳ ذوالفروض دي.

پنځم جز: د میراث شرایط: ۱ حیات وارث، ۲ موت مورث، ۳ عدم موجدیت موانع.

شپږم جز: د میراث ارکان: ۱ قران، ۲ سنت، ۳ اجماع، ۴ قیاس.

اووم جز: ترکه کې به دا شرط وي چې امـــــــــام صـــــــــاحـــب رح وایې چېد بل د حقوقو څخه به خالي وي، او جمهور علماء وایې چې منافع د اعیانو څخه چې په لاس راځي منا فع ورته وایې.

اتم جز: د ترکی حقوق: ۱ تکفین او تجهیز، ۲ دیني حقوق، ۳ قرضونه، ۴ و صیت، ۵ تقسیم په مابین د ورثو کې.

نهم جز: مستحقین د میراث: ۱ ذوالفروض، ۲ عصبه، عصبه بیا په دوه ۲ قسمه دي: ۱ نسبي، بیا دا نسبه په دوه قسمه دي: ۱ بذاته، ۲ بغیره، ۳ مع غیره. ۲ سببي. ۳ رد ذوالفروض، ۴ ذوالارحام، ۵ موالات الموالات، ٦ مقرله بنسب، ۷ وصیت، ۸ بیت المال.

## فقه کتاب الاقرار درس

## دیرشم فصل

## په فقه د کتاب الاقرار بیان

### لومړی مبحث: د اقرار تشریح

### لومړی مطلب: د اقرار پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: اقرا په لغت کې الاثبات والاعتراف ته وایې چې شرعا دا دی: هو الاخبار عن ثبوت الحق للغیر علی نفسه.

دوهم جز: د اقرار اثبات دلایل: الله ج وایې چې ااقررتم و اخذتم علی ذالکم اصري... سنت رسول الله وایې چې و غد یا انیس الی امرات هذا فان عترفت فارجمها.

دریم جز: د اقرار تعریف د قانون په اساس: اقرار په محکمه کې د هغه امر له اخبار څخه عبارت دی چې د دعوت طرفته د حق بقاء یـــــــــــا یو حالت په مقر باندې ثابت کړی مدني قانون په اند سره هم همداسي دی.

څلورم جز: احناف وایې چې د اقرار ارکان یو رکن دی: د مقر لفظ دی، جمهور وایې څلور رکنه لري: ۱ مقر، ۲ مقر له، ۳ مقر به، ۴ د تقریر صیغه.

پنځم جز: د اقرار شرطونه: ۱ د مقر شرطونه: ۱ مقر به معلووم وي، ۲ عاقل به وي، ۳ بالغ به وي، ۴ مقر به په خپله خبره پوهیږي == د مقر له شرطونه: ۱ مقرله به معلوم وي، ۲ مقرله به د استحقاق اهلیت ولري، ۳ مقرله به د مقر اقرار نه تکذیبوي.

شپږم جز: هر کله چې یو ازاد عاقل او بالغ شخص د چا په حق کې اقرار وکړي نو مقر به پری لازمیگي که مقر به شی مجهول وي او که معلوم وي اقرار حجت قاصره دی: ځکه چې د اقرار اثر غیر ته نه متعدي کیږي او د اقرار اثر خاص په مقر باندې قصر کونکی دی: حریت په اقرار کې ځکه شرط و گرځولای شو چې مطلق اقرار صحیح و گرځی.

اووم جز: حر او عبد مأذون له ته لکه څنگه چې حر ته ازادي ده څنگه چې حر په اموالو کې اقرار کولای شي همدا رنگه عبد مأذون له هم کولای شي یعنی عبد مأذون له په حدودو، اموالو، او قصاص کې اقرار کولای شي، خو محجور علیه په اموالو کې اقرار کولای نه شي او په حدودو او قصاص کې اقرار کولای شي ځکه په مال کې اقرار نه شي کولای چې دا په خپله مال دي د مولی، مولی په خپل غلام باندې اقرار کولای شي ځکه هغه په خپله مال دی.

اتم جز: د ماشوم او مجنون اقرار غیر لازم دی ځکه چې دا اهلیت نه لري، مگر د هغه ماشوم اقـــــــــــــرار صحیح دی چې هغه مأذون له وي ځکه دغه ماشوم تر بالغ حکم پورې ملحق دی.

نهم جز: د مقر به جهالت د اقرار صحت څخه نه منع کوي ځکه چې تر مجهول شي هم صورت نیولي شي خو د مقرله جهالت د اقرار څخه یعنې د اقرار د صحت څخه منعه کوي ځکه چې د مجهول کس مستحق کیدل نا ممکن دي.

لسم جز: که چیرته د مقر او مقرله تر مینځپه مقر به کې اختلاف راغی نو قول د مقر سره د قسمه معتبر وي=والقول قوله مع یمینه ان ادعی المقرله اکثر من ذالک.

یوولسم جز: ولو قال لفلان علی مال فاالمرجع الیه في بیانه و یقبل قوله فی القلیل والکثیر.

دولسم جز: که چیرته چا ویلي چې لفلان علی مال عظیم نو بیا به د دوو سو ۲۰۰ درهمو څخه په لږو کې یعنې درهمو کې قول نه قبلیږي، امام صاحب رح وایې چې د مال عظیم په ذکر کولو سره د لسو ۱۰ درهمو څخه په کمو کې د مقر قول نه قبلیږي، ځکه چې لس ۱۰ درهمه د سرقت نصاب دی، ځکه چې دغه لس ۱۰۰ لوي مال دی چې د انسان محترم لاس قطعه کیږي.

| دیارلسم جز: قول یې: | حاصل یې: |
|---|---|
| لفلان علي مال عظیم من الراهم؟ | ۲۰۰ درهمه دي. |
| لفلان.....................من الدنانیر؟ | ۲۰ درهمه دي. |
| ...............................الابل؟ | ۲۵ اوښان. |
| ...... لکه غنم وربشي؟ | د زکات نصاب دي. |
| لفلان علي اموال عظیم؟ | دري نصابونو اندازه ده. |
| .......... اموال عظام من الدنانیر؟ | ۶۰۰ درهمه دي. |
| ................. دراهم کثیرت؟ | ۱۰ درهمه دي. |
| لفلان علی دراهم؟ | دري ۳ درهمه دي. |
| لفلان علی کذا درهما؟ | یو درهم دي. |

څوارلسم جز: که چیرته چا اقرار کړي وو لفلان علي مأت درهم ؟ امام صاحب رح وایې چې ټول درهم پرې لازمیگي او امام شافعي رح وایې چې یو درهم پرې لازمیگي او د سلو تفسیر به کوي، لفلان علی مأت و ثوب؟ نو دلته اتفاق دی چې په مقر باندې یوه جامه ده او د سلو تفسیر به کوي، همدا رنگه لفلان علی مأت ثوبان؟ دوه جوړي شوي، لفلان علی مأت وثلاثت اثواب نو بیا دري یعنې ۱۰۳ جوړي شوي.

پنځلسم جز: و من اقر بتمرت في قوصرت لزمه التمرت والقوصره.

شپاړسم جز: و من اقر چې ما غوا په غوجله کې غصب کړی ده نو صرف د شيخينو په نيزد سره غوا پرې لازميږي، او امام محمد رح وايې چې د غوجلې تاوان پرې هم راځي، او که چېرته چا اويــــــــــلي و من اقر غصبت ثوبا في منزيل لزماه جميعا، او و من اقر غصبت ثوبا في ثوبا نو دوه جوړي پرې لازمی دي.

اولسم جز: و ان قال غصبت درهم في درهم نو بيا يو درهم دی، و ان قال ثوب في عشرت اثواب لم يلزمه الا ثوب واحد عند ابي يوسف رح، و قال محمد رح لزمه احد عشر ثوبا، د امام محمد رح دليل دا دی: قيمتي جامه په لسو جامو کې پيچل کيږي نو امکان د دې شته دی چې لس ۱۰ جامي دی يوې جامي ته ظرف شي.

اتلسم جز: و ان قال له علي من درهم الى عشرت، نو دلته د امام صاحب رح په نيزد سره نهه ۹ پر مقر باندې لازميږي، صاحبين وايې چې پر مقر باندې لس ۱۰ حسابيږي، امام زفر رح وايې چې پر مقر باندې اته ۸ لازميږي.

نولسم جز: و من قال لحمل فلانت على الف درهم فاءن قال لوصي له فلان او مات ابوه فورثه فاالاقرار صحيح ځکه چې ممقر په داسې سبب اقرار کړی چې صالح سبب دی لپاره د ثبوت د ملک حمل.

شلم جز: و ان قال ثم اذا جاءت به حيا في مدت يعلم انه کان قائما وقت الاقرار لزمه، فاءن جاءت به ميتا فاالمال للموصي والمورث حتی يقسم بين ورثه.

يو ويشتم جز: مقر اقرار وکړو او صالح سبب يې ذکر کړو نو د مقر اقرار صحيح دی، مقر اقرار اوکړو ......... ، وقر مبهم اقرار اوکړو امام صاحب رح او محمد رح وايې چې اقرار يې صحيح دی، او ابويوسف رح وايې چې نه صحيح کيږي.

دوه ويشتم جز: ۱ و من استثنی متصلا باقراره صح الاستثناء و لزمه الباقي، ۲ فان استثنی الجميع لزمه الاقرار و بطل الاستثنی لکه: لفلان على الف درهم الا الف درهم، ۳ و ان قال له مـــــــــأت درهم الا دينار او الا قفيز حنطت لزمه مأت درهم الا قيمت دينار اوالقفيز، ۴ له على مأت درهم الا دينار او قفيز حنطت نو د شيخينو په نيزد سره په مقر باندې سل ۱۰۰ درهم دي، ۵ و ان قال له على مأت درهم الا ثوبا لم يصح الاستثناء، او محمد رح وايې چې په دواړو کې اقرار نه صحيح کيږي، ٦ و من اقر بحق و قال ان شاالله متصلا باءقراره لا يلزمه الاقرار، و من اقر بداره واستثنى بناءها لنفسه فللمقرله الدار والبناء، ۷ و من ثمن عبدا ولم يعينه لزمه الالف ولا يصدق في قوله ما قبضت عند ابي حنيفه رح وصل ام فصل، ۹ و من اقر بغصب ثوب ثم جاء بثوب معيب فاالقول قوله.

# اسلامـــي جزايي حقـــوق درس

## يو ديرشم فصل

## د جزايي حقوق بيان

### لومړی مبحث: د جزا تشريح

### لومړی مطلب: د جزا پيژندنه، اقسام او اړوند وضاحت

لومړی جز: جزا په لغت کې د بدلی او انتقام په معنا ده، اما په عقوباتو کې د اذيت او ازار په معنی ده د جزا غرض: د انسان اصلاح کول د جرم څخه.

دوهم جز: د جزاگانو تقسيم د خپل مينځنۍ رابطي له حيثه: ۱ اصلي جزا هغه ده چې اصلا د معين جرم لپاره ټاکل شوی وي لکچه قصاص د قتل عمد لپاره، ۲ بدلي جزاگانی: دا هغه جزا ده چې اصلي جزا يې د يو ساقط کونکې سبب له امله ساقط شي، يا دا چې د يو اصلي مانع په اساس اصلي جزا تطبيق نه شي لکه: قصاص او حدود چې ساقط شي او د قصاص په عوض ورته ديت راشي او حدودو کې تعزيري جزا راشي، ۳ تبعي جزا: دا هغه جزا ده چې جاني مجرم ته د اصـــــــــلي جزا د ورکولو تر څنگ پرته د قاضي د حکم څخه ورکول کيږي لکه: د قذف حد تطبيق چې ۸۰ درې دي د شاهدي د نه قبليدو جزا يې تبعي جزا ده، ۴ تکميلي جزا: دا هغه جزا ده۹ چې د اصلي جزا تر څنگ قاضي مناسب وگڼي د تعزيري جزاگانو حکم هم کوي لکه: د غل څخه غوڅ شوی لاس ورته په غاړه کې واچوي او تبعي جزا د قاضي د حکم څخه پرته تطبيق کيږي او تکميلي جزا بيا د هغې خلاف ده، د جزا قانون ماده وای چې: که چېرته يو سړی په حبس دوام يا اوږد حبس وي په دې شرط چې د هغه عمر د لسو ۱۰ کالو څخه زيات وي محکوم شي د لاندې حقوقو څخه محروميږي: ۱ دولت نه، ۲ ماموريت نه، ۳ په اداره کې کار څخه، ۴ د پارلمان د غړيتوب نه.

دريم جز: د جزا تقسيم د قاضي سلطي څخه: ۱ يو حده جزا: دا هغه جزا ده چې قاضي په کې زياتوالی او کموالی نه شي کولای لکه ټول حدود، ۲ دوه حده جزاگانی: دا هغه جزا ده چې ادنی او اعلی حد لري نو قاضي کولای شي چې هغې کې اندازه تعين کړي.

څلورم جز: د جزا تقسيم د حکم له حيثه: ۱ ټاکل شوی جزا: دا هغه جزا ده چې د شارع له خوا اندازه ټاکل شوی وي لکه: حدود، ۲ ناټاکل شوی جزا: دا هغه جزا ده چې د هغې خلاف قاضي مجرم ته په نظر کولو سره هغه ته جزا ورکوي او زياتوي او کمه وي ورته.

پنځم جز: د جزا تقسیم د محل له حیثه: ۱ بدني جزا: دا هغه جزا ده چې د مجرم په بدن باندې واقع کیږي لکه: اعدام، جلد، د لاس اوپښې غوڅول. ۲ نفسي جـــــــــزا: دا هغه جزا ده چې د انسان په روح باندې راځي لکه: توبیح، تهدید، نصیحت، ۳ مالي جزا: دا هغه جزا ده چې د انسان مال ته صدمه رسوي لکه: نقدی جریمه، ضبط.

شپږم جز: د جزا تقسیم د جرایمو له حیثه: ۱ حدود: دا هغه جزا ده چې په لغت کې منع ته وایې او په اصطلاح کې هغه ټاکل شوی مجازات دي چې تعین یې د شارع له خوا ټاکل شوی وي او قاضي په کې مداخله نه کوي، ۲ قصاص او دیت: به لغت کې بدلي ته وایې، او قصاص متابعت بدلي او مساوات ته هم وایې او به اصطلاح کې هغه ټاککلي مجازات دي چې یواځې د بنده ګانو د حقوقو لپاره ټاکل شوي دی، ۳ کفارات: دا هغه دي چې ګناه پرې بښل کیږي چېې د مری د ازادولو او روژي نیولو او طعام ورکولو په شکل اداء کیږي، ۴ تعزیرات: دا هغه دي چې د تأدیب مرستې او نصرت په معنی دي او هغه نا ټاکلي مجازات دي چې د حدودو قصاص دیت او کفارات و نه لري، یا هغه دي چې د جزا د اندازې تعین یې د قاضي په واک کې وي.

اووم جز: د حدودو تطبیق په قاضي باندې واجب دی عفوه، بخشش بلکل نشته دی، په قصاص کې قاضي د عفوه اسقاط حق نه لري مګر د حق خاوند عفوه وکړي کولای شي او حد د احکامو په معنا هم راغلی دی. او حد په اصطلاح کې د احنافو په نیزد سره هغه ټاکل شوي مجازات دي چې د الله حق لپاره ټاکل شوي دي، جمهور علماء وایې چې حدود هغه ټاکل شوي مجازات دي چې د الله او بنده ګانو حقوقو پاندې واقع کیږي.

اتم جز: مالي حفاظت لپاره د غلا او سرقت جزا ده، او د نفس حفاظت لپاره قصاص او دیت دی، د عرض حفاظت لپاره د قذف حد دی، د دین حفاظت لپاره د ارتداد حد دی، د نسل حفاظت لپاره د زنا حد دی.

## دوهم مطلب: د حدودو او شبهاتو اړوند وضاحت

لومړی جز: د حدودو سقوط د شبهو په اساس: دا هغه مجازات دي چې د جاني مجرم ژوند، جسم، شهوت او حیثیت ته صدمه رسوي او هیڅوک نه شي کولای چې پرته د شرعي سبب څخه د بل شخص جسم، ژوند، شهرت او حیثیت مجروح کړي یعنې حد باید د هر قسم شبهو نه خالي وي نو دلیل: نبي ص وایې چې ادرؤالحدود باالشبهات.

دوهم جز: د احنافو په نیزد سره شبه په دوه قسمه ده: ۱ شبه په محل کې، ۲ بل شبه په فاعل کې. او شوافع وایې چې په دری قسمه ده: شبه په محل، په فاعل کې، په جهت یا طریقه کې. تفصیل یې دا دی چې: ۱ شبه په محل کې: که یو څوک کوروالی وکړي د خپلې ښځې سره په روژه کې یا حیض کې یا نفاس کې نو دغه سړي باندې حد نشته دی، او امام ابویــــــــــوسف رح وایې چې حد پری شته دی، او نور وایې چې حد پرې نشته دی، ۲ شبه په فاعل کې: که چېرته اوغواړي چې دا یې خپله ښځه ده او هغه ورسره کوروالی وکړي نو هغه یې خپله ښځه نه وه نو دلته شبه ذ=راغله نو حد

پرې نشته دی، ۳ شبه په طریقه یا جهت کې: دا هغه ده چې د فعل د حرمت او عدم حرمت په باره کې راځي یوه ډله علماء وای چې دا حرام دی او بله ډله وایې چې دا حلال دی نو د دې شبه په اساس سره حد نشته دی.

دریم جز: زنا: د احنافو په نیزد سره: په مخامخ باندې کوروالی کول دي چې د ده په نکاح کې نه وي او نه یې ملکیت وي، او که د شاه طرفنه یې وکړو نوبیا زنا نه ده، د شوافعو په نیزد سره: چې یو شرم ځای داخلول دي په داسې شرم ځای کې چې شرعا حرام وي او په طبعي ډول ورته میلان کیږي، حنابله وایې چې زنا د شرعي حق نه په قبل یا دبر کې زنا کولو ته وایې یا د نارینه سره یا د ښځي سره، مالکیان وایې چې زنا قصدا د یو مکلف شخص له خوا وطي کول په داسې فرج کې چې د ده ملکیت نه وي.

څلورم جز: مشتحاتی: د دې مطلب دا دی چې ښځه به بالغه وي صغیره به نه وي، خد مختاره به وي په زنا کولو کې، او که چېرته د سړي له خوا جبرا دا کار شوي وي نو بیا په ښځه باندې حد نشاته دی او سړي باندې شته دی، او که چېرته د ښځې له طرفه جبرا زنا شوي وي نو امام شافعي رح وایې چې سړي باندې حد نشته دی دلیل: رسول الله ص وایې چې رفع عن امتی الخطایه والنسیان وما استکرهو علیه، امام احمد رح وایې چې پر سړي باندې حد شته دی دلیل: دلته انتشار نیغ والی دی او انتشار په رضایت دلالت کوي، امام صاحب رح وایې چې دا دوه ۲ قسمه لري: ۱ یو هغه اکراه ده چې د حاکمي ښځې له خوا وشي، ۲ او بل پرته د حاکمي ښځې له خوا وشي. نو په اول کې حد نشته دی او دویم کې حد شته دی، او امام زفر رح وایې چې په دواړو حالاتو کې حد پرې شته دی.

پنځم جز: د زنا تطبیق شرایط: ۱ عقل، بلوغ، اشلام. او امام مــــــــالک رح وایې چې که چېرته کافر سړی د مسلمانی ښځې سره زنا وکړي که چېرته دا زنا یې په زور سره کړي ورسرهنو باید کافر اوژل شي او ښځه دې خوشي شي، او که چېرته یې په خپله خوښه دا زنا کړي وي نو په ښځه باندې دی حد تطبیق شي او کافر دی تعزیرا جزا شي جمهور وایې چې په کافر باندې په زور سره زنا کړي وي نو په کافر باندې حد تطبیق شي، او که په اختیار شوې وي نو په دواړو باندې حد راځي، او امام صاحب رح وایې چې که چېرته دواړو په رضایت سره کړدی وه دا زنا نو په ښښځه باندې په حد جارې شي او سړی به تعزیرا جزا شي دا ځکه چې د حد تطبیق لپاره اسلام شرط دی، بل دا دی چې اختیار به ثابت وي، جماع به وي، که چېرته څوک د حیوان سره زنا وکړي د څلورو ۴ مذاهبو په اند حد پرې نشته دی، امام ابویوسف رح وایې چې جزا به دا وي چې انسان او حیوان دواړه به مړه شي او د حیوان غوښه په اوغورځول شي، په فاعل کې شبه نه وي.

شپږم جز: د محصن پیژندنه: محصن د حر په معنا سره راغلی دی، او د غفیف په معنا سره دی، د متاهل او واده په معنا سره راغلی دی، او د وطی په معنا سره راغلی ده، او په اصطلاح کې محصن عبارت دی د عفیف اوازاد متاهل مکلف شخص څخه عبارت دی چې صحیح نکاح یې کړې وي او د نکاح وروسته یې دخول صورت نیولی وي، دا به عاقل وي، حریت او محصــــــــن وي، د صحیح نکاح په صورت کې به یې وطی کړي وي.

اووم جز: صورت کې کافر رجم کیږي، او امام مالک رح، امام صاحب رح، او محمد رح وایې چې کافر محصن نه بلل کیږي د احصان لپاره شرط دا دی چې اسلام به ولري.

اتم جز: د تبعید او جلد جمع والي: شوافع او حنابله وایې چې دا دواړه سره جمع کیږي دلیل: البکر باالبکر مأت جلد و تغریب عام.

نهم جز: رجم او جلد جمع والی: ابن حزم رح، او اسحاق بن راهویه رح، حسن بصري رح، شعیه زایده وایې چې اول دی ۱۰۰ سل دري اوهي او بیا دی رجم شي.

لسم جز: د زنا د حد د ثبوت وسایل: ۱ شاهدان، ۲ اقرار، او د هغې ښځې حمل ښرگندیدل چې هغه میړه ونه لري، او جبر پرې نه وي شوي، او د شاهدانو تزکیه دا ده: چې عدل ولري. د شاهدانو شرایط دا دي چې عقل، بلوغ، د شاهدانو شمیر، د شاهدانو عدالت، اسلام، تصریح، یعنې په کنایې ډول سره نه وي، د مجلس اتحاد، د مشهود اتحاد، ذکوریت، معانیه، اصالت، د گونگي شهادت نه قبلیږي، تقادم امام صاحب رح وایې چې شهادت باندې به وخت نه وي تیر شوی، مشــــــهود علیه به د زنا کولو قدرت ولري، شاهدان به د شهادت ورکولو وخت کې د اهلیت بقاء ولري.

## دریم مطلب: د اقرار پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت:

لومړی جز: اقرار په زنا سره څلور ځله ثابت دی امام شافعي رح، مالک رح، طبري رح، داود رح وایې چې یو ځل اقرار صحیح دی، احناف وایې چې څلور ځله اقرار یې صحیح دی او امام احمد رح او اسحاق رح هم د احنافو رأیه تایده وي.

دوهم جز: د اقرار شرایط: اقرار کونکی به عاقل وي، اختیار به وي یعنې اقرار کونکې باندې به زور نه وی شوی، اقرار به څلور ځله وي، که یو ځل اقرار وکي احناف وایې چې حد پرې نه تطبیقیږي، د اقرار مجلس به مختلف وي اقرار کونکې به په هوش وي، او د زنا کولو قدرت ولري، او که د زنا کولو قدرت ونه لري نو شهادت یې نه دی صحیح لکه مقطوع اله.

درم جز: د حمل ښرگندیدل: احناف رح شافعي رح احمد رح وایې چې مجرد حمل ښرگند شي نو حد نه ثابتیږي تر څو چې شاهدان شاهدي و نه وایې یا دا چې اقرار و نه کړي.

څلورم جز: زنا په دوه قسمه ده: ۱ پټه زنا، هغه ده چې هغې کې شاهدان موجود وي، ۲ ښکاره زنا، هغه ده چې هغې کې حمل یې ښرگند شي او یا دا چې اقرار وکړي.

## څلورم مطلب: د قذف پېژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: قذف په لغت کې ویشتلو ته وایې چې اصلا د تیږو ویشتلو ته وایې، او په اصطلاح کې د زنا نسبت کول او یا د چا نسبت کولو ته قذف وایي، امام مالک رح وایي چې که یو عاقل بالغ شخص له خوا بل عاقل بالغ ازاد عفیف او مسلمان شخص ته د زنا نسبت وشي او یا ورته نسب نفې کړی، امام صاحب رح وایې چې قذف په دوه قسمه دی: ۱ صریح قذف: هغه ته وایې چې د یو شخص د نسب نفي کولو څخه عبارت دی لکه یو سړی بل ته اوایې چې د فلاني ځوی نه یې، او که څوک اوایې چې ته د دې مور څخه نه یې دا قذف دی.

دوهم جز: احناف وایې چې ته د فلاني ځوی یې او حال دا چې هغه یې ماما یا تره وي نو دا قذف نه دی، ځکه چې قران کې تره او ماما د پلار په ځای راغلی دی لکه: الله ج وایې: قالو نعبد الهک و اله اباءک ابراهیم و اسماعیل... .

دریم جز: د قذف ثبوت و سایل: اقرار، او بل شاهدې ورکول د قذف تکرار: ځیني وایې چې د تکرار په صورت کې یو حد دی، شوافعد وایې چې که دویم ځل یې قذف اویلي نو حد پرې نشته دی او تعزیرا مجازات کیږي، مالکیان او حنفیان وایي چې که چېرته یو ځل چاته قذف اوایې نو حد پرې نشي او دویم ځل یې بیا قذف اویلي نـــــــــــــــو په دې سړې باندې د قذف حد تطبیقیږي .

څلورم جز: یو جماعت ته چې قذف استعمال کړی نو امام صاحب رح او احمد رح او ثوري رح وایي چې یو حـــــــــــد پرې جاري کیږي، او امام شافعي رح اولیث رح وایي چې د هر یو کس لپاره جلا جلا حد دی.

پنځم جز: د قذف شرایط: قاذف به د شرعي احکامو پابند وي، قاذف به په خپله خوښه لفظ استعمال کړی یې، قاذف به د مقذوف پلار نه وي، قاذف ته به د قذف ویلو اجازه نه ورکړی شوې، مقذوف باید محصن وي، او د دې شرایط دا دي: عقل، بلوغ، اسلام، عفت، مقذوف به بایـــــــــد معلوم وي، او صریح لفظ به استعمال کړی وي لکه د زنا نسبت کول یا د قایمقام د صریحـــــــو الفاظو وي لکه د نسب نفي کول، او د قذف الفاظ به په دارالاسلام کې وي، په دارالبغي کې به نه وي، نو که وي نو بیا حد نه تطبیقږي، امام قرطبي رح وایي چې د قاذف شرایط دوه ۲ دي: عقل، بلوغ. د مقذوف شرایط دوه ۲ دي: د زنا نسبت کول، او د نـــــــــــــسب نفي کول. د مقذوف شرایط: عقل، بلوغ، اسلام، حریت، عفت. او په جموع کې ټول شرایـــــــــــــط نهه دي.

شپږم جز: په اغلب گمـــــــان سره د هجرت په څلورم ۴ کال باندې د نیشي په حالت کـــــــــې مانځه ته مه نیږدې کیږي دا حکم راغي عبـــــــــــدالله ابن عمر رض وایـــــــې چې اجتـــــــنبوالخمر فاءنها ام الخبائـــــث.

اووم جز: د رسول اکرم ص او ابوبکر صدیق رض په وخت کې د قذف سزا صرف ۴۰ دُری وي او د عـــــــــــــــمر رض په لومړیو کې ۴۰ دُري وي نو بیا د دې څخه نه منـــــــــع کیدل نو بیا په مشـــــــــــوره سره ۸۰ دُري شوي،

او امام احمد رح او شافعي رح وایې چې اندازه یې ۴۰ دُرې ده او علي رض غوره کړې ده، او اجماع وایې چـــــــې ۸۰ دُرې دي.

## پنځم مطلب: د شرابو پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د شرابو په څکلو تکرار سره دری ۳ ځلی اوهی او په څلورم ځل یې قتل کړی نو بیا دا حکم له مینځه لاړو.

دوهم جز: شراب هغه الکول دي چې انسان یې د څکلو لپاره استعمالوي د ایتایل د الکولو څخه عبارت دی چې کیمایې فارمـــــــــــولـه دا ده: CH1 CH2 CH3.

دریم جز: د شــــــرابو د ثبوت وسایــــــل: اقرار او شاهدان دي او امام مالک رح وایې چې په بوی باندې هم حد تطبیقیږي، او امام شافعي رح او امام صاحب رح وایې چې حد پرې نه تطبیقیږي ځکه دلته د ځینو شیانو بوی یو شان دی او دلته شبه میځته راغله نو د شبه په اساس سره حد ساقطیږي او رسول ص وایې چې ادرءالحدود باالشبهات.

## شپږم مطلب: دحد پیژندنه، اقسام او د هغې اړوند وضاحت:

لومړی جز: د حد تطبیق شرایط: د شرابو په نیشه باندې علم درلودل، اختیار، بلوغ، عقل، دي.

دوهم جز: د سرقت غلا حد: غلا هغه جرم دی چې د مـــــــــــال په ضد باندې واقع کیږي په اسلامي شریعت کې د مال په ضد باندې جرایم په دوه قسمه دي: یو هغه دی چې ټاکلي مجازات لري دا په دوه ۲ قسمه دي: ۱ هغه دی چې په پټ ډول سره د بل چا مال باندې واقع کیږي او جزا یې قطع ید السارق ده، ۲ هغه دی چې په نورو اموالو باندې واقع کــــــــــــــــــیږي او په ښکاره ډول په زور سره چې اول ته یې سرقت وایې او دوهم ته یې قـــــــــطاع الطریق وایې او سرقت په خپل وار سره په دوه قسمه دی: ۱ هغه دی چې د شبه په اســــــــــاس حد ساقطیږي، او یا د شرایطو په اساس سره، او یا دا چې بدون د رضایت نه په ښکاره ډول سره یې ترسره کړی وي لکه احتلاس نو په دې صورت کې تعزیرات راځي ، ۲ هغه دی چې د حد تطبیق یې شرایط پوره کړي چې‌یې هغه عبارت د قطع څخه دی.

## اووم مطلب: د سرقت پیژندنه، اقسام او د هغې اړوند وضاحت:

لومړی جز: سرقت:دا هغه ته وایې چې په پټ ډول سره د چا مال واخلی داسې مـــــــال چې نصاب ته رسیدلی وي، او ساتل شوی وي، ژر خرابیدونکی نه وي، دا مال چې کوم اخیستل شـــــــــوی دی دا به د بدای کېدو لپاره اخیستل شوی وي.

دوهم جز: دسارق شرایط: عقل، بلوغ، اختیار، په تحریم باندې علــــــــــم درلودل، که چېرته یو ماشوم یا لیوني د یو ډلی سره شریک شي په غلا کې نو امام صاحب رح او زفــــــــــر رح وایې چې قطعه پری نشته دی، امام ابویوسف

رح وايې چې که چېرته دغه مـــــال د محرز مـــــکان څخه اخيستل شوی وي د ليوني يا د ماشوم لخوا نو په دې ټولو باندې قطعه نشته دی او کــــــه چېرته اخراج د نورو کړی وو نو بيا پهد نورو باندې قطعـــــه شته دی دا ځکه چې د محرز مـــــکان څخه اخراج په غلا کې اصل دی.

دريم جز: د مســـــــــروق شرايط: غلا شوی مال به متقوم وي، مال به په پټ ډول سره اخيستل شوی وي، مال بايد شرعي نصاب ته رسيدلی وي، امام صاحب رح وايې چې د غلا شوې مال اندازه بايد يو طلای درهم وي يا لس ۱۰ شرعي درهم وي، دليل: لاقطع فيما دون عشرت دراهمـــــــا، لا قطع الا في دينار او عشرت دراهم== او د وزن په اعتبار سره درهم اوه ۷ مثقاله نقري دی چې لس ۱۰ درهم يې ۷۰ مثقاله نقري سره برابره ده، جمهور علماء او مالکيان رح او شافعيان رح او حنبليان رح وايې چې د شرعي نصاب اندازه څلورمه برخه د طلای دينار او يا دری ۳ نقري درهمو سره برابره ده دليل: تقطع يد السارق الا في دينار اربع فصاعدا لا تقطع اليد في ما دون ثمن المجن== شرايط: دا غلا شوی مال به سريع الفساد نه وي، غلا شوی مال به اصل مباح نه وي، هر څوک چې غل ته اجازه ورکړي نو هغه غلا نه ده يعنې اجازه به يې نه وي ورکړل شوی غل ته.

څلورم جز: د مسروق عنه شرايط: د ده ملکيت به په دې مال کې ثابت وي، او د مال مالک به وي، يا به چا ورسره امانت ايښی وي، يا به په ضمانت ورسره چا ايښی وي.

پنځم جز: مسروق منه شرايط: دلته بايد شرعي نظام موجود وي، مکان بايد دارالاسلام وي، که دارالحرب وي او که دارالبغي وي نو بيا غلا نه ده او که دلته څوک غلا وکړي نو هغه بايد حر نه وي.

## اتم مطلب: د غلا ثبوت وسايل او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د غلا ثبوت وسايل: شاهدان، شهادت په لغت کې هغه اطلاع او خبر ته وايې چې دريم شخص له خواغ حق بيان شي د قاضي مخکې لکه الله ج وايې چې واستشهدو شهيدين من الرجالکم... ، اصلي شاهد به مشهود به په خپلو سترگو ليدلی وي، په شاهد باندې به حد قذف نه وي تطبيق شوی، شاهد بايد خبری کولای شي، مالکيان رح وايې چې د گونگي شهادت په هغه وخت کې صحيح گرځي چې په اشاره خلک پوه کړي لکه څرنگه چې طلاق او نکاح يې صحيح کيږي همدا رنگه دا هم ده، حنابله رح وايې چې په هيڅ حالت کې د گونگي شهادت نه صحيـــــــح کيږي بلکه شهادت د هغه چا صحيح کيږي چې زيرک او هوښيار وي، تقادم وخت تيريدل نو امام صاحـــــــب رح وايې چې د وخت تيريدو سره شاهدي ته اعتبار نه ورکول کيږي، نو امامان وايې چې  چې د زماني په هر مقطع کې شهادت ورکولای شي.

دوهم جز: اقـــــــــرار: دويمه وسيله يې امام مالک رح او شافعي رح وايې چې په سرقت کې د اقرار تکرار ته ضرورت نشته دی او يو ځل بس.

دریم جز: یمن سوگند: دریمه وسیله یې دا ده: چې که شاهدان ونه لري سارق هم اقرار ونه کړي نو بیا به قسم کوي او که چېرته د قسم نه انکار وکي نو بیا به د مال خاوند قسم کوي د دریو ۳ امامانو په نیزد سره قطعه نشته دی مگر امام شافعي رح او زایده رح وایې چې قطعه پرې شته دی.

څلورم جز: د ډلی په غلا کې اشتراک کول امام صاحب رح وایې چې که هر یو کس لس لس ۱۰ ۱۰ درهم ورسیگي نو د دغې ټولو نه لاس قطعه کیږي که چېرته دغه نصاب نه وي نو بیا قطعه صورت نه نیسي، او جمهور علماء وایې چې یو نصاب شرط دی چې هغه لس ۱۰ شرعي درهم دي نو قطعه شته دی.

پنځم جز: د سارق به ښې لاس هغه وخت قطعه کیږي چې کله د سارق چپ لاس روغ وي او که نه وي نو بیا سارق نه لاس نه قطعه کیږي== نور وایې چې د گوتو نه قطعه شي نو دا نه ده صحیح، امام شافعي رح او احمد رح وایې چې د غل نه لس قطعه شي نو هغه به ورته غاړه کې واچول شي، امام صاحب رح وایې چې دریم او څلورم ځل باندې قطعه نشته دی نوبیا ځل باندې دا بندي شي یعنې دا سارق به باید ونیسي او بندي به یې کي.

شپږم جز: امام صاحب رح وایې چې غل که چېرته په غلا کولو کې و نیول شو نو حد پرې نشته دی ځکه چې جرم نه دی بشپړ شوی او بل دا چې د محرز مکان څخه نه دی خارج شوی، او امام شافعي رح وایې حد پرې باید تطبیق شي نو دا چچې کامیاب نه شو نو دا بیا بل خارجي عامل دی.

## نهم مطلب: د حرابت پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: حرابت یا قطاع الطریق: احناف وایې چې حرابت د غلا حد پوری تړلی دی، غلا ته وړه غلا وایې او حرابت ته لویه غلا وایې ځکه چې دې کې مشترکه نقطه شته دی چې هغه غلا ده او حرابت ته لویه غلا ځکه وایې چې هغه د امام په غاړه وي، او بل دا چې په حرابت کې نورو عامو خلکو ته صدمه رسول دي امام شافعي رح وایې چې حرابت دیته وایې چې د مال اخیستل د قتل په سبب سره یا د رعب اچولو سره د یو ځای څخه د ښکاره کېدو نه عبارت دی په داسې حال کې چې هغه خپل شوکت او زور باندې اعتماد وي.

دوهم جز: محارب ته محارب په لاندې صورتونو کې وایې: مال یې په زور اخیستی وي، مال وا نخلي خو ویره واچوي، مال واخلي په زور سره خو څوک ونه وژني، مال یې وا نه خیست او قتل یې په زور وکړي، مال او قتل دواړه یې په زور وکړه نو په دې ټولو حالاتو کې دې کس ته محارب وایې دا فرق نه کوي چې یو دی او که ډیر دي.

دریم جز: د حرابت حرامت: انما جزاء الذین یحاربون الله و رسوله و یسعوون فی الارض فسادا... .

څلورم جز: د قطاع الطریق د ثبوت وسایل: شاهدي، او اقرار څخه دي او تابعین سعید ابن مسیب عطا داود رح وایې چې د هر یو عمل لپاره جلا جزا ټاکل شوی ده: ۱ که د لاری شکونکی صرف قتل یې کړی وو او مال یې نه و وړینو جزا یې د قتل جزا ټاکل شوی ده، ۲ که قطاع الطریق دواړه کاره یې کړي وو هم قتل او هم یې مال غلا کړی وو نو جزا یې

صلب دی یعنی په دار ځړول دي، ۳ که قطاع الطریق یواځې مال غلا کړی وو نو جزا یې ښی لاس او چپه خپه یې قطع کیږي، ۴ که قطاع الطریق داسې کار یې کړی وو چې صرف خلک یې یرولی وو نو جزا یې صرف د وطن څخه شړل دي.

## لسم مطلب: د بغاوت پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: بغاوت: امام احمد رح وایې چې بغاوت هغه ته وایې: ۱ چې د حق امام مقابل کې یې پاڅون کړی وي که امام عادل هم نه وي، ۲ اماکم مالک رح وایې چې باغیان هغه څوک دي چې د تأویل بنا باندې جنګ کوي لکه: گمراه طایفي، او خوارج... د تحریم حکمت: چې د مسلمانانو وحدت ټوټه کوي.

دوهم جز: د بغاوت جزا: که باغیان یو خوندي ځای ولري نو امام کولای شي چې وینیسي او بندیان یې کړي تر څو توبه اوباسې، او امام لپاره رواه نه دي چې د نیولو څخه مخکې وژل شروع کړي ترڅو چې هغوې جګړه او وژنه نه وي شروع کړي.

دریم جز: باغي په خپله بغی سره د ایمان نه خارجیږي ځکه الله ج د مؤمن په نوم نومولی دی الله د دوی قتال واجب کړی دی که بغاوت ته ادامه ورکړي نو قتل یې واجب دی کله چې الله ته رجوع وکړي نو قتل یې ساقط ګرځي که د باغي قتل وارث وي نو له میراث څخه نه محرومیږي ځکه دا هغه قتل نه دی چې د میراث مانع شي.

## یوولسم مطلب: د ردت پیژندنه، حکم او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د ردت حکم: په لغت کې رجوع ته وایې او په اصطلاح کې د اسلام څخه کفر ته رجوع وکړي برابره ده که دا رجوع په نیت وي او که بغیر د نیت وي، یا داسې کار وي چې هغه کفر ته شامل وي، یا صریح الفاظ اوایې، یا تقاضا د کفر وکي.

دوهم جز: د ردت شرایط: اسلام، عقل، بلوغ، اختیار، نر او ښځه په کې یو شان دي خو د صغیر لیوني ردت د منلو وړ نه دی.

دریم جز: د مرتد جزا: و من یرتد منکم عن دینه فیمت و هو کافر فألئک حبطت اعمالهم فی الدنیا والاخره و ألئک اصحاب النار هم فیها خالدون، او د ټولو اتفاق دي چې یو سړی مرتد شي نو مرگ یې رواه دی، او ښځه باره کې اختلاف دی: ۱ امام صاحب رح وایې چې ښځه دی په زندان کې واچول شي نو هره ورځ دی ورته د اسلام دعوت ورکوي او یا په زندان کې مړه شي، جمهور علما وایې چې د نر او ښځه جزا یو شان ده ځکه چې د ضرر اثار یو شان دي دلیل: ایما رجل ارتد عن الاسلام فادعوه ولا فاضرب عنقه و ایما امرأة... .

څلورم جز: د مرتد مال به امام صاحب رح وایې چې دا به تریته واخیستل شي ترڅو چې ایمان را نه وړي، امام ابویوسف رح او محمد رح وایې چې حق یې نه سلب کیږي.

## دولسم مطلب: د قتل پېژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: قتل د بل انسان د روح او بدن جلا کولو ته وايي، قتل د شافعي رح او احمد رح په مذهب باندې په دري ۳ برخو تقسيم شوی دی، او امام مالک رح وايي چې دا رأيه د امام صاحب رح هم ده چې ۱ عمد قتل، ۲ شبه عمد قتل، ۳ د خطا قتل، ۴ د خطا په ځای د خطا قتل، ۵ د سبب قتل



دریم جز: د امام صاحب رح په نیزد سره د قتل اقسام:




دوهم جز: زخم په دوه ۲ قسمه دی: ۱ شجاج زخم: هغه زخم دی چې د انسان پر سر باندې واقع کیږي، ۲ زخم هغه دی چې د انسان په نور بدن باندې واقع کیږي، او امام محمد رح وايي چې دا په نهه قسمه دی. ۳ مامومه زخم هغه ته وايي چې د ماغو ته ورسیګیږي یعني د ام الدماغ څخه تیر شي او حرام ماغزه زخمي کړي، جرحه هغه زخم ته وايي چې د مخ او سر څخه علاوه په نور بدن وي نو دا زخمونه په دوه ۲ قسمه دي: ۱ جایفه هغه زخم ته وايي چې خیتې ته ورسیږي که د سینې له خوا وي او که د شاه له خوا وي، غیر جایفه هغه زخم ته وايي چې کوم لاسونو او پښو ته رسیږي.

## دیارلسم مطلب: د سقط جنین پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: سقط جنین: د هغه جرایمو له جملې څخه دی چې اکثره د ښځو له خوا ترسره کیږي دا هغه دی چې بې وخته یعني بې مودې اخراج څخه دی چې د ژوند قابلیت ونه لري، او کار سنوف وايي چې د حمل طبعي دوران قطع کول د سقط جنین څخه عبارت دی، جنین: په لغت کې د مور د خیتې د پټې او مسطوري نطفې په معنا دی، او په اصطلاح کې هغه ته وايي چې جن فی الرجم، او د حقوقو په اصطلاح کې د نطفې د استقرار څخه شروع د حمل تر وخته پورې چې معمولاً د جنین د نطفې د استقرار او د اولې ورځې څخه شروع تر اومی ۷ میاشتې پورې مرحلې نه عبارت دی.

دوهم جز: حمل په لغت کې چې د مور په رحم کې وي، او په اصطلاح کې هم په همدې معنا اخیستل کیږي او هغه موجود ته وايي چې د ښځې په رحم کې وجود پیدا کیږي چې د تولد دورې پورې بلل کیږي.

**څوارلسم مطلب: د قتل، ضرب، جرح، او سقط جنین د ثبوت وسایل او د هغې اړوند وضاحت**

لومړی جز: د قتل، ضرب، جرح، او سقط جنین د ثبوت وسایل: جمهور علما وایې چې دغه جنایې ات په دریو طریقو سره ثابتیږي: اقرار، شهادت، قسامت بیا څلورم کې دا هم دی چې د قرائنو احوال.

دوهم جز: قصاص کلمه متابعت ته وایې، او د بل چا په قدم قدم ایښودلو ته وایې مګر مساوات او برابري معنا په کې ضمن ده یقینا هغه اله چې نوکان پرې پري کوي نو هغې ته مقص وایې چې دواړه خواوې برابرې وي او په اصطلاح کې هغه دی چې عقوبت المقدرة بالمماثلة و تجب حقا للعبد.

دریم جز: قصاص او حدودو ترمینځ فرق: ۱ قصاص په میراث وړل کیږي نه حدود، ۲ تقصاص د قاضي په فیصله ترسره کیږي او حدود خپله عملي کیږي، ۳ قصاص کې عفوه شته دی نه حدودو کې، ۴ په قصاص عملي کولو کې امام موجودوالی شرط نه دی او په حدودو کې شرط دی، ۵ د حدودو په اجراء کې د غلا اوقذف څخه علاوه دعوه او شکایت شرط نه دی اما په قصاص کې د شکایت کونکي شتون شرط دی.

څلورم جز: د قاتل شرطونه:



پنځم جز: د مقتول شرايط: په لاندي ډول دي:




شپږم جز: جمهور علماء وايي چي نارينه د ښځي په مقابل كي قصاص كيږي، عكرمه، عطاء، حسن بصري، او يو قول د امام شافعي رح هم دی چي نارينه د ښځي مقابل كي نه قصاص كيږي.

اووم جز: د قتل شرطونه: قتل په قصدي توګه وي، د قصاص اخيستلو كي به ولي به موجود او معلوم وي، امام صاحب رح وايي چي قتل به په دار الاسلام كي شوی وي، په قتل كي به د قاتل سره د مقتول خطا كونكی غير مكلف درنده او خوړونكی ښاروی به شريک نه وي، امام احمد رح مالک، شافعي رح ثوری رح وايي كه پلار خپل ځوی د بل چا سره اوژني نو په دي صورت كي به پلار نه قصاص كيږي، امام صاحب رح وايي  كه پلار يي د خپل ځوی د بل چا سره په وژنه كي شريک وي نو هغه شريكوال هم نه قصاص كيږي.

اتم جز: د قصاص او تطبیق کولو شرایط: قصاص اخیستو کې به ټول وارثان به په اتفاق وي، قصاص اخیستونکی به مکلف وي، د ټولو وارثانو موجودیت، قصاص وخت کې به امن وي، قصاص اخیستو کې به امام یا خلیفه موجود وي، د قصاص اخیستو اله به خه تیره وي، د قصاص فیصله به په شرعي نظام وي.

نهم جز: امام صاحب رح احمد رح مالک رح اوزاعي رح وایې چې د مقتول مکلف وارثان به د قصاص اخیستو پوره صلاحیت ولري، امام شافعي رح ابویوسف رح او محمد رح وایې چې ټول اولیا مکلـــــــف کیدل شرط دی، او قصاص اخیستونکې باید مکلف اشخاص وي، امام صاحب رح وای چې غـــــــــایب ولي نه شي کولای چې قصاص تطبیق کړي باید خپله موجود وي ځیني فقها وایې چې کـــــــــــولای شي، امام مالک رح وایې چې د حاضر ولي کولای شي چې قصاص تطبیق کړي.

لسم جز: د قصاص تطبیق ځای: ۱ هر ځای کې چې اوغواړي نو تطبیق کولای شي، ۲ په حرم شریف کې ځیني وایې چې حرم شریف کې قصاص نه شي کولای ځکه دلیل: و مندخله کان امنا، ځیني مالکیان رح او شاعیان رح وایې چې قصاص په کې رواه دی.

یوولسم جز: د قصاص د سقوط شرایط: عفوه، سلحه کول، د قاتل لیــــــــــونتوب، د قاتل مړینه، په قتل کې د مجنی علیه رضایت، نو امام مالک رح وایې چې د صلحې په بدل کې څوک حرام مال ورکړي نو قصاص نه ساقطیږي، احناف وایې قصاص ساقطیږي او دیت ته هم نه ګرځي، حنابله او شوافع وایې چې چې قصاص ساقطیږي او دیته ته دا مسله ګرځي او صلحه به داسې نه وي چې حلال حرام کړي او حرام حلال کړي، او احناف او مالکي علماء وایې د قاتل لیونتوب حالت کې قصاص نشته دی او د قاتل روغوالی ته به کتل کیږي.

## پنځلسم مطلب: د تعزیر پیژندنه، اقسام او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: تعزیر مطلق سزا ورکولو ته وایې خو د قانون له خوا وي.

دوهم جز: تعزیرات په دري ډوله دي: ۱ په ګناهونو باندې تعزیـــــــــرات، ۲ د عمومي مصلحت لپاره تعزیرات، د مکروهاتو په اجراء او د مستحاباتو څخه په امتناع باندې تعزیرات.

دریم جز: تعزیرات د دریو اعمالو په مقابل کې تاکل شوی دی ۱ هغه تعزیرات چې هغه اسلامي شریعت حرام کړي دي او هغه یې ګناه ګڼلی ده، ۲ هغه ډول تـــــــــعزیرات دی چې هغه ذاتا شرعي نه وي حرام کړي دي خو د ځینو صفاتو له وجهی هغه ناروا شوي دي دا ضروری نه ده چه هغه ګناه هم وي، ۳ هغه ډول تعزیرات دي چې ذات حرام دی مګر په شریعت کی یې قباحت نبودل شوی دی.

څلورم جز: پر ګناه تعزیر: ټول علما پدې اتفاق دی چه هر هغه ګناه چه هغه د الله حق یا د بنده حق څخه تجاوز شوي وي او حد، قصاص او دیت ورته نه وي ټاکل شوی تعزیرې جزا پرې تطبیق کیږي، د الله د حق نه دا مطلب دې یعنې د ټولنی حق او د حق العبد نه دا مطلب دی یعنې د اشخاصو حقوق یا ذاتی حقوق دي.

پنځم جز: تعزیر د عمومي مسلحت لپاره: د اسلامي شریعت قاعده عامه ده، چه تعزیر پر معصیت باندې دی او بې د معصیت نه تعزیر نشته دی، او هر هـــــغه شی چې حرمت یې په نص موجود وي تعزیر به ورکول کیږي.

شپږم جز: پر قباحاتو باندې تعزیر: په هر واجب پرینبودلو باندې تعزیر ورکول کیږي، یو ډله فقها وایې چې په مکروه فصل باندې تعزیر جایــــــــــز نه ګڼل کیږي او بل دادی چې مکروهه نهی او مندوب امر نه ګڼل کیږي نو ځکه یې د جزا وړ نه بولي ځکه چې جزا په تکلیف باندې بنا ده، او مندوب مکروهه نهی کې تکلیف نشته، بله ډله فقها وایې چې تعزیر پرې جایز بولي، د مکروه او مندوب نه مخالفت ته ګناه نه وایې او فاعل یې ګناه ګار نه بولې، بلکې هغې ته قباحت او مخالفت وایې.

اووم جز: د تعزیري جزاګانو اقسام: (۱) اعدام یعنې د قتل جزا (۲) د درو جزا (۳) د حبس یا د ازادۍ د سلب جزا (۴) د تبعید یعـــــــــــنې د وطن نه د شړلو جزا (۵) وعظ او تر وعظ سپکې جزاګانې (٦) د هجر جزا (۷) د توبیخ جزا (۸) د تهدید جزا (۹) د تشهیر جزا، ځینې نور وایې چې نورې جزاګانې هم شته خو هغه د مجرم په کتلو سره قاضي ورته مناسبه جزاګانې ټاکې لکه د وظیفي لرې کول، محرومیت د عامو شیانو څخه، ازاله، مصادره، غرامت او داسې نور...
.

اتم جز: امام مالک رح وایې چې د درو اوچت تعین الوالامر ته سپارل شوی دی او دا ځکه چې تعزیري جزا د جرم د ظروفو او مصلحت پورې تړلي دي نو امام مالک رح وایې چې کوم مجرم د ۱۰۰ درو څخه زیات اوهل شي نو دا رواه ده اګر که په حدودو کې د ۱۰۰ څخه زیاتی دُري حد نشته دی ۳۹ دُري دي، امام ابویوسف رح وایې چې تعزیري دُري اوچت حد ۷۵ دی، امام شافعي رح وایې چې درې ۳ رایې دي: ۱ یوه رایه یې د امام صاحب رح او محمد رح سره برابره ده او ۲ دویه رایه یې د ابویوسف رح د قول سره برابره ده، او بــــــــل رایه یې ۳ دریمه دا ده چې د ۷۵ څخه زیاتي اوهل شي نو رواه ده، او امام زفر رح وایې چې ۷۹ دُري دي.

نهم جز: د حبس اقسام: ۱ محدودالمدت: دا هغه ته وایې چې د عادي جرایم په څیر ښودل شوی دی او یو ورځ یې حبس دی دا یې کمه اندازه ده، بعضي وایې چې زیاته اندازه ی ٦ شپږ میاشتې دي، او ځیني وایې چې یو کال موده یې ده، او ځینې نور وایې چې د دې اندازه تعین اولوالامر ته سپارل شوی دی، غیر محدود الموت حبس: دا جزا د خطرناکو جرایمو او متکررینو مجرمینو لپاره دی چې څو ځله خطرناک جرمونه وکړي بیا هم اصلاح نه شي بیا دی د ټول عمر لپاره د بندې کړي.

لسم جزم: امام صاحب رح وایې چې د زنا په اساس باندې تغریب یا تبعید تعزیري جزا ده، او نور وایې چې د دې لپاره حد دی نه تعزیر نو ځکه امام شافعي رح او امام محمد رح وایې تغریب تعزیر جزا یې د یو کـــــــال څخه کم وي یا دا چې یو کال ته ونه رسیږي، امام صاحب رح وایې چې یو کال دی تعزیر د تغریب لپاره، امام مالک رح وایې چې په زنا کې تعزیر دا دی چې د وطن نه شړل دي که یوکال وي او که زیات وي.

یوولسم جز: وعظ او نصیحت د قاضي صلاحیت دی، تو بیح جزا د تعزیري جزاگانو څخه دی، او همدا رنــــــــگه د تهدید جزا هم ده د تعزیري جزاگانو څخه.

دولسم جز: مالي مجازات: امام صاحب رح وایې چې د مال په اخیستلو سره تعزیر منع او غغیر جایز دی، امام ابویوسف رح وایې چې جایز دی د ضرورت په وخت کې امام شافعي رح وایې چې دا جایز بولـــــــي، او دا په دې معنا تر څو مجرم اصلاح شي نو بیا به ورکوي.

دیارلسم جز: مال مجازات د ابن تیمه رح په نیزد سره: د تأثیر له مخې، ۱ اتلاف، ۲ تغیر، ۳ تملیک: ۱ اتلاف: دا هغه دی چې ټول هغه شیان د منکراتو څخه دي هغه باید تلف شي لکه: بتان، د موســــــــيقي الات، د شرابو لوښي... ۲ تغیر: کله چې مالي جزا په تغیر سره صورت مومي، ۳ تملیک: لکه یو څوک د چا سره غلا وکړي په هغوې باندې دوه چند تاوان دی که په ورکولو یې فیصله وکړه.

څوارلسم جز: لواطت په لغت کې ککوړولو او پیوسته کولو ته وایې لکه: لاط الحوض باالطین.

پنځلسم جز: د لواطت ثبوت وسایل: امام مالک رح او شافعي رح او احمد رح او ابویوسف رح او عمر رض په نیزد سره: په لواطت کې هم د زنا په رقم څلور ۴ شاهدان پکار دي، امام صاحــــــــب رح دوه ۲ عادل شاهدان وي نو ثبوت پرې راځي او د لواطت ضرر کم دی په نسبت زنا ته.

شپاړسم جز: امام صاحب رح وایې چې لواطت لپاره تعزیر جزا ده نه حد او امام ابویوسف رح او محمد رح وایې چې لواطت لپاره هم حد دی دلیل: لواطت د زنا په شان نه ده ځـــــــــکه عرف کې دې ته خلک زنا نه وایې او دلیل د امام اابویوسف او محمد رح دلیل: اتأتون الفاحشة من نساءکم ... مطلق ننوتل دي که په فرج کې وي او که په دبر کې وي نو دوااړه حرام دي او د انسان طبیعت میلان کوي زنا او لواطت دواړو ته او په زنا او لواطت کې دواړو کې غسل واجب دی نودواړو لپاره حد دی نه تعزیر.

اوولسم جز: ظاهریان وایې چې دا زنا نه ده بلکې معصیت دی او په دې کې تعزیر دی.

اتلسم جز: امام مالک رح او احمد رح او یو قول د شافعي رح هـــــم دی چې د لوطي جزا قتل ده که محصن وي او که غیر محصن وي که فاعل وي او که مفعول وي دلیل: من وجدتموه یعمل عمل قوم لوط فاقتلو الفاغل والمفعول به، امام شافعي رح او یاران وایې چې د لوطي جزا د زنا په شان ده، دلیل: اذا اتی الرجل بالرجل فهو زانیان، امام صاحب

رح وایې چې  د لوطي لپـــــــــاره جزا تعزیر ده تر هغه چې مړ شي او یا توبه اوباسي او که عادت یې وي نو امام کولای شي چې سیاستا یې قتل کړې، عرف کې ورته څوک زنا نه وایې او قران ورته هم فرق ښودلی دی.
نولسم جز: د هغه نارینه جزا خلک یې په خپل زان اچوي دا باید په اور کې وسوځول شي او دا د علي رض دی.

# د اسلام قضــايي نظام درس

## دوه ديرشم فصل

## د قضايي نظام بيان

### لومړی مبحث: د قضايي نظام تشريح

### لومړی مطلب: د قضا پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: قضا د اداء په معنا ده ای اديتم ...، د اتمام او کمال په معنا ده، د حکم او قضا په معنا ده، او د قطع او فصل په معنا ده، د فراغ په معنا ده، د بـــــــــــــيان په معنا ده، او په اصطلاح کې د احنافو تعريف دا دی: ولايت الفصل فی الخصومات و قطع المنازعات علی وجه مخصوص، او مالکيانو تعريف دا دی: چې بأنه الاخبار عن حکم الشرعي علی سبيل الالزام به، د شافعيانو په نيزد سره دا تعريف دی: چې هو رفع الخصومة و بين الخصمين فأکثر بحکم الله تعالی، حنابله داسې تعريف کړی دی: چې الالزام باالحکم الشرعي و فصل الخصومات، معاصـــــــــــرو علماء داسې تعريف کړی دی: هو الحکم بين الخصومات باالقانون اسلامي بکيفية مخصوصة.

دوهم جز: د قاضـــــــــــي لپاره دري ۳ صفات دي: ۱ د امر او نهي له اړخه به مفتي وي، ۲ د اثبات له اړخه به شاهد يا گواه وي، ۳ د الزام له اړخه به سلطی وي يعني قوه به ورسره وي.

دريم جز: د قضا ارکان پنځه ۵ دي: ۱ القاضي، ۲ المقتضي به قران، سنت، اجماع، قياس، اجتهاد وي، ۳ المقتضي فيه دا څلور دي: ۱ هغه خاص د الله حقوق لکه د زنا حد يا د شرابو حد، ۲ چې د انسانانو لپاره وي لکه دمبيع ثمن... ۲ مشترک حقوق چې د الله حق په کې غالبه وي لکه د زنا حد او د شرابو حد، ۳ مشترک حقوق چې د انسان حق په کې غالبه وي لکه د قذف حد، ۴ المقتضي له، ۵ المقتضي عليه، ٦ کيفيةالقضاء.

امام مالـــــــک رح وايي چې د يو کس غوندې عوض او بديل پيدا نه شي نو بيا دغه کس په قضا باندې مجبور کيدای شي لکه څرنکه چې جهاد او امامت پرې واجب دی نو همدا رنگه قضا هم ده، امام احمد رح وايي چې قضا د فرض کفايي څخه ده.

څلورم جز: د جاهليت په وخت کې د قضا لپاره عرافان ته تلل او هغوې به امانت او صدق او نورو صفاتو باندې مشهور وو او ځيني خلک به کاهنانو ته تلل == حلف الفضول دا يو ځای وو نو په دې ځای کې د قضا څخه استفاده کيدله په جاهليت کې.

پنځم جز: د ابوبکر صدیق رض د دورى غوندې قضا وه بیا عمر رض د قضا چارى یې جلا کړې او هر څه یې ورته مناسب کینښوده ... .

شپږم جز: د قاضي شرطونه: التکلیف دې کې دوه شیان دي ۱ بلوغ او عقل دی ۲ اسلام امام صاحب رح وایې چې کافر په خپل ولس باندې قضا کولاى شي نه په مسلمانانو باندې ۳ العدالت په اصطلاح کې ملکة فی النفس تمنع صاحبها من ارتکاب الکبائر والرذائل و من الاحرار علی تالصغائر، امام وردي رح وایي چې عدالت و هو ان یکون صادق اللهجة ظاهر لامانة عفیفا عن المحارم متوقیا المأثم بعیدا من الریب مأمونا فی الرضاء والغضب مستعمرا المروءة مثله في دینه و دنیاه، نو د فاسق قضا نه صحیح کیږي ۴ الذکوریة امام صاحب رح وایې چې د ښځې قضا په هغه چارو کې صحیح کیږي چې د ښځو په اموالو او نورو شیان پورې مربوط وي ځکه چې په دې امورو کې یې شهادت قبلیږي نو قیاسا په دې سره قضا هم صحیح کیږي، اما په حدودو چارو کې قضا یې نه صحیح کیږي د ښځي دا قول د امام صاحب رح دی، امام ابن جریر طبري رح وایې چې ښځه په ټولو چارو کې بغیر د استثنی نه قضا یې صحیح کیږي ځکه چې افتا یې صحیح ده نو قضا یې هم صحیح ده، جمهور علماء وایې چې د قاضي لپاره ذکوریت شرط ګڼي ځکه چې ښځه ناقص العقل ده دلیل: لن یفلح قوم ولو امرهم امرأة ۵ حریت دی د غلام قضا نه صحیح کیږي چې دا اهل نه لري یعنې اهلیت نه لري، امام وردي رح وایې چې غلام په خپل نفس کې نیمګړى دی ځکه غلامي د شهادت مخه نیسي ٦ الاجتهاد به ورسره جمهور وایې چې اجتهاد شرط دی لپاره د قاضي ځیني احنافو ویلي دي چې د مقلد قضا هم صحیح کیږي ۷ سالم الحواس وي باید قاضي.

اووم جز: د اجتهاد شرطونه: معرفةالکتاب، معرفة السنة، معرفة الاجماع، معرفة القیاس دی.

اتم جز: امام مالک رح وایې چې د ړوند قضا صحیح کیږي دلیل: ابن ام مکتوم د خپل ځاى ناستی مدینه منوره کې ټاکلی وو، نو هغه نا بینا وو ځیني شوافع وایې چې د ړوند قضا صحیح ګیږي ځکه چې شعیب ع نا بینا وو.

## دوهم مطلب: د وضعي نظامونو، قضا پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړى جز: په وضعي نظامونو کې د قضاتو ټاکل: ۱ انتخابات قاضي د عمومي انتخاباتو له لارې ټاکل کیږي او دا هم نقصانات لري ۲ د تعینولو له لارې دا هغه ده چې اجرایه قوه قاضیان ټاکي ۳ جمع بین الطریقین دا هغه ده چې د اجرایه قوه او مقاماتو له خوا ټاکل کیږي.

دوهم جز: په اسلامي شریعت کې د قاضي ټاکل: په اسلامي نظام کې د قاضي ټاکل د خلیفه یا د هغه نایب له خوا ټاکل کیږي بل څوک نه شي کولاى چې قاضي وټاکي البته اوس په دې وخت کې د اجرایې قوه ځاى نه دې پاتى، او په اسلامي نظام کې د قاضي ټاکل د انتخاباتو له لارې جواز نه لري البته په بعضو حالاتو کې کیداى شي لکه اسلامي هیواد

د دشمنانو د استعمار لاندې وي او يا د اشغال په حال کې وي نو که دا عذر لاړو نو بيا هماغه اول حالت ته راځي او قاضي به د اسلامي شريعت نظام کې ټاکل کيږي دا په دې معنا چې د قاضي قدر او عزت ډير شي.

دريم جز: هغه الفاظ چې ولايت پرې منعقد کيږي په دوه ډوله دي: ١ صريح الفاظ: دا په څلور ډوله دي: قلدتک، وليتک، استخلفتک، استنبتک == امام وردي رح وايي چې کناى الفاظ په اوه ٧ ډوله دي: اعتمدت عليک، عولت عليک، ورددت اليک، و جعلت اليک، فوضت اليک، و وکلت اليک، و أسندت اليک په ذکر شوي الفاظو سره يو کس قاضي کيداى نه شي بلکه هغه مهال صحيح کيږي چې دا الفاظ وي فاحکم، يا فنظر، يا فاقض ورسره زياته نه کړي، په موجوده وضعي نظامونو کې داسې معمول دى چې د بادشاه يا ريس جمهور په استازيتوب د عدلي وزارت هغه اشخاص د قضا شرايط يې پوره کړي وي نوماندوي يې او وروسته د هغې د مقرريدو فرمان صادروي او بيا يو معيني محکمي ته معرفي کوي او تقرر فرمان په رسمي جريده کې بيا خپريږي نو دا اسلوب د اسلامي نظام سره اړخ لګوي.

څلورم جز: د قاضي صلاحيتونه: د رااشده خلفاو په دوره کې د قاضي صلاحيتونه يواځې د مدني دعواو تر حل لاندې به محدود ول د قصاص او حدود پلي کول د خليفه يا دهغه نائب يې کوي.

پنځم جز: بيا د امويانو په وخت کې دا صلاحيتونه پراخه شول د نظام، ايتام، او د اوقافو چارو صلاحيت هم قضا ته ورپه غاړه شو او د خليفه چاري يې هم قاضي ته وسپارلي، د عباسيانو په وخت کې د خلکو ستونزي زياتي شولی او د دولت اړوند قضاياوي زياتی شوي نو خليفه په دې مجبور شو چې د قاضي صلاحيت زيات کړي، او د قضايې نظام په لاندې برخو تقسيم شو: ١ د محتسبي شعبه: په دې کې صرف زيات تحقيق ته اړتيا نه ليدل کيږي لکه امر باالمعروف او نهي عن المنکر، ٢ د مظالم شعبه: په دې کې زيات تحقيق په کې څيړل کيږي چې قاضي د هغې څخه عاجز وي لکه په دولتي چارو کې مقامات، چارواکي، او د منتفذو خلکو حکم صادرول ځکه دا ډير قوت غواړي او دا کار خپله خليفه يا وزير بايد وکړي.

شپږم جز: امام وردي رح وايي چې ما په خپل کتاب کې الاحکام السلطانيه او ادب القاضي کې د قاضي صلاحيتونه په دوه ٢ ډوله دي: ١ عام صلاحيت لکه د منازعاتو حل او فصل، د حقوق لاسته راوړل، هغه اشخاص چې د جنون يا د وړکتوب له لحاظه ممنوع التصرف وي د هغې اموالو تصرف وشي... ٢ خاص صلاحيتونه: ١ د مکان له اړخه: لکه د ولسوالي څخه ماسوا بل ځاى کې صلاحيت نه لري، ٢ د زمان له اړخه: لکه دې وخته پورې به قاضي کار کوي لکه شپږ مياشتې، ٣ د اشخاصو له اړخه: اشخاص ورته په ګوته کړي نو د دې کسانو په اړه قضا کوي، ۴ د قضاياوو له اړخه: قاضي ته به اويل شي چې نکاح ، طلاق، او حدودو په چارو کې قضا کوه، ۵ د قاضي صلاحيت د مشخص مال له اړخه: چې په دومره اندازه کې به ته فيصله کوي لکه ٢٠٠٠٠٠ دوه لکه افغانى څخه به پورته فيصله نه کوى او د دې څخه ښکته به فيصله کوى.

اووم جز: د قضا او فتوا ترمینځ فرق: قضا په شخړو او معاملاتو کې لاسرسی لریلکه  جنایې ې، حقوق. اما فتوه چې کوم ده دا په عباداتو پورې اړه لري، کوم حکم چې د قاضي له خوا صادريږي نو الزامي بڼه لري خو فتوه الزامي بڼه نه لري، د دوې ترمینځ عموم او خصوص موجود دی د قضا او فتوه ترمینځ چې هر قاضي مفتي کیدای شي او هر مفتي قاضي نه شي کیدای.

اتم جز: امام قزافي نه چا پوښتنه وکړه چې امام ته د مفتي او قاضي نسبت کول داسې دی چې جز ته د کل نسبت کول دي.

اتم جز: امام وردي رح وايې چې د امام دندې: د دين اصولو ساتنه، د اسلامي حدودو اقامه، د مستأجرينو ترمينځ لانجه ختمول، امن تحقق را وستل، د واليانو ټاکل، له مصادرو څخه اموال راټولونه، په دولتي کارونو باندې نظارت، د قاضي تصرفات.

نهم جز: د قاضي همکاران: کاتب یا منشي، د اهل علم فقهاو څخه یوه ډله لرل، بواب، حاجب، مترجم، قسام، شاهدان، مزکي، اجريا، تأديبونكي، د محبس مسئول، وکیل مدافعڅ امام مالک رح وايې چې د دې لپاره ټاکي چې هغه د خلکو نه خبر وکالت وکړی چې د هغه په اړه معلومات ولري، امام صاحب رح وايې چې د وکالت نيول جواز د دې لپاره دی چې دعوه مخکې بوځي.

لسم جز: احناف وايې چې د قاضيانو ډير والی جايز دی ځکه چې مسله په اسانه او ښه توګه حل شي، او مالکي علما وايې چې د قاضيانو تعدد جواز نه لري دليل: چې په قضيه کې به صحيح توګه قضاوت نه شي کولای، جمهور علما وايې چې څه باک نه لري ځکه چې قضا يو ډول وکالت دی او په وکالت کې د وکلاوو تعدد جواز لري.

يوولسم جز: د عباسيانو په دوره کې د قاضي القضات منسب وټاکل شو هارون الرشيد چې د قاضيانو لباس يې بدل کړو.

دولسم جز: د قاضي حکم به د قران او سنت او اجماع او قياس او د اسلامي قواعدو څخه نه وي او هم د قاضي مخکنی حکم به د وروستي حکم سره به خلاف نه وي.

## دریم مطلب: د حکم او حکمیت پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: ۱ حکم: هغه چاته وايې چې هغه خلک يې د خپلو منازعاتو د حل او فصل لپاره غوره کوي، او هر حکم چې صادروي نو په هغه باندې قناعت کوي، ۲ حکميت: هغه چاته وايې چې دوه کسان په خپلو کې دعوه ولري هغه چاته د هغه په حکم کولو کې رضايت لري ممراجعه کوي تر څو فيصله وکي.

دوهم جز: د حدودو په جرايمو کې حکميت: حنفي مالکي او شافعي رح وايې چې په حدودو کې جواز نه لري دا وظيفه د اولو الامر خلکو څخه ده، په قصاص کې ځيني حنفي علما وايې چې جواز لري په کې حکميت، مالکي علما وايې چې جواز نه لري ځکه چې قصاص د حقوق الله څخه دی، شافعي علما وايې چې جواز لري په کې حکميت، حنبلي علما وايې

چې جواز نه لري په کې حکمیت او وایې چې حکمیت په دي شیانو کې جواز لري: ۱ ازدواج، ۲ لعان، ۳ قذف، ۴ قصاص دی نه په نورو شیانو کې جواز نه لري.

## څلورم مطلب: د دعوې تشریح او اړوند وضاحت

لومړی جز: دعوه د طلب په معنا ده او په اصطلاح کې ۱ حنفي علما وایې چې قول مقبول عند القاضي یقصد به طلب حق لنفسه قبل غیره او دفع عن حق نفسه، ۲ د حنابله په نیزد سره: دعوه دا ده چې اضافة الانسان لنفسه استحقاق شيء في ید غیره او في ذمته، ۳ د ما کیانو په نیزد سره: دعوه دا ده چې طلب عین او في ما ذمة معین او ما یترتب علیه احدهما معتبرة شرعا لا تکذبها عادت، ۴ د شوافعو په نیزد سره: دعوه دا ده چې الاخبار عن وجوب علی غیره عند الحاکم.

دوهم جز: د دعوه سبب: د مدعي قصد او اراده ده رکن: یې دا دی چې جمهور علما وایې چې څلور رکنه لري: ۱ مدعي، ۲مدعي علیه، ۳ مدعي به، ۴ صیغة الدعوه.

دریم جز: امام صاحب رح او احمد رح او سفیانن ثوري رح وایې چې دعوه دواړو خواو کولای شي چې د قضا مجلس ته راشي یا بل څوکوکیل وینسي، د شوافعو علما حنابله علما او جمهور علما په نیزد سره په حقوق البادو کې شرط دی چې وکیل وینسي او د دعوه دواړو خواو ته حاضر شي.

څلورم جز: امام صاحب رح وایې چې د وکیل له خوا دعوه پر مخ بیول جایز نه دي، امامن ابویوسف رح او محمد رح وایې چې دا کار جایز دی، جمهور علما وایې ځکه چې خلک د بیان او تعبیر سره په قوه کې توپیر لري.

## پنځم مطلب: د حدود او قضایا د دې وخت او بینه، فسق اړوند وضاحت

لومړی جز: حنفي علما وایې چې حدود او قضایا د وخت په تیریدو سره ساقطیږي او دا په هغه صورت کې چې د کوم مانع څخه پرته شاهدان قاضي ته نه ځي او د هغه په وړاندې شهادت نه وایې، جمهور علما وایې چې حقوق الله په تقادم سره نه ساقطیږي، مالکي علما وایې چې دین یا حق په مدین ثابت پاتې کیږي اما که دحق څښتن د ۲۰ شلو کلونو پورې د خپل حق غوښتنه وکړه نو قضا به ورته کیږي که نی نو وروسته د شکایت حق نه لري، ځیني مالکي علما وایې چې دیرشو ۳۰ کلنو لپاره دعوه اقامه کولای شي.

دوهم جز: د اثبات د طریقو څخه په مطلق توګه د دلایلو او براهینو اقامه کولو ته وایې، یا د حق اثبات لپاره وي یا واقعي اثبات لپاره وي.

دریم جز: بینه جمهور علما وایې چې په نصوص او قانون کې د شاهد په معنا راغلی دی ابن قیم او ابن فرحون وایې چې بینه حق ښکاره او بر ملا کوي او حق خه په واضحه توګه ښکاره کوي.

څلورم جز: فسق په لغت کې د يو شی نه خارجيدو ته وايې او په اصطلاح کې هغه دی چې ترک اوامرالله بارتکاب الکبائر.

پنځم جز: ابن قيم رح وايي چې د ښځو شهادت د سلفو او حلفو په نيزد سره په غير حدودو او قصاصو کې جايز دی احناف او حنابله وايي چې يواځې د يوې ښځې شهادت کفايت کوي اما د رضاعت په اړه باندې احناف علما وايې چې دوه نارينه يا يو نارينه او دوه ښځې شهادت بايد ورکړي مالکيه علما وايې چې په دې ډول شهادت د دوو ښځو شهادت صحيح کيږي، امام شافعي رح وايې چې د څلورو ښځو شهادت صحيح ګرځي.

## شپږم مطلب: د شهادت السماع پيژندنه، اقرار او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: شهادت السماع: چې شاهد د شهادت د ادآء پر مهال غير معينو کسانو ته نسبت کوي، د شهادت السماع شرطونه: ۱ دا شهادت يو جنس د هغه چا له لاسه نه خاجوي، ۲ دا شهادت د هغه چا لپاره ورکول کيږي چې د هغه په لاس کې جنس وي، د شهادت السماع موده: دا ده چې ځيني وايې چې ۵۰ کاله ده، او ځيني وايې چې ۴۰ کاله ده، او ځيني وايې چې ۱۵ کاله ده.

دوهم جز: جمهور علما وايې چې شهادت السماع په نسب، موت، نکاح، عتق، وقف مطلق، ملک، بانکداري، ولاء، ولايت، او داسې نور... امام مالک رح او شافعي رح وايې چې په حدودو او ټولو حقونو کې جايز دی شهادت السماع، او احناف او حنابله نخعي رح او شعبي رح وايې چې په حدودو کې جايز نه دی ځکه چې دليل: حدود په يقين سره بنا کيږي او په ادنا شبهي سره ساقطيږي.

دريم جز: اقرار د احنافو په نيزد سره دا دی: چې اخبار عن ثبوت حق للغير على نفسه، مالکيان وايي چې اقرار چې قايل څه حکم مرتبوي يا يې نه مرتبوي نو دا اقرار دی، امام شافعي رح وايې چې اخبار عن حق ثابت على المخبر، او حنابله وايې چې هو اظهار الحق لفظا او کتابتا او اشارتا نو دا ټول تعريفونه د اقرار دي.

څلورم جز: د اقرار د قانون له لحاظه اقسام: ۱ اقرار د رسمي قضا، ۲ اقرار د غير رسمي قضا.

## اووم مطلب: هغه حقوق چې قسم په کې جواز لري او د ې اړوند وضاحت

لومړی جز: هغه حقوق چې قسم په کې جواز لري: ۱ حقوق الله په دوه قسمه دي: ۱ حدود الله: ابن قدامه رح وايې چې په حدودو کې قسم نشته دی، ۲ مالي حقوق: دې کې احناف وايې چې کال پوره شوی نه وي او نه نصاب ته رسيدلی وي نو دلته قسم نه ورکول کيږي، شوافع وايې چې که د مال څښتن د ټول کال نه انکار وکړي نو دلته بيا قسم ورکول کيږي، بل ۲ په حقوق العبادو کې د مال په حکم کې وي دې کې قسم جواز لري.

دوهم جز: په نکول سره احناف او حنابله وايې چې په مجرد نکول سره قاضي باید فیصله وکړي، او امام مالک رح او شوافع رح وايې چې حکم نه صادريږي بلکه د مدعي اړخ ته متوجه کيږي.

دريم جز: کتابت لپاره مختلف الفاظ دي: صک، حجة، محض، سجل، وثيقه.

دريم جز: ۱ صک: دا هغه دی چې دیکې معاملات او اقرار ثبتيږي، ۲ حجت: هغه لیکنه ده چ يوه واقعه بيانوي چې د قاضي د لاسليک او امضا څخه عبارت دی، ۳ محض: دا هغه دی چې وقايع د دعوې د دواړو طرفونو دلايل او حجت په کې ثابتيږي، ۴ وثيقه: دا هغه ده چې ابن عابدين رح وايې چې وثيقه هغه کتاب دی چې په هغې کې دعوه ثبتيږي او قاضي سره ساتل کيږي.

څلورم جز: ديوان: د حساب صورت ته ويل کيږي، اما وروسته په حساب او محاسبه اطلاق شوې دی.

پنځم جز: د عقودو صکوک: دا هغه څه دي چې د عقد دواړه خواوې د خپلمينځني قرارداد صورت ليکي او ثبتوي، قرينه: هغه علامه ده چې د يقين حد ته پرې رسيږي، قرينه هغه ده چې قانون يا د قاضي د يوې واقعي نه د هغه واقعه لپاره معروف او پيژندل شوې وي استنباط کوي.

شپږم جز: ابن نجيم رح وايې چې قضا د قراينو سره جواز لري، ابن تيمه رح بدرالدين رح زيلعي رح ابن عابدين شامي رح وايې چې قضا به قراينو سره جواز لري، امام صاحب رح او احمد رح وايې چې جواز لري.

# دري دیرشم فصل

# ایات الاحکام بیان

## لومړی مبحث: د ایتونو تشریح او احکام

### لومړی مطلب: د ایتونو احکام اوړ د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: سبب د ایوب ع د وهلو خپلی ښځې لره چې ماته الله شفا راکړه نو زه به کوله ښامخا تا په ۱۰۰ سل دُرو وهم، او هغې ته یو شیطان راغي چې ما ایمان راوړو او داسې اوایه چې تا روغ کړو او هغه ورته ویلي وو چې زه ورته شفا ورکومه ... .

دوهم جز: البلاء نوعان: ۱ المشقة الشدیده: دا هغه دی چې دې سره زوال د نعمتونو او خیراتونو راځي لکه العذاب... ۲ الألم الشدیده فی الجسم: دا هغه ده چې دا نصب دی ځکه چې په جسد کې دی.

دریم جز: صبر د ایوب ع: ځیني وایې چې ۱۸ کاله یې صبر کړی وو، نو ځیني وایې چې۷۰ کاله یې صبر کړی وو او اول قول صحیح دی یعنې راجح دی.

څلورم جز: جصاص رح وایې چې په قران کې خو اباحت ښځو راغلی دی چې کله یې هغوي  نافرماني کوله لکه: الله ج وایې چې والتي تخافون نشوزهن فعظوهن... نو دا په دې دلالت کوي چې ښځه د ایوب ع چې کله یې وهل اوخوړل نو هغه لپاره د تأدیب وو نه لغیر النشوز ... وو .

پنځم جز: امام مالک رح او احمد رح وایې چې (و خذ بیدک ضغثا فاضرب به ولا تحنث انا وجدناه صابر ...) دا ایت خاص دی په باره د ایوب ع کې نازل شوی دی، نو عطا بن ابي رباح اوابن ابی لیلی رح وایې چې دا مذهب د ابو حنیفه رح او شافعي رح دی وایې چې دا حکم عام دی لپاره د ټولو خلکو او دیکې رخصت هم دی.

شپږم جز: امام صاحب رح او شافعي رح وایې چې څوک داسې اوایې چې دا قسم وکړي چې زه به تا لس ۱۰ دُري وهم نو هغه لاړ شي او یوه یې دره یې اوهله نو بري شو د یمین څخه یعنې اذا اصابه واحدمنها... او بیا شرط نه دی تفریق دلیل: قیصه د ایوب ع ده او دیکې رخصت هم دی، او امام مالک رح وایې چې لایبر بیمینه حتی لایفرق الضرب ځکه الله وایې چېې لکل جعلنا منکم شرعتا ومنهاجا.

اووم جز: امام جصاص رح وایې چې حیله جوړول جواز لري په اسلام کې خو شرط دا دی: چې فعل به مشروع وي، او رفع د مکروه وي، ځیني وایې چې مطلق حیله جواز لري، او امام الوسي رح وایې چې هر هغه حیله چېې اسلامي شریعت پرې زوال گرځي نو هغه حیله جواز نه لري.

اتم جز: امام فخر رازي رح وایې چې د الله افعال د بنده گانو د مصالحو او مقاصدو لپاره نه دي.

نهم جز: هل البر فی الیمین افضل ام الکفارة عن الیمین؟ په ایت شریف کې چې د قسم څخه د خلاصون نه په هغه صورت کې چې ګناه نه وي دا بهتره ده د کفارة نه، ابن تیمه رح وایې چې د ایوب ع په وخت کې د کفارة احکام نه وو نو ځکه هغه په خپل قسم باندې عمل وکړو، امام قرطبي رح وایې چې دا خبره صحیح نه ده چې هغه وخت کې حکم د کفارة نه وو... .

لسم جز: الذین کفرو نه مراد ابن عباس رض وایې چې د دې څخه مشرکین مراد دي، او جمهور مفسرین رح وایې چې هغه څوک مراد دی چې د اسلام مخالف وي او ابن العربي رح وایې چې د هغه هم همدا قول دی.

یوولسم جز: فضربالرقاب نه مراد دا دی چې سدي او جمهور مفسرین رح وایې چې قتل مراد دی، بعضی مفسرین وایې چې مراد ترینه د اسیر وژل دی، په تدریجي ډول سره نو دلته راجح قول اول دی دلیل: نو ایت کې مراد خو شوکت ماتول دي او شوکت ماتول په بل څه سره نه کیږي مګر په قتل سره.

دولسم جز: مقصود د فداء نه څه دي؟ ۱ بعضي مفسرین وایې چې ازادول د اسیر دي، بعضي وایې چې د اسیر خوشې کول دي هغه څه چې مسلمانان ترې مقابل کې اخلي: هغه دا دي چې ۱ د بندې بدله، ۲ مال اخیستل، ۳ منفعت اخیستل دي.

دیارلسم جز: حتی تضع الحرب اوزارها نه مراد څه دي؟ ۱ ابن عباس رض وایې چې هیڅ مشرک پاتي نه شي، مجاهد رح وایې چې هیڅ دین پاتي نه شي بغیر د اسلام نه، سعید ابن جبیر رض وایې چې تر هغه وخته پورې چې عیسی ع راښکته شي او دا ضعیف قول دی.

څوارلسم جز: د اسیر وژل رواه دي دلیل: اباعزه یې نیولي وو او هغه یې اوژلو د احد په غزا کې، خو امام الوسي رح وایې چې مجاهد ته رواه نه ده چې اسیر اوژني او که بیا یې هم اوژلو نو امام به هغه تعزیرا جزا کوي او د څه ضمه وار نه دی.

پنځلسم جز: د اسیر نه فدیه اخیستل جواز نه لري دا قول د امام صاحب رح دي نه په مال سره او نه په شي خرڅون سره بیا همدا اسیر د اسلام مقابل کې جنګیږي، صاحبین وایې چي تبادله جواز لري او امام صاحب رحمه الله وایې چې جواز نه لري او جمهور وایې چي فدیه اخیستل جواز لري.

شپاړسم جز: ولا تبطلو اعمالکم د دې نه مراد امام شافعی رح او احمد رح وایې چې یو کس په نفلي عبادت شروع وکړي نو کولې شي چې مخکی تر پوره کېدو هغه پریږدي څه ګناه او کفاره نه لري خو په حج کې واجب دي په روژه او لمونځ کې مستحب دي خو پوره کول یې واجب نه دي، دې ایات کې نفلي عبادت اختیاري دی دلیل: ما علی المحسنین من سبیل، امام صاحب رح او امام مالک رح وایې چې د پریښودو حق نه لري نو باید پوره یې کړي او قضأ پرې واجبه ده.

اوولسم جز: امام قرطبي رح وایې چې د هر چا فسق ظاهر شو نو د هغه خبره په حدیثو کې باطلیږي، جصاص رح وایې چې د الله ج دغه وینا (فتبینو) د دې نه مراد د فاسق له ګواهۍ د منلو او د هغې رد کول باندی اطلاق کیږي.

اتلسم جز: ابن عربې وايې چې دا مذهب د جمهور دې هغه وايې د باغيانو سره جګړه کول چې د امام مسلمانانو سره مخالفت ښکاره کړی وو نو اول ورته د صلحې خبر وړاندې کړی، که صلحه يې وکړه که نه نو بيا ورسره جګړه کول رواه دي، ځينې وايې چې دوې سره جګړه کول هر وخت رواه دي ځکه دوې اسلام ته ضرر رسوي جمهور دلايل: تقتله الفئة الباغيه، فقاتلو التي حتی تفي ء الی امر الله.

نولسم جز: د باغيانو مالونه: (۱) محمد بن حسن شيبانی رح وايې چې دا مال غنيمت نه شميرل کيږي بلکې د هغوی په مال باندې جګړه کولای شي چې کله جګړه خلاصه شوه نو بيرته مال ورته وسپاري (۲) امام ابو يوسف رح وايې چې دا مال يا وسله غنيمت شميرل کيږي او په پنځو برخو باندې ويشل کيږي (۳) امام احمد رح او امام مالک رح او مام شافعی رح وايې چې د دوې هيڅ شې غنيمت نه ګرځې دليل: د دوې باغي کيدل يواځی جګړه رواه کيږي نه بل شي.

شلم جز: فی کتاب مکنون نه مراد لوح محفوظ دي ابن تيمه رح وايې چې هغه مصحف چي په اسمان کې دی هغه ملايکي مسحه کوي نو بايد په ځمکه باندې يې پاک خلک مسحه کړي.

يوويشتم جز: د قسم اقسام د ذات د مقصم عليه په اعتبار سره دا په څلور قسمه دی (۱) د الله ج په ذات قسم کول لکه فورب السماء والارض (۲) د الله ج په مخلوقاتو قسم کول واتين والزيتون (۳) په قرآن سره قسم کول ص والقران ذ الذکر (۴) قسم کول په هغه څه سره چې د لا نافيه په راوړلو سره لکه لا اقسم بيوم القيامه.

دوه ويشتم جز: قسم د مقسم عليه په اعتبار سره په څلور قسمه دي: ۱ د ايمان په اصولو قسم کول لکه والصافات صفا ۲ د قران په حقانيت سره قسم کول لکه فلا اقسم بمواقع النجوم ۳ د هغه مذموم او ناوړه صفت د نفي کولو لپاره قسم کول لکه ن والقلم وما يسطرون ۴ د الله رسول د اثبات باندې قسم کول لکه يس والقران الحکيم.

## دوهم مطلب: د ظهار احکام او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: ظهار په اصل کې د مور سره تشبيه کول دي چې د هغې ابدي حراموالی دی که څوک د طلاق په نيت سره له خپلې ښځې سره ظهار وکړي دغه کار ظهار دی او که د ظهار په شکل يې خپلې ښځې ته طلاق ورکړو دغه عمل طلاق دی نو دلته لفظ ته اعتبار ورکول کيږي نه نيت ته دليل: اوس بن صامت رض د ظهار څخه د طلاق اراده وکړه نو هغه ظهار وګرځيدو نه طلاق.

دوهم جز: امام شافعي رح وايې چې ظهار د کبيره ګناهونو څخه شميرل کيږي، د جمهورو په نيزد سره د ظهار کولو پوري له ښځې سره جماع کول حرام دي لکه الله ج وايې چې فتحرير رقبم من قبل ان يتماسا ... اا و د دعوه په صورت کې بيا کفاره واجب کيدل دي لکه الله ج وايې چې والذين يظاهرون من نساءهم ثم يعودون لما قالو (* انت علی کظهر امي ) فتحرير رقبة من قبل ان يتماسا همدا رنګه د جماع مقدمي شيان هم حرام ګرځولي دي من قبل ان يتماسا کې عموم راغلی دی چې د ګټو اخيستلو ته شامل دی.

دريم جز: په ايت کې د (عود) څخه څه مطلب دی؟ ۱ امام صاحب رح وايې چې جماع کول مباح دي دا مطلب دی، ۲ امام مالک رح او احمد رح وايې چې يواځې د جماع قصد کول مطلب دی، ۳ امام شافعي رح وايې چې له ظهار ورکولو څخه وروسته سره له دې چې په طلاق ورکولو باندې توان لري هغه بايد وساتي، ظاهره وايې چې يواځې هغه وخت کفاره واجب ګرځي چې دويم ځل باندې ظهار وکړي.

څلورم جز: جمهور وايې چې د ذمي ظهار نه سهي کيږي ځکه چې الله وايې چې والذين يظاهرون منکم دې نه مراد غير مسلمو ته نه شامليږي ځکه چې ذمي د کفاره ورکولو اهليت نه لري، امام شافعي رح وايې چې څرنګه د ذمي طلاق سهي دی نو همدا رنګه يې ظهار هم سهي دي يواځې د مرې په ازادولو او مسکنانو ته خوراک ورکول سره کفاره ورکول دي نه پّ روژي نيولو سره دلته د جمهورو علما قول غوره دی.

پنځم جز: د وينځي نه ظهار نه سهي کيږي دا قول د حنفيانو او شافعيانو او حنبليانو دي ځکه دليل: من النساءهم نو د دې څخه مراد ازادی او اصيلي ښځي مراد دي، امام متالک رح چې وايې ظهار ورنه سهي کيږي ځکه هغه هم د ازادي ښځي په شان دي، امام احمد رح وايې چې کچا دا کار وکړو نو هغه ظهار کونکې نه دی بلکه کفاره دظهار به ورکوي.

شپږم جز: ټول فقهي علما وايې چې د ښځي له خوا ظهار نه سهي کيږي او که يې وکړو نو پر ښځي باندې کفاره نشته دی دا قول د ابن العربي دی، امام احمد رح وايې چې يو قول يې دی که خاوند د دې له وينا څخه وروسته جماع وکړه په دې ښځه باندې کفاره شته دی يعنې واجبه ده.

اووم جز: جمهور وايې چې ظهار يې صرف د مور پورې خاص کړي دی، امام صاحب رح او امام شافعي رح وايې چې ټول محارم په مور باندې قياس دي خو که څوک د عزت په وجه دا کار وکړي نو دا ظهار نه دی رسول ص دا کار منع کړی دی.

اتم جز: د ظهار کفاره: فتحرير رقبة کې اما صاحب رح وايې چې هر قسم غلام ازادول دي دليل: ځکه چې ټولو ته رقبه وايې، امام مالک رح او امام شافعي رح وايې چې رقبة کې ايمان شرط بولي دليل: ځکه مطلق ته په مقيد باندې چې د قتل ايت کې راغلی دی حمل کوي فتحرير رقبة مؤمنة ... فصام شهرين نو دلته قمري مياشتي معتبري دي او د پوره او ناقصي مياشتې فرق نشته دی فاءطعام ستين مسکينا: امام صاحب رح وايې چې هر مسکين ته نيمه پيمانه ورکول کيږي، امام مالک رح او امام شافعي رح وايې چې دغه کار کفايت نه کوي چې بايد د ٦٠ شپيته مسکينانو نه بايد کمه ورنه کړي.

نهم جز: ياايهاالذين امنو اذا قيل لکم تفسحو فی المجالس ... الخ دا ايت الله پاک د بدريانو صحابو په باره کې نازل شوی دی يعنې د هغوې د درناوې باره کې نازل شوی دی، مجاهد رح وايې چې د المجالس څخه مراد يواځی د نبي ص مجلس مراد دی، ابن عباس رض او حسن رض وايې چې د دې څخه د جګړي مجلس مراد دی، قتادته رح وايې چې

ټول مجلسونه مراد دي او همدا غوره قول دی، امام طبري رح وايې چې دلته عام مجلس مراد دی، قرطبي رح وايې چې مجالس په دې ځای کې عام دي. ابن العربي دليل: من قام من مجلسه ثم رجع اليه فهو احق به.

## دريم مطلب: د صلحې احکام او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: ياايهاالذين امنو اذا جاءکم المؤمنات مهاجراات ... دغه ايت په باره د عقبه لور ام کلثوم ګکې نازل شوی دی او دا تړون د حديبي وو چې هغه راغله نبي ص ته هغه بيرته وګرځوله نو الله دا ايتونه نازل کړه.

دوهم جز: سيد قطب رح وايې چې دا تړون د ښځو باره کې څرګند نه وو.

دريم جز: د ټاټوبي ځمکو اختلاف: امام صاحب رح وايې چې د ځمکو او وطنونو په جلاوالی سره راځي الله ج وايې چې فلا ترجعوهن الی الکفار ... ، جمهور وايې چې جلا والی په اسلام سره راځي، مجاهد رح وايې چ که ښځه په عدت کې وه او سړي ايمان راوړو نو ښځه د ده سړې ده او کنې ښځه طلاقيږي.

څلورم جز: ولا يعصينک في معروف... الخ: ١ ابن عباس رض وايې چې نوح علی الميت مراد دی، ٢ زيد ابن اسلم وايې لايدعون ويلا ولا يحدثن وجها ولا يقطعن شعرا ولا يسفقن ثوبا.

## څلورم مطلب: د جمعې د لمانځه احکام او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د جمعې د لمانځه احکام: ياايهاالذين امنو اذا نودي لصلات من يوم الجمعة .... دا ايت په باره د سعي د لمانځه کې نازل شوي دی: يوه قافله راوانه وه چې دې وخت کې نبي ص د جمعي خطبه يې بيانوله نو خلکو په ډير تيزس سره د قافلي مخکې ورغله او ١٢د ولس کسان پاتي شول نو الله دا ايت نازل کړو چې ( واذا راءو تجارتا او لهون نفضو اليها و ترکو کقائما........

دوهم جز: هغه اذان چې د جمعي په ورځ يې کوي چې تلل ورته واجب دي مانځه ته دغه وينا د الله چې اذا نودی لصلاة من يوم الجمعة فاسعو الی ذکرالله...... نو بيعه او شرا حرامه ده دې وخت کې خو ځيني وايې چې د اذان خطيب مراد دی چې سعي ورته واجب ده دليل: ابن عمر رض او حسن رح نه روايت دی چې د الله دغه وينا اذا نودي للصلاة من يوم الجمعة فاسعوا الی ذکرالله ... اويل چې کله امام راوتلو او مؤذن اذان وکړو نو د جمعه لمانځه لپاره سعي واجب ده، ځيني وايې چې الو اذان مراد دی چې سعي واجب ګرځوي مانځه ته د جمع په ورځ باندې دليل: اول اذان د خبرداری او اعلان معنا ورکوي چې د الله ذکر شروع شو او په دغه ورځ باندې شرا او عقد ناروا دی او بيا ځيني وايې چې دا عقد فاسد ګرځي او د فاسد حکم دا دی چې بيا به دا بيعه کوېږو په دغه وخت کې نه بلکه د لمانځه نه دفراغت وروسته، امام قرطبي رح وايې چې حراموالی يې د لمر زوال وشي تر فارغيدو پورې، امام شافعي رح وايې چې دغه حراموالی د خطبي اذان څخه شروع کيږي، امام مالک رح وايې چې اذا نودی للصلاة من يومم الجمعة فاسعو الی ذکرالله... نه عقد

نکاح کولای شي، نه د غلام ازادیدل کیږي، نه طلاق واقع کیږي، نه شرکت کیږي، نه د هبه احکام عملي کیږي، نه صدقه کیږي خو هغه صدقه چې تا باندې واجب گرځیدلی ده نه نورې لکه په لمانځه کې چې څوک چاته خیرات ورکوي نو کولای شي.

دریم جز: د جمعي لمانځه لپاره خطبه شرط ده احناف وایې چې خطبه شرط نه ده او خطبه په داس یو شې باندې مشتمله ده چې په عرف او عادت کې ورته خطبه وایې دلیل: ځکه الله یواځې د ذکر یادونه کړی ده نو د خطبي بیان یې نه دی کړي چې د هغې اوږدوالی یا لنډ والی دی، جمهور علما یعنې امام مالک رح او امام شافعي رح او احمد رح وایې چې خطبه واجبه او شرط ده بل قول د امام مالک رح دادی چې یو شرط دی په تبذیر او تحزیر باندې وي.

څلورم جز: د جمعي لمانځه لپاره باید څو کسان وي؟ د جمعي د لمونځ د سهي والي لپاره یو د شرطونو څخه د جماعت شرط هم دی دلیل: ځکه چې نبي ص وایې چې الجمعة حق واجب علی کل مسلم في جماعة الا اربعة: ۱ مملوک، ۲ امرأة، ۳ صبي، ۴ مریض. خو احناف وایې چې څلور کسان سره د امام کفایت کوي، مالکیان وایې چې ټاکلی شمیر شرط نه دی بلکه دا شرط دی چې دومره جماعت وي چې هغې سره یو قریه اباده شوې ویاو د دوې ترمینځ بیع صورت مومي، شافعیان، او حنبلیان وایې چې یو څخه زیات کسان شمیر لازمي دی چې کمه اندازه یې څلویښت کسان دي.

## پنځم مطلب: د طلاق حکمونه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د طلاق حکمونه: یاایهاالنبي اذا طلقتم النساء فطلقوهن لعدتهن و احصوالعدة... ۱ دا ایتونه هغه وخت نازل شولو چې نبي ص خپله بي بي حفصه رض طلاقه کړه نو دا ایتونه نازل شول، ۲ سدي رح وایې چې دغه ایت د عبدالله ابن عمر باره کې نازل شو چېرې خپلی ښځې ته یې د حیض په وخت کې طلاق ورکړی وو نو نبي ص ورته اویلي چې رجوع ورته وکړه نو چې کله یې د حیض وخت پوره شو نو بیا طلاق ورکه.

دوهم جز: طلاق رواه دی الله رواه کړی دی د ضرورت په وخت کې ځکه چې نبي ص ان من ابغض المباحات عندالله عز وجل الطلاق.

دریم جز: طلاق په واقع کیدلو کې حکم یې دا دی چې امام صاحب او احمد رح وایې چې طلاق ممنوع او حرام دی دلیل: ځکه چې په دې نکاح کې یو قسم کفران او ناشکري ده دلیل: ځکه نبي ص وایې چې لعن الله کل مذواق مطلاق بلکه د اړتیا په خاطر باندې مباح او رواه شوی دی، ابن عمر رض وایې چې ۱ طلاق واجب دی لپاره د هغه کس چې ایلاء یې کړي وي د څلورو ۴ میاشتو څخه وروسته ښځې ته طلاق ورکړي، ۲ مستحب دی طلاق چې سړی د ښځې د حقوقو څخه عاجزه وي او حقوق یې نه شي پوره کولی، ۳ حرام دی طلاق چې هماغه بدعي طلاق دی، ۴ طلاق مکروه دی په هغه وخت کې چې هیڅ عذر نه وي نو طلاق دلته بیا مکروه دی.

ځلورم جز: سني طلاق په څه ډول سره دی او په کومو شروطو سره دی؟ ابن عمر رض خپله ښځه د حيض په وخت کې طلاقه کړی وه نو نبی ص ورته اويلي چې رجوع ورته وکه نو چې کله شي پاکه شي نو بيا مخکې د طلاق ځخه طلاقه که: نو عالمان اجماع لري د دې حديث: چې په حيض حالت کې طلاق ورکول حرام دی نو که چا ورکړو نو هغه طلاق واقع کيږي خو ګنهګار دی دليل: ځکه چې نبي ص دري ۳ شيان دي چې قصد يې هم قصد ګڼل کيږي: ۱ نکاح، ۲ طلاق ورکول، ۳ رجوع کول، حنفيان وايې چې سني طلاق ديته وايې چې د وخت له پلوه يعنې په داسې طهر کې طلاق ورکول دې چې جماع ورسره نه وي شوي، بل سني طلاق ديته وايې چې د عدد له پلوه يعنې په يو طهر کې د يو ځخه زيات ور نه کړل شي، امام مالک رح وايې چې سني طلاق هغه دی چې يو طلاق وي، ښځه حيض عادت ولري، فی الحال ښځه د حيض نه پاکه وي، او په دې طهر کې نږدې والي نه وي شوی، له دې طلاق ځخه مخکې به حيض کې طلاق نه وي ورکړل شوی، او په طهر کې طلاق نه وي ورکړل شوی، طلاق به دعوارضو ځخه خالي وي لکه خلعه... ، د امام شافعي رح په نيزد سره سني طلاق هغه دی چې يوازي په طهر کې طلاق ورکړی، او ښځې ته په يو طهر کې دري ۳ طلاقه ورکول دا صحيح دی نو دا بدعي نه دی== ابو بکر جصاص رح وايې چې وخت او طهر په هغه ښځه کې دی چې په عدت کې طلاق ورکول کيږي دليل: ځکه چې عدت شرط دی او که عدت نه وي نو بيا داسې ښځې ته طلاق ورکول رواه دي، امام فخر الرازي رح وايې چې يوازي سني طلاق په هغه چا کې راتلای شي چې هغه جلۍ بالغه وي له هغې سره کوروالی شوی وي.

پنځم جز: ښځه نه شي کولای چې په عدت کې له کوره اوځي نو دليل: الله ج وايې چې لاتخرجوهن من بيوتهن ولا يخرجن الا ان يأتين ... او دا هم رواه نه ده چې خاوند يې په زوره يې اوباسي د کور نه کله چې عدت يې پوره شو نو بيا به اوځي او که چېرته اوتله دا ښځه نو د دې عدت بل ځای کې نه پوره کيږي او نکاح هم نه شي کولای تر څو پورې چې عدت د خاوند کور کې تير نه کړي نو په دې کې رجعي طلاق واله او مغلظ طلاق واله يو شان حکم دی په عدت کې=== خو امام مالک رح او احمد رح وايې چې ښځه کولای شي چې د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره اووځي دليل: بلی فجدي نخلک فاتک عسی ان تصدقي او تفعلي معروفا، امام شافعي رح وايې چې په رجعي طلاق سره نه شي کولای چې د شپې يا د ورځې اوځي بلکه يوازې مغلظه ښځه کولای شي د ورځې اوځي دليل: لاتخرجوهن من بيوتهن ... امام صاحب رح وايې چې هيڅ نه شي کولای چې اوځي مګر هغه ښځه چې ميړه ی وفات شوی وي مګر که خاوند اجازه هم ورکړه نو بيا هم نه شي کولای چې اوځي ځکه چې دا وخت تيرول د شريعت حق دی او د خاوند په اجالزه سره دا حق نه ساقطيږي که ميړه ی ورسره خلعه نه وه کړی چې کور کې به نه اوسی.

شپږم جز: حکم له فاحشي نه مطلب سلف صالحين وايې چې دا وينا د الله ج الا انيأتين بفاحشة مبينه... نو امام صاحب رح وايې چې د عدت ترپايه مخکې وتل د ښځې دا فاحش دی نو د دې مفهوم دا دی چې لايسمع لهن فی الخروج الا فی الخروج الذي هو فاحشة، ابن همام رح وايې چې ۱ لاتزن الا ان تکون فاسقا ۲ لاتشم امک الا ان تکون قاطع رحم،

امام ابویوسف رح وایې چې لاتخرجوهن الا ان زنین، ابن عباس رض وایې چې کومه ښځه د خاوند خاندان ته کنځلې کوي یعنې بد اخلاقه وي دا ښځه، امام ضحاک رح وایې چې د میړه عصیان او د هغه خبره نه منل دي، امام قتادته رح وایې چې مطلق نشوز ته وایې یعنې چې هر رقم یې نافرماني وکړه نو هغه فاحشة ده.
اووم جز: امام ابو حنیفه رح وایې چې په رجعت او جلاوالي کې گواه نیول مستحب دي دلیل: ځکه چې الله ج وایې چې واشهدو ذوي عدل منکم واجب نه دی گواه نیول، او جمهور علما وایې چې په رجعت کې گواه نیول واجب دي او په جلاوالي کې مستحب دی دلیل: د جلا کېدو څخه وروسته خاوند نه شي کولای چې رجوع وکړي نو ځکه مستحب دی او واجب دی په رجوع کې نو بیا ورته رجوع کولای شي نو ځکه گواه نیول واجب دی.

## شپږم مطلب: احکام العدت او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: احکام العدت: والئي یئسن من المحیض من النساءکم ان رتبتم فعدتهن ثلاثة اشهر... دا ایت د امام حازن رح او بغوي رح امام واحدي رح وایې چې کله د الله دغه وینا والمطلقات یتربصن ... دا چې کله را نازل شو خلاد ابن نعمان انصاري رض اوویل چې یا د الله رسوله ص د وړی او زړي ښځې او حامله ښځه عدت په څه ډول دی نو بیا دغه ایت رانازل شو: والئي یئسن من المحیض ... .
دوهم جز: هغه ښځه چې حیض نه لري، یا هغه ښځه چې د ناهیلي عمر ته رسیدلي وي یا هغه چې عمر یې کم وي او میاشتنی عادت نه لري نو د دې ښځو د ټولو علما اتفاق دی چې دري ۳ میاشتي عدت دی، د ناهیلي عمر په هکله اختلاف دي: بعضي ووایې چې ٦٠ کاله دی، بعضي وایې چې ٥٥ کاله دی، بعضي وایې چې د یوې کورنۍ غالبی ښځې چې په کوم عمر کې ناهیلي کیږي نو د ناهیلي عمر ورته ویل کیږي، د منطقي ښځې پورې تړلې دی چې هغوې په کوم وخت کې ناهیلي کیږي.
دریم جز: کومې ښځې چې میاشتنی عادت لرلو او په عدت کې قطعه شوی وي او لامل یې هم نه وي معلوم نو احناف او شوافع وایې چې د داسې ښځو عدت په حیضونو سره شمیرل کیږي تر څو چې په داسې عمر کې داخله شي چې د دې کورنۍ ښځې په دغه عمر کې له حیض نه ناهیلي کیږي او دې نه بعد د ناهیلي عدت شروع کیږي او د دې موده ۳ میاشتی ده چې دغه وینا دعلی رض، عثمان رض، زید ابن ثابت رض، ابن مسعود رض دی، مالکیان او حنبلیان وایې چې نهه ۹ میاشتی به انتظار کوي تر څو چې د حمل څخه د دې رحم پاکوالی ثابت شي ځکه چې نهه میاشتی د حمل غالبه موده ده که معلوم نه شو په نهو میاشتو کې خمل د دې نو بیا دري میاشتی عدت به تیره وي دا قول د عمر رض دی.
څلورم جز: د دغه وینا څخه څه مطلب دی ان رتبتم فعدتهن ثلاثة اشهر څه مطلب دی؟ دا رواه نه دی چې دې ایت کې د ناهیلي کې شک دی که شک یې وکړو نو بیا دا مطلب نه چې دری ۳ میاشتی عدت دی.

پنځم جز: عدت اقسام: ۱ عدت الحرة دليل والمطلقات يتربصن ... د دي عدت دري حيضه دی۲ عدت متوفي عنها زوجها د دې عدت ځلور مياشتې او لس ورځې دی ۳ عدت الأمة د دوې دواړو ځلور مياشتي دي عدت يې، د دې عدت حيضتان عدت بشهرين و خمسة ايام ۴ عدت الحامل نو وضع د حمل ده ۵ عدة من اعتدت باالاشهر لاياسا ثم رأت دما د دې عدت دري حيضه دی ٦ عدت المنكوحة فاسدا والموطوئة بشبهة و ام الولد، ۷ عدت الزوجة الصغير الحامل، عدتها وضع الحمل اذا اتت به لاقل من ستة شهرا من وقته موته و عدتها الشهور اذا اتت به لستة اشهر او فأكثر. ۸ مبدأ العدت بعد الطلاق والموت د دې عدت كله وخت معلوم شو چې دا موت دی نو بيا به ځلور مياشتی دي او لس ورځې دي.

شپږم جز: هغه ښځه چې خاوند ی مړ شوی وي او حامله وي جمهور علما وايې چې د حاملي ښځي عدت وضعه د حمل ده.

اووم جز: هغه ښځه چې په دريو طلاقو سره طلاقه شوې وي نو امام صاحب رح وايې چې د اسيدلو حق لري تر څو پورې چې عدت يې باقي وي د سكنا او د نفقي دواړو حق لري، امام مالک رح او امام شافعي رح وايې چې د اسيدو حق لري نه د نفقي دليل: و ان كن اولات حمل فأنفقو عليهن ... ، امام احمد رح وايې چې هيڅ حق نه لري دليل: نفقه يواځې هلته حق لري چې سړی د دې ځخه استفاده كولای شي.

اتم جز: مالكيان رح وايې چې ترڅو چې ښځه د سړي به نكاح كې وي بچې ته شيدی وركول د مور په ضمه دي، حنفيان وايې چې په هيڅ حال كې په مور باندې شيدي وركول واجب نه دي بله وينا يې دا ده چې واجب دی وربانديې شيدي وركول په مور باندې.

نهم جز: امام احمد رح او مالكيان وايې چې په خوش اواز سره قران مكروه دی دليل: اقرأ القران بلحون العرب... ، حنفيان او شافعيان وايې چې رواه دی په خوش اواز سره تلاوت د قران دا قول د عمر، ابن عباس، ابن مسعود. دليل: زينو القران بأصواتكم، ليس منا من لم يتغن باالقران.

# قضای فقهي معاصر درس

# څلورديرشم فصل

# قضای فقهي معاصر

## لومړی مبحث: قضای فقهي معاصر تشريح

### لومړی مطلب: قضای فقهي معاصر پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: بيعه تقسيط: دا هغه ده چې پلورونکې خپل سامان سمدستي اخيستونکې ته ورکوي خو اخيستونکی بيا د هغه قيمت سمدستي نه ورکوي بلکه د ټاکل شوې قسطونو له مخې قيمت ادا کوي که څه هم دغه شی د بازار د قيمت څخه زيات ياکم وي خو شرط دا دی چې د بازار د قيمت څخه زيات ټاکل کيږي.

دوهم جز: ځيني وايې چې په پور او په نغدو کې زياتوالی نا رواه دی ځکه چې د ثمن دغه زياتوالی د مودې په عوض کې دی نو دا حکم د سود دی، او څلور امامان وايې چې د نغدو بيع کې د پور بيعه هم رواه ده چې په قيمت کې زياتوالی راشي په دې شرط چې عاقدين د عقد په وخت کې دا شرط وټاکي چې دا مؤجل دی او کنه، نو دا بيعه په بل روايت سره نارواه ده: دليل دا دی چې نهی رسول ص عن بيعتين في بيعة.

دريم جز: ۱ په ثمن کې زياتوالی رواه دی او د نفعي غوښتنه نه ده رواه دا په هغه وخت کې چې نفس ثمن کېل سره زياتوالي وشي ۲ خو که چيري بيعه په دې ډو ل سره تر سره شي چې د نغدو پلورل په اساس د شي نرخ وټاکي او وروسته بيا د نرخ د نه اداء کولو په خپل وخت کې ونه شي نو بيا په اصل نرخ باندې زياتوالی راولي نو دا سود دی او دا حرام دی.

څلورم جز: په ثمنو کې زياتوالی رواه دی.

پنځم جز: د رهن په ادا کولو کې دوه ضمانتونه: ۱ چې مشتري خپل مملوک شی د بايع سره د رهن په توګه کينبودو او بايع د ضمانت په توګه هغه ساتي نو د دې څخه ګټه نه شې اخيستيځکه چې دا هم د ربا يو صورت دی، ۲ دوهم کس ته مطلق ضمانت ورکول.

شپږم جز: رهن السايل: دا هغه دی چې مرتهن په مرهون شی باندې قبضه نه کوي بلکهد هغه شی راهن سره پاتي کيږي خو کله چې راهن مديون د پور د ادا کولو څخه پاتې شي نو بيا مرهون د راهن څخه غوښتنه کولای شي نو دې ته ساده رهن وايې، او په رهن باندې د مرتهن قبضه ځکه شرط ده چې مرتهن د ضوروړت په حال کې هغه خرڅ کړي او خپل پور ترلاسه کړي، د رهن مقصد د پور توثيق دی.

اووم جز: د دریم کس له لوري ضمانت: په بیعه کې چې کله پور کوي نو دریم کس ضمانت واخلي او د نیتي د تکمیلیدو په صورت کې دا دریم کس ضمانت ورکوي نو دغه ته کفاله وايې نو  دا یو قسم تبرع ده، او د تبرع کیدلو په صورت کې ضمانت او پور کې هیڅ فرق نشته دی او د دې څخه نفعه اخیستل نه  دی  رواه ځکه چې دا کفاله یواځې د التزاام صورت نیسي.

اتم جز: ملکیت حقوق هغه ته وايې چې د دوو دوکانونو مینځ کې مخصوص تجارتي ننبه یا د تجارتي لاین.

نهم جز: حقوق مجرده په  دوه قسمه دي: ۱ شرعی حقوق ۲ عرفي حقوق: دا د دې لپاره وضع شوي وي چې د اصحابو حقوقو څخه ضرر دفع کړي.

لسم جز: بیعه باالتعاطي: دا هغه ده چې هغه استجرار ته وايې چې یو مشتري راشي جنس واخلي د بایع سره تلفظ ونه کړي یعني ایجاب او قبول ونه کېنو بیعه وکړي دا بیعه باالتعاطي ده دا په دوه قسمه دی: ۱ چې یو طرف نه باالکل تلفظ ونه کړي، ۲ چې سو طرف تلفظ وکړي او بل طرف نه نه نو دا دواړه بیعې د جمهورو په نیزد سره جواز لري، شوافع وايې چې دا جواز نه لرې دلته څلور قوله دي ۱ بیعه باالتعاطی په مطلق توگه باطل دي دا مشهور قول دی ۲ چې په محقره شیانو کې تعاطي جایز ده لکه هگۍ ۳ چې تعاطي په هغه څه کې جواز لري چې عرف کې مشهور وي ۴ تعاطي د کاروباري شخص لپاره جایز ده نه نورو لپاره. نو دلته راجح قول د جمهورو دی خو په دې شرط سره د عاقدینو رضا وي بیا جواز لري تعاطي.

یوولسم جز: بیع الاستجرار دیته وايې چې یو څوک په دوامداره توگه بیعه کوي او پیسي په اخره کې ورکوي شوافع وايې چې بیع الاستجرار جواز نه لري ځکه چې دا مشکلات لري هر کله چې ثمن مجهول شي نو بیعه بیا نه رواه کیږي، متأخرین علما وايې چې بیع الاستجرار په هره طریقه جایز ده که عقد وکړي او که ونه کړي نو جواز لري دغه کار یې په طریقه د استحسانا سره جواز لري.

دولسم جز: د استجرار حالت: ۱ مشتري چې سودا کوي نو د نرخ پوښتنه کوي چې په څو دی او نرخ یې ولیکي، ۲ چې بایع او مشتري دواړه اتفاق وکي چې زه تانه هره ورځ دومره سودا کومه نو کوم قیمت چې د بازار دی په هغه  قیمت یې راکوه نو بایع ورسره اتفاق وکي نو دلته حکم دا دی چې شوافع وایې جواز نه لري ځکه چې قیمت باید معلوم شي خو حنابله وايې چې که قیمت یې په بازار کې معلوم  وو نو کوم مشکل نشته دی هماغه قیمت مناسب دی، متأخرین علما وايې چې دا جواز لري چې د منازعی خطر نه وي یعنې د عموم البلوا په وجه استحسانا جواز یې ورکړی دی او جمهور علما وايې چې جواز  لري که چېرته دا د بازار سره په قیمت وروسته کړي وي د قیمت د دې حکم: دا جواز نه لري خو متأخرین او احناف وايې چې جواز لري ځکه چې خلک همداسې بیعې کوي.

# د سیاسي نظام درس

## پنځه دیرشم فصل

## سیاسي نظام بیان

### لومړی مبحث: سیاسي نظام تشریح

### لومړی وطلب: سیاسي نظام پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: سیاست په لغت کې عربي کلمه ده چې معنا یې په ښه توګه کار سرته رسول دي، امام عزالي رح وایې چې سیاست د خلکو اصلاح کول د دنیوي او اخروي ستونزو څخه او د خلاصون په لاره یې روانول دي، او عبدد الوهاب وایې چې د خلکو د مصالحو رامینځته کولو ته سیاست وایې.

دوهم جز: موضوع د سیاست: دولتي کارونه تنظیمول دي دیته سیاست وایې.

دریم جز: شرعي سیاست فرض دی او غیر حرام دی، حافظ ابن مقیم رح وایې چې عادلانه شریعت د شریعت سره په ټکر کې نه وي، اسلامي سیاست نظام رباني سیاست دی ځکه چې الله وایې چې لتخرج الناس من الظلمات الی النور . ...

څلورم جز: د اسلامي نظام اساسات: ۱ وحي ده، ۲ عدالت او مساوات، ۳ اطاعت، ۴ شورا مینځ ته راوستل دي.

پنځم جز: دولت د تغیر او تبدیل په معنا ده او د انتقالیدو په معنا دی او دوکتر فارس وایې چې هغه ټولنه ده چې د تل لپاره په یوه ځمکه باندې ژوند کوي، دوکتور مصطفی سباعي رح وایې چې خلکو ته یو ځانګړی حق ور به برخه کي.

شپږم جز: علامه محمد مبارک وایې چې حکومت هغه ته وایې چې د دولت چاري تنظیموي، سیاست پوهان وایې چې هغه هیئت دی چې د هغو خلکو څخه تشکیل شوی وي چې د هیواد اداره کول یې په غاړه وي.

اووم جز: د اسلامي دولت مقاصد دوه ۲ دي: ۱ د دین ساتنه، ۲ د شرعي احکامو په رڼا کې د دنیوي چارو سمون: ۱ امر بالمعروف او نهی عن المنکر، ۲ الجهاد، ۳ العدل، ۴ اقامه الحج، ۵ والجمع والاعیاء، ٦ نص المظلوم و اقامة الحدود.

# فقه الجنایات درس

# شپږ دیرشم فصل

# فقه الجنایات بیان

## لومړی مبحث: فقه الجنایات تشریح

### لومړی مطلب: د فقه جنایات پیژندنه، د قتل اقسام او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: جنایات هغه دی چې کوم کار د شریعت خلاف وي هغې ته جنایې ت وایې.

دوهم جز: په قتل عمد کې ولي نه شي کولای چې مال واخلي د قصاص بدل کې مګر د قاتل رضا وي بیا صحیح ده دا قول د امام صاحب رح دی، او امام شافعي رح وایې چې رضایت د مقتول ورثه ته شرط دی.

دریم جز: په قتل کې مماثلت ضروري دي لکه عمد قتل کې چې قصاص وي نو که ورثه د مقتول اوایې چې مونګه مال اخلو نه قصاص نو دا صحیح نه دي ځکه چې د انسان او مال تر مینځ مماثلت نشته دی نو بیا په قتل خطا کې ځکه ورکوي دیت چې دیکې مصلحت دی د ژوند په خاطر د دې ممانعت وشي د قاتل د وژلو او بل دا چې د نسان محترم والی نه ثابتیږي په نه ورکولو د مال یا دیت کې نو معلومه شوه چې د هدروالی مخه ونیول شي.

څلورم جز: هغه قتل چې عمدا نه دی خو مشابهت ورسره لري عند ابي حنیفه رح.

پنځم جز: په قتل عمد کې کفاره واجبه ده دا قو د امام شافعي رح دی دلیل: چې په قتل خطا کې واجبه ده هغه خو کوچنی شی دی نو دلته خو په طریقه اولی په عمد کې واجبه ده.

شپږم جز: و قال ابویوسف رح و محمد رح والشافعي رح: اذا ضرب بحجر عظیم یا بحشب عظیم فهو عمد نو دا بیا قصد دی، او شبه عمد دا دی چې ان یتعمد ضربه بما لایقتل غالبا ولاغالبا لکه لخته، کوچنی شی شو ځکه چې دې کې معنا د عمدیت کمه ده په استعمالولو د الة سره، او په ډبره یا غټ لرګی وي نو دیکې حتمن د عمدیت معنا پرته ده.

اووم جز: که صلاح قایمقام د صلاح وي نو د احنافو په نیزد سره دا قتل عمد دی، که چیرته اله نه وي یا داله قایمقام وي لکه: غټ لرګی وي نو دا عمد دی او که اله وره وي نو بیا دا عمد نه دی نو دا بیا شبه عمد دی.

اتم جز: او شبه عمد کې کفاره شته دی دلیل: ځکه مشابه د خطا سره دی.

نهم جز: اصل دادی: چې د قتل یا ضمان په صورت کې دادیت کله په عاقلو باندې هم راځي او کله دا مال په شخص قاتل باندې وي نودلته یو اصل دی: چې په کوم وخت کې ادا د دیت وي نو هرکله چې ۱ دیت د قتل په واسطه سره وي اول نو دا په عاقله د قاتل باندې دی، ۲ که چیرته په اول کې دیت نه وي د مصالحي په شکل سره یا وروسته هغه بیا

مال ته وګرځي نو بيا دا ديت په خپله په قاتل يا مجرم باندې دی نو دغه ديت به دريو ۳ کالو ادا کوي دليل: دا فيصله عمر رض وکړه ځکه چې د ديت مسله غټه وي نو سړی نه توانيږي چې دا ادا کړي نو دې لپاره يې ۳ کاله ورکړه، که چېرته يې مخکې ادا کړو نو فرق نه لري نه برعکس طريقي سره دا مذهب د امام صاحب رح دی او د ځينو امامانو دی.

لسم جز: عاقله څوک دي: هغه کسان دی چې ولاړ دي په کومک د قاتل سره، نو ديت چې کوم دی په شبه عمد کې او خطا کې نو دا لازم دی په نفس قاتل د عاقلو باندې، بل عاقله دا هغه دي چې تقسيموي په دوې باندې د خطا قتل ديت يا مال، عاقله هغه کسان دي چې يحملون العقل وهو الدية.

يوولسم جز: په قتل خطا کې خو دومره څه نشته دی خو په خپل ذات کې دا قتل کول دا ګناه ده او د نه متوجه کېدو ته دا ورته متوجه شوې ده دا ګناه نو ده باندې به ديت وي خو هغه هم به عاقله ورکوي او دا ځکه کفاره ورته راغلی ده نو د ه هلته قصد کړی دی په ويشتلو کې.

دولسم جز: هر هغه قتل چې کوم دی هغه کې قاتل خپله مباشر وي که هغه عمد قتل وي يا که خطا وي يا که شبه عمد وي نو د ميراث څخه محروميت شته دی، او کله چ بمباشر نه وي بلکه په سبب سره وي نو بيا نو په دې صورت کې حرماان د ميراث نشته دی، بل هغه دی چې قايمقام د خطا دی مثل النائم او هغه راولاړ شي بل څوک مړ کي نو دلته يواځې حرمان د ميراث شته دی دليل: ځکه چې دا په کې مباشر دی.

ديارلسم جز: په قتل کې حرمان دميراث او ديت او کفاره: ۱ په قتل عمد کې قصاص شته دی، کفاره نشته دی، ديت په بله مسلهکې شتهد دی خو اولا نشته دی، حرمان د ميراث شته دی== ۲ شبه عمد کې قصاص نشته، کفاره شته، ديت هم شته، حرمان د ميراث شته == ۳ قتل خطا کې دوه قسمه دی په خطا کې قصد دی بل په فعل کې قصد دی نو دې کې قصاص نشته، کفاره شته، ديت نشته دی، حرمان د ميراث شته دی== ۴ قايمقام د خطا قتل قصاص نشته، کفاره ديت او حرمان د ميراث شته دی، == ۵ سبب د قتل کې قصاص کفاره حرمان د ميراث نشته دی خو يواځې ديت شته دی. او امام شافعي رح وايې چې دا سبب قتل د قتل خطا سره مشابهت لري دليل: ځکه چې شرعی ورته قاتل ويلي دي او په دې کې دا ملحق کيږي د خطا پورې يواځې په ضمان کې چې هغه ديت دی.

څوارلسم جز: قصاص واجب دی په هر محفوظ الدم سره خو دا حفاظت به يې د وينې ثابت وي د ابد لپاره لکه مسلم او ذمي به ورسره ملګری وي نو په هغه وخت کې به د دې قصاص اخلي چې ۱ قصد موجود وي ۲ بل به دا وي چې داسې کس به يې وژلی وي محفوظ الدم علی التابيد وي ۳ اوبل دا دی چې شبه به په کې نه وي لکه مستأمن حربي.

پنځلسم جز: امام صاحب رح وايې چې حر په حر سره او عبد په عبد سره او حر په عبد سره قصاص کيږي دليل: له وجه د ايت عموميت نه هغه دا دی چې نفس د نفی په مقابل کې نو عبد هم نفس دی او حر هم نفس دی چې الحر باالحر والعبد باالعبد ... ومن قتل مظلوما فقد جعلنا لوليه سلطانا ... نو دواړه په نفسيت کې برابر دی او بل دا چې حر او عبد دواړه محفوظ الدم دی نو چې محفوظ الدم وي نو بيا قصاص راځي، او امام شافعي رح وايې چې لايقتل الحر باالعبد

دليل: ځکه چې الله وايې الحر باالحر والعبد باالعبد ... يعنې مساوات بايد راشي نه حر په عبد سره ځکه چې تخصيص راغلی دی او قران کې خو صراحت سره نه دی راغلی چې الحر باالعبد او عبد د حر مقابل کې راځي يعنې قصاص راځي.

شپاږسم جز: والمسلم باالذمي خلافاالشافعي رح: دليل: لايقتل المؤمن باالكافر او قصاص کې مساوات وي نو د لته مساوات نشته دی، او بل دا چې دا کفر مبيح دی د هغه سرې لپاره ځکه چې شبه موجوده ده، او امام صاحب رح وايې چې قتل کيږي مسلمان په ذمي سره دليل: قال رسول ص قتل مسلم باالذمي، دا مساوات چې کوم دی دا په عصمت د دم کې ده يعنې مسلم او ذمي دواړه په يو دار کې اوسيږي.

اوولسم جز: والمراد لايقتل مؤمن بكافر: يعنې دلته مراد حربي كافر مراد دی نو د سياق نه معلوميږي ولا ذو عهد في عهده يعني ولا يقتل ذو عهد بكافر ای لا يقتل ذو عهد باالكافر الحربي او ذوالعهد نه مراد مسلم دی.

اتلسم جز: ولا يقتل باالمستأمن: مسلمان په مستأمن سره نه وژل کيږي ځکه دليل: چې دا مستأمن غير محقون الدم على التابيد دی ځکه چې شبه ده په کې.

نولسم جز: ولا يقتل الذمي باالمستأمن: دليل: ځکه چې دا ذمي محفوظ الدم دی او مستأمن چې کوم دی هغه غير محفوظ الدم دی.

شلم جز: ويقتل المستأمن باالممستأمن ځکه چې دا مساوات دي دلته.

يوويشتم جز: ويقتل الرجل باالمرأة والكبير باالصغير، والصحيح باالاعمى، والزمن يعنې د ډير وخت مريض وي، ولا يقتل الرجل باءبنه لقوله ص لايقتل الوالد بولده.

دوه ويشتم جز: و اذا قتل المكاتب عمد وليس له وارث... مكاتب يو سړی ی په عمد توګه قتل کړو او صرف مولی ولري نو شيخين وايې چېمولبی ته يې حق شته دی چې قصاص واخلي او امام محمد رح وايې چې مولی ته يې د قصاص اخيستلو حق نشته دی دليل: ځکه چې دلته د قصاص اخيستلو سبب مختلف دی که دا اومنلی شي چې دا د ازادۍ وخت کې مړ شوی دی نو د قصاص اخيستلو سبب ولاء دی، او که اومنلی شي چې د غلامۍ وخت کې مړ شوی دی نو د قصاص اخيستلو سبب يې ملک دی دا دليل د امام محمد رح دی، او شيخين وايې چې هغه د ازاد والی صورت کې مړشوی وي او که غلامۍ وخت کې مړ شوی وي نو دلته دواړو صورتونو کې قصاص اخيستی شي دا مولی.

درويشتم جز: ومن قتل وله اولياء صغار و كبار... يو کس چا عمد قتل کړو نو د هغه اولياء بعضي په کې صغار دی او بعضي بالغ دی نو امام صاحب رح وايې چې بالغان به قصاص اخلي او د ماشومانو بلوغ انتظار نشته دی دليل: چې قصاص غير متجزي دی ځکه چې په کوم سبب سره حق د قصاص ميلاو شوی دی هغه غير متجزي دی ځکه چې سبب کې قرابت دی او قرابت کې واړه شريکان دی نو دلته شبه ده کيدای شي چې دلته بعد بلوغ څخه هغوې معافي وکي نو قصاص به ساقط شي، صاحبين رح وايې چې د نابالغو وارثانو پوري به صبر کوي چې هغه بالغ شي بيا به قصاص اخلي

دلیل: ځکه چې قصاص د دوې ترمینځ شریک دی او داسې نه کیږي چې بعضې به قصاص واخلي او بعضي به وروسته د بلوغ نه نو دا خو په کې تجزیه راغله او قصاص تجزیه نه قبلوي.

څلرویشتم جز: و بضرب النجات المیزان: صاحبین رح وایې چې دا قتل عمد دی او قصاص واجبوي، امام صاحب رح وایې چې که زخم لګیدلی وي نو قصاص شته دی کنې قصاص نشته دی.

پنځویشتم جز: و اما بضرب العود امام صاحب رح وایې چې دا قتل عمد نه دی نو دی کې دیت واجب دی، همدا رنګه د ضرب د عصا الکبیره دی دا قول هم د امام صاحب رح دینو دا به شي فیکون قتلا باالمثقل امام صاحب رح وایې چې دا شبه عمد قتل دی، او صاحبین رح وایې چې د عمد قتل دی قصاص په کې واجب دی، او امام شافعي رح وایې چې که په لګاتار یې اوهلو او هغه مړ شو یعنې پرلپسي یې اوهلو نو دا بیا عمد قتل دی او قصاص په کې واجب دی دلیل د امام صاحب رح دا دی: چې و لان فیه شبهة عدم العمدیة... الخ په لګاتار وهلو سره هم دا شبه ده چې کیدای شي د قتل اراده نه وي ځکه چې کله هم د تادیب او تنبیه لپاره هم لګاتار وهل ورکول کیږي نو دلته اراده یې په مینځ کې پیدا شوې ده نو دلته هم قصاص نشته دی یعنې واجب نه دی قصاص.

شپږویشتم جز: لګاتار وهل، په مینځ کې اراده پیدا کیدل، نازک لګیدل، د هغه د مرګ وخت وي او مړشي لکه سپین ږیری نو دلته قصاص به ساقط وي په ټولو صورتونو کې او دیت به واجب وي ځکه چې دلته شبه ده په کې دا مذهب د امام صاحب رح دی.

اوویشتم جز: و ان شهر المجنون علی غیره سلاحا: یو لیوني په زید پسې توره اویستله او هغه یې اوهلو نو حالانکې هغه ځان بچ کړو او هغه یعنې مجنون یې اوژلو نو زید باندې یو صورت کې هم قصاص نشته دی نو په دیت کې اختلاف دی: ۱ طرفین وایې چې د دیت او مینبي قیمت به واجب وي دلیل: انه قتل شخصا معصوما یا یې داسي مال ضایع کړی دی چې دا د مالک حق په وجه معصوم دی، ۲ امام شافعي رح وایې چې په یو صورت کې هم نه دیت او نه ضمان واجب دی دلیل: انه قتل واضعا عن نفسه نو دی به په بالغ را ویستونکی باندې قیاس کولای شي، ۳ امام ابویوسف رح وایې چې د مجنون او بچي په صورت کې به دیت واجب نه وي البته د مینبي په صورت کې به د دې د قیمت ضمان واجب وي دلیل: چې د څاروي فعل بلکل غیر معتبر دی که د څاروي فعل مستحقق کېدو نو هغه به ضمان نه واجبوي.. حتی لو حققناه یجب علیهما الضمان... .حدیث: قاتل دون مالک.

اته ویشتم جز: القصاص في ما دون النفس: چا چې د خپل ځان نه غیر په جوړ کې لاس کټ کړو خو په قصدي توګه سره قُطعت یده و ان کانت یده اکبر من الید المقطوعة لقوله تعالی: والجروح قصاص نو دلته مطلق راغلی دی او قصاص د مماثلت خبر ورکوي نو هر هغه زخم چې په هغې کې د مماثلت رعایت کوي نو یجب فیه القصاص وما لا فلا یجب القصاص.

نهه ویشتم جز: قاعده: کوم ځای کې چې مماثلت متعذر وي نو هلته قصاص نشته دی.

دیرشم جز: ولا قصاص في عظام الا في سن. دلیل: ځکه چې د غاښ نه علاوه کې مماثلت متعذر دی لاحتمال الزیادت و النقصان.

یودیرشم جز: ولا قصاص بین الرجل والمرأة فیما دون النفس، ولا بین الحر والعبد ولا بین العبدین.... الخ خو د اندامونو په قصاص کې دې کې مساوات نشته دی بلکه تفاوت شته دی وجه دا ده چې اندامونه د مالونو په درجه کې ایښودی شوې دي نو هر کله چې داسې شو نو د دې په ځای باندې به قیمت ورکول کیږي == خلاف اللشافعي رح في جمیع ذالک الا فی الحر یقطع طرف العبد دلیل: ځکه چې د دوې اندامونه په نفس او ما دون النفس باندې قیاسوي ځکه چې اندامونه تابع دی او نفسونه متبوع دی نو کوم حکم چې د متبوع وي نو هغه به د تابع هم وي او په یو صورت کې د دوې (شافعي رح) په نیزد سره قصاص نشته دی یعنې قصاص واجب نه دی کله چې ازاد د علام لاس کټ کړي نو قصاص نشته دی ځکه چې د دوې په نیزد سره په قتل عمد کې قصاص نشته دی نو په اندامونو کې هم نشته دی قصاص. د احنافو دلیل: اندامونه د مالونو قایمقام دی نو په قیمت کې به د تفاوت په وجه تماثل معلومیږي یعنې په لاس کې اصل نیول پکار دي هغه په دواړو لاسونو کې کیږي.

دوه دیرشم جز: و یجب القصاص فی الاطراف بین المسلم والکافر... الخ د کافر نه مراد ذمي دی د مسلمان او ذمي د لاس قیمت شریعت یو ایښی دی نو د غې مساوات په وجه باندې به قصاص واجب وي دلیل: ځکه چې قصاص مماثلت غواړي او مماثلت موجود دی.

دری دیرشم جز: و من قطع ید رجل من نصف الساعد... یا یې ورته تیره زخم ولګولو نو هغه بیا خه شو نو فلا قصاص علیه لانه لایمکن اعتبار المماثلة فیه ځکه چې هډوکی څوک مات کړي نو قصاص نشته دی دلیل:: ځکه چې د دې لپاره کومه قاعده مقرر نه ده.

څلوردیرشم جز: ولا قصاص فی اللسان ولا فی الذکر دلیل: چې دا راټولیګي او خوریګي نو فلا یمکن اعتبار المساوات الا ان قطع الحشفة لان موضع المعلوم القطع لکه په شان د جوړ شی ولو قطع بعض الحشفة او بعض الذکر فلا قصاص علیه لان بعض لا یعلم المقدار، و عن ابویوسف رح انه اذا قطع من اصله یجب القصاص دلیل: لانه یمکن الاعتبارات المساوات.

پنځه دیرشم جز: الشفة کله چې شونډه یې پوره کټ کړی وي نو یجب القصاص عند ابي حنیفه رح ځکه چې مساوات برابر دي بخلاف ما اذا قطع بعضه.

شپږ دیرشم جز: واذا اصطلح القاتل و اولیاء القتیل علی مال سقط القصاص و وجب المال قلیلا کان او کثیرا لقوله تعالی: فمن عفی له شیء من اخیه دا مذهب د امام صاحب رح دی او عوض اخیستلو سره قصاص ساقطیږي.

اوو دیرشم جز: و اذا عفا احد الشرکاء من الدم او صالح من نصیبه علی عوض: حق د قصاص چې د چا لپاره ثابت وو هغوې کې یو خپل حق معاف کړو نو اوس باقي اولیاء هم قصاص نشي اخیستي بلکه د خپلي برخي دیت اخیستي شي

مثلا: زید پنځه زامن لري: عثمان، بکر، خالد، عمر، راشد: نو په دوې کې عثمان خپل قصاص معاف کړو نو قصاص ساقط شو نو صرف دیت به واجب وي.
نهه دیرشم جز: و اصل هذا ان القصاص حق جمیع الورثة و کذا الدیة.
څلویښتم جز: امام مالک رح او شافعي رح وایې چې دوی وایې چې په قصاص کې حق د زوجینو نشته دی دلیل: ځکه چې میراث کې کوم وراثت ثابیتېږي د دې مال خلافت او نیابت دی او د خلافت بنا نسب سبب نه دی خکه چې سبب خو په مرگ سره ختمیږي نو د زوجینو هیڅ حق په قصاص او دیت کې نشته دی، زمونګه( ابوحنیفه)دلیل: انه ع امر با التورات امرأة اشیم الضبابي نو حق د زوجینو شته دی په قصاص او دیت کې ځکه هغه خطا قتل کړی وو دادلیل شو چې په دیت کې د ښځې حق وو.
یو څلویښتم جز: په مرگ سره زوجیت مطلقا نه ختمیګي بلګه د میراث په حق کې د مرگ نه وروسته هم زوجیت حکما پاتي کیږي نو زوجین به هم قصاص او دیت کې مستحق وي.
دوه څلویښتم جز: و اذا ثبت للجمیع الورثة فکل منهم من الاستیفاء والاسقاط عفوا او صلحا، بخلاف ما اذا قتل رجلین و عافا احد الاولین لان الواجب هناک قصاصان من غیر شبهة لاختلاف القتل والمقتول.
درې څلویښتم جز: و ادا قتل واحدا جماعة فحضر الاولیاء المقتولین قتل لجماعتهم... الخ امام صاحب رح وایې یو نفر راشي او هغه یو جماعت قتل کړي نو اولیاء یې راجمع شي بیا به هم د ټولو لپاره دا یو قاتل دی او د ده په قتلولو سره به ټول قتل کیږي او د ټولو قصاص به ادا کیږي او په دوی کې یو ولي حاضر شو او قصاص یې واخیستو نو د پاتی اولیاء لره قصاص حق ساقط شو او هیڅ مال به چاته به نه میلا ویګي== دلیل: هرکله چې واړه اولیاء یو یا ټول هغه قاتل قتل کړو نو د ټولو حق ادا کیږي علی سبیل الکمال نو مماثلت شته دی نو دا داسې شو لکه چې مقتول یو وي او قاتلان ډیر وي او امام شافعي رح وایې چې په دوی کې به د لومړې مقتول په بدله کې قتلولی شي و یجب للباقین المال وارثان به مال اخلي یعنې دا کار واجب دی نو دلتهد یو څو صورته دي: ۱ که قاتل دواړه مقتولین یو بل پسې قتل کړل نو د اولني په بدل کې به قصاص کیږي او د پاتی مقتولینو په بدله کې مال واجب دی، ۲ او که واړه یې ټول په یو ځای یې قتل کړي وو یا یې وړاندې یا وروسته یې قتل کړي وو خو د اولني پته نه لګی نو د ټولو لپاره به یې قتلولی شي او بیا به دیتونه د ټولو په مینځ کې به تقسیمولی شي، ۳ قرعه به اچولی شي که د هر چا اوتله نو د هغه لپاره به قتلولی شي او باقي لپاره به دیت وي == دلیل د دې ټولو لپاره: صرف د قاتل قتل به د ټولو اولیاء لپاره به کافي نه وي ځکه چې قاتل متعدد قتلونه کړي دي او د ده قتل صرف هم د ده قتل دی حالانکې قصاص کې مماثلت پکار دی او دلته مماثلت نشته دی نو د عمر رض فرمان صادر شو نو دلته به قیاس باندې به عمل کولای شي یعنې په هغه اول صورت کې به جمع شي نو واحد به مړ کي.

څلور څلويښتم جز: امام صاحب رح وايي چې و من وجب عليه القصاص اذا مات سقط القصاص دليل: ځکه چې محل د قصاص لاړو دا داسې شو لکه يو غلام جنايې ت وکړي نو دې کې دا غلام ورکول لازم و نو بيا دا غلام مړ شو نو خبره ختمه شوه خلافا الشافعي رح دا وايي چې په اصل کې قصاص واجب نه دی بلکه دې دواړو کې يو لازم دی يا به قصاص وي که دا متعذر شو نو بيا به ديت اخيستلی شي نو امام صاحب رح وايي چې دا کار هله کيږي چې دوې په دې باندې اتفاق وکړي.

پنځه څلويښتم جز: واذا قطع رجلان يد رجل واحد... الخ امام صاحب رح وايي چې فلا قصاص على واحدمنهما ځکه چې په دوی باندې نصف الدية دی ځکه چې دوی دواړو نيمه نيمه برخه کټ کړی ده نو لهذا په دوی باندې قصاص نشته دی، او امام شافعي رح وايي چې د دواړو څخه به قصاص اخيستی شي د دواړو لاسونه به قطعه کيږي دليل: ځکه چې دوی دواړو يوځای قتل کړی وو نو دوی په نفس باندې قياس کړی دی.

شپږ څلويښتم جز: واذا اقر العبد بقتل العمد لزمه القود... الخ امام صاحب رح وايي چې اقرا يې صحيح دی نو غلام نه به قصاص اخيستی شي دليل: غلام دې کې متهم نه دی او د مال په اقرار کې دا متهم دی دليل: ځکه چې اقا نه زيات نقصان خو په خپله د غلام دی چې د ده نفس به قتليږي نهو دا اقرار به يې قبل وي، امام زفر رح وايي چې دا اقرار صحيح نه دی دليل: ځکه که صحيح شي نو دا خو به قتلولی شي نو د مولی حق باطليږي نو اقرار يې باطل دی.

اووه څلويښتم جز: و من رمى رجلا عمدا ... الخ چا چې يو سړی په عمد توګه يې اويشتو نو بل کس ولګيدو نو دواړه مړه شول فعليه القصاص الاول و الدية للثاني على عاقلته لان الاول العمد و الثاني نوع من الخطاء كأنه رمى الى الصيد فأصاب ادميا... .

اته څلويښتم جز: امام صاحب رح وايي چې و اذا قطعت المرأة يد رجل فتزوجها على يده ثم مات دا کار يې په عمد يا خطا سره وکړو ليکن زيد اويل چې ما سره نکاح وکه او کوم حق زما دی د لاس د ستا په ضمه دی هغه به مهر شي نو نکاح يې ورسره وکړه نو بيا څه موده بعد هغه زيد مړ شو نو چې زيد مړ شوی دی هغه د قطع په واسطه سره شوی دی نو د مهر تسميه صحيح نه شوه نو لهذا دې ته به مهر مثل ورکول کيږي او د زيد وارثانو ته به ديت ميلاويګي که زينب په خطا سره قطع کړی وه نو ديت به د زينب په برادرۍ واجب وي، او که چېرته عمد يې کړی وو نو بيا به داديت به د ښځي په مال کې واجب وي، دليل: دلاس په بدل جرمانی سره به نکاح کولو کې به د قتل په بدله کې به نکاح کول نه وي نو دا يې داسې شو چې د قطعه د يد معافۍ سره به د قتل معافي نه کيږي.

نهه څلويښتم جز: قال محمد رح و من قطعت يده ... نو د هغه لپاره قصاص واخيستلی شو نو بيا هغه مړ شو نو مقتص منه به قتلولی شي دليل: ځکه چې د مرګ په وجه دا خبره ثابته شوه چې دا قتل عمد دی نو مقتص له حق قصاص وو او د لاس قطع کول به يې د قصاص ساقطيدل نه وي نو قصاص به اخيستلی شي، و عن ابى يوسف رح چې د ده حق به په قصاص ساقطيږي نو قصاص به نه وي.

# د کار حقوق درس

# اووه دیرشم فصل

# د کار حقوق بیان

## لومړی مبحث: د کار حقوق تشریح

## لومړی مطلب: د کار حقوق پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: فایده اخیستل د کار حقوقو څخه: هغه وخت مستقیما فایده واخیستل شوه چې کله د ۱۸ میلادي پیړۍ کې اروپا له یو لوړ بدلون سره مخ شوه چې دوه شیان د رامینځته کېدو په صورت کې اجتماعي اړیکي باندې ډیر بدلون راوسته چې هغه دا دي: ۱ ازادي غوښتونکی، ۲ انکشاف او لیبراسیتانو د نظریاتو رشد. د دوې د رامینځته کېدو په صورت کې دا نتیجه شوه چې د اطرافي سیمو او کلیوالو د فابریکي او کار خانو صنعتي مرکزو خواته راویستل شول.

دوهم جز: د کار تعریف: کار هغه جسمي او فکري فعالیت څخه عبارت ده چې په اساس یې هدف ته رسوي او یا یو شی ترسره کوي.

دریم جز: د کار حقوقو تعریف: له هغه قواعدو او مقرراتو څخه عبارت دی چې د وګړو په انفرادي او حمعي اړیکو باندې نظارت کوي هغه تنظیموي.

څلورم جز: کار فرما تعریف: هغه شخص ته ویل کیږي چې د کار وسایل او سرمایه درلودونکی وي، او کار ګر ته د مزد مقابل کې د کار اجرا او دستور ورکوي.

پنځم جز: کارګر هغه ته وایې چې د مزد په مقابل کې کار کوي.

شپږم جز: د کار حقوق منابع: ۱ داخلي منابع: اسلامي شریعت، اساسي قانون: اساسي قانون، عادي قانون= په کار اړوند مقررات، قضایه رویه، عرف او عادات ۲ بین المللي منابع: دوه اړخیز تړونونه، نړیوال تړونونه، نړیوال بین المللي قضایه رویه.

اووم جز: د کار حقوقو منابع عبارت دي له داخلي او خارجي منابعو څخه.

اتم جز: د کار قانون په ۱۳۸۲/قوس/۲۸ په ۱۴ فصلونو او ۱۵۳ مادو باندې د کار قانون د ریس جمهور له خوا تصویب شو.

نهم جز: اداره: عبارت د وزارتونو دولتي او نا دولتي ادارو او داخلي خارجي اراده ده چې کار کونکې په کې بوخت وي.

لسم جز: کار کونکې: د ښځي او نر په ګډون مأمور او د قرار دار کار کونکې باندې دلالت کوي.

یوولسم جز: مامور: هغه دی چې د قانون له لری په کومه دنده ګومارل شوی وي هغه سرته رسوي.

دولسم جز: کارګر اقسام: ۱ مستقل کارګر، ۲ غیر مستقل کارګر، ۳ خدماتي کارګر، ۴ قراردادي کارګر.

## د اصولو محاکماتو درس

## اته دیرشم فصل

## د اصولو محاکماتو بیان

### لومړی مبحث: د اصولو محاکماتو تشریح

### لومړی مطلب: د اصولو محاکماتو پیژندنه، دعوه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: متني هغه قانون دی چې حق بیانوي.

دوهم جز: قواعد په دوه قسمه دي: ۱ الهي حقوقي قواعد، ۲ وضعي حقوقي قواعد.

دریم جز: محاکمو د معاصرو قوانینو له نظره د موضوعي واکونو له کبله محاکم په دري قسمه دي: ۱ جزايې محکمه، ۲ مدني محکمه، ۳ تجارتي محکمه.

څلورم جز: قضايې محاکم د غازي امان الله خان په وخت د ۱۳۰۲ کې د وضعي قانون د تقين دوره پیلیږي، نو اول قانون د کابل په پغمان سیمه کې د لوې جرگې له لاري د (نظامنامه اساسي دولت علیه افغانستان) په نوم باندې را مینځته شو.

پنځم جز: مدني دعوی تعریف: دا عبارت دی چې د قاضي مخته د دعوی وړاندې کول چې د مدعي او علیه څخه په شخړه توگه سره مسنځته راغلي وي.

شپږم جز: مدن: په اصل کې ښار ته وایې، او دا یې چې کوم ده د ښار معنا ورکوي.

اووم جز: دعوا په لغت کې د تمنا او غوښتنی په معنا ده او په اصطلاح کې د قاضي په وړاندې هغه منل شوی خبري دي چې د یو معلوم حق د غوښتنی په صورت کې د مدعي علیه څخه د خصومت په طریقه سره وي.

اتم جز: اجرات: په معنا د خدمت کول دي، او په اصطلاح کې هغه دی چې د محاکمو په وړاندې د خصوماتو دفعه کول دي نو قضا یې تنفیذ کوي.

نهم جز: د مدني دعواو اجراات سرچیني: اسلامي شریعت، موضوع قانون، قضای رویه.

لسم جز: د غازي امان الله خان په وخت کې وضعي قانون راغی.

یوولسم جز: په ۱۳۴۳ کې اساسي قانون ، په ۱۳۵۹ کې اساسي اصول ، په ۱۳۶۰ کې اساسي قانون ، په ۱۳۶۹ کې اساسي قانون. او بیا په ۱۳۸۲ کېې اساسي قانون دی چې تر اوسه پوری د عملي کېدو وړ دی.

دولسم جز: د موضوعه قوانینو د مدني دعواو اجراأتو له مخې سرچیني: ۱ اساسي قانون، ۲ فرعي قانون.

دیارلسم جز: قضايې قوه عبارت ده: ۱ استیناف محمکه، ۲ ابتدايې محکمه، ۳ ستره محکمه.

خوارلسم جز: د مدني محاکماتو اصولو قانون په ۱۳٦۹ کې او ۷۲۲ کې نشر شوی ده == د قضایېي واکونو قانون ۱۳۹۲ کې او ۱۱۰۹ کې نشر شوی ده.

پنځلسم جز: د استدعا وړاندې کولو مراجع: ۱ عدلی وزارت حقوقو ریاست، ۲ عدلی وزارت د دولت ریاست، ۳ د مدني دیوانونو ریاست یعنېي ابتدای محکمه.

شپاړسم جز: استدعا: دا هغه ده چې په لنډ ډول په چاپي رسمي عارضه کې وي او محکمو ته مخکې د دعوا څخه وړاندې کیږي، == دعوا هغه ده چې په تفصیلي شکل سره د نزاع له ټولو جزیاتو او کلیاتو سره وړاندې کیږي. که په شفاهي ډول سره وي او که په لیکلي ډول سره وي.

اوولسم جز: د دعوا رکنونه د جمهورو په نیزد سره: مدعي، او علیه، مدعي به، صیغه د دعوې=== د احنافو له نظره د دعوې رکن: که مدعي اصیل وي د خپل ځان لپاره د حق غوښتل او که ممثل وي لکه وصي قیم او یا وکیل وي د هغه چا لپاره غوښتل چې له هغه څخه مماثلت کوي.

اتلسم جز: د قانون له مخې د دعوې رکن: د احنافو د نظر سره سم یو رکن دی.

## دوهم مطلب: د اهلیت، اقرار، قرینه، قسم پیژندنه او د دې اړوند وضاحت

لومړی جز: د اهلیت ډولونه: ۱ وجوب اهلیت: صلاحیة الانسان لوجوب الحقوق المشروعةله و علیه.== د قانون له مخې اهلیت: د انسان پوره شخصیت د هغه په ولادت باندې په داسې حال کې چې ژوندی وي شروع او د هغه په مرگ سره پای مومي.=== ۲ د ادا اهلیت: هی صلاحیة لصدورالافعال والاقوال منه علی وجه یعتد به شرعا.،، او کله چې دوه صفتونه په انسان کې جمع شول نومورې د ادا اهلیت دی هغه عبارت دي: ۱ عقل ۲ تمیز.

دوهم جز: د اهلیت عوارض او اقسام یې: ۱ اسماني عوارض: جنون، عته، هیریدل، خوب، بي هوشي، د مرگ ناروغي== ۲ مکتسبه عوارض: جهل، خطا، هزل، سفه، نشه، اکراه.

دریم جز: د اقرار ارکان د احنافو له نظره: یو رکن دی چې دال لفظ دی چې د غیر حق پر نفس مقر باندې ثابت کړي، د جمهورو له نظره: مقر، مقرله، مقربه، صیغه.==.

څلورم جز: د احنافو او حنابلو له نظره د ممیز مأذون صغیر لپاره د ولي د اجازې په اندازه اقرار درست دی، خو د شوافعو له نظره د صغیر اقرار تر هغه مهاله درست نه دی خو بالغ شوی نه وي نو دلیل: رفع القلم عن ثلاثة اشخاص عن الصبی حتی یبلغ، و عن المجنون حتی یفیق، و عن النایم حتی یستقیظ.

پنځم جز: قرینې تعریف: استاد مصطفی زرقا وایې چې قرینه داده: کل امارة ظاهرة تقارن شیئا خفیا فتدل علیه،، == دوکتور عبدالعال وایې چې قرینه : هغه ته وایې چې ما تدل علی امر خفی مصاحب لها بواسطة نص او اجتهاد او فهم یفیضه الله تعالی علی من یشاء من عباده، د قرینې حکم: د قاضي د حکم اثبات دلیل کیدای شي.

شپږم جز: د قريني اقسام: ۱ قاطعه قرينه: القرينة قاطعة هی الامارة البالغة حداليقين،، ۲ مستنبطه قرينه: هغه قرينه ده چې محکمه د دعوا له اړونده حالاتو او د محکمي له جريانه هغهد استنباط کړي او وروسته په خپل حکم کې د دليل په توګه پر هغه باندې اتکا وکړي.

اووم جز: په لاندې دعواګانو کې قسم جواز نه لري: نکاح، رجعت، فی، ايلا، استيلاد، نسب، حدود، لعان. دا قول د امام صاحب رح دی== خو د يارانو په نيزد سره مګر په ټولو کې جواز لري مګر په حدود او لعان او استيلاد کې جواز نه لري.-

-- اختلاف لامل يې دا دی: چې د امام صاحب رح په نيزد سره نکول بذل دی او په پورتنو مواردو کې بذل نه شي جاري کيدای --- د يارانو دليل: دا چې ناکل له قسم څخه انکار کوي نو ظاهرا نوموړی کاذب دروغجن دی نو له همدې کبله دلالتا يې د مدعي په حق باندې اعتراف کړی دی مګر چې په اقرار کې شبه وي چې بيا د اثبات دليل نه شي لکه: حدود، او لعان دی. د امام صاحب دليل: که فرضا داسې وکړو چې  نکول اقرار او ناکل شخص دروغجن دی نو په دې صورت کې دروغ حرام دي او که فرض کړو چې نکول  بذل (د قسم ترک کول) دي بيا نو بذل مباح دی او په بذل کې دروغجن نه وي.

اتم جز: قسم بايد بيرته مدعي ته رد نه کړل شي دا مذهب د احنافو دی، امام مالک رح او شافعي رح پر مدعي باندې د قسم رد کولو ته جواز ورکړی دی، او د افغانستان قوانينو کې بيا جواز ورکړل شوی دی.

نهم جز: قاطع قسم: د مدعي حق نه دی چې مدعي عليه ته قسم متوجه کړي دا دول قسم په محکمه کې د طرفينو حق دياو طرفين کولای  شي چې د محکمې په اجازة سره يو بل ته قسم متوجه کړي.

لسم جز: د مدني قانون احکام: د دعوا طرفين کولای شي د محکمې په اجازه قاطع قسم يو او بل ته توجيه کړي.

يوولسم جز: متمم قسم: دا قسم د محکمې له صلاحيتونو څخه دی دا ډول قسم هغه وخت کيدای شي چې په دعوا کې بشپړ دليل نه وي او له دليله خالي هم نه وي.

دولسم جز: حاصل قسم: و هو ان اليمين بوقوع خصوص او بعدم وقوعه ييمين باالسبب.

ديارلسم جز: د دفاعيې تعريف: الدفع هو الاتيان بدعوی من قبل المدعي عليه تدفع دعو المدعي.

څوارلسم جز: د دفع اقسام: ۱ دفع، ۲ دفع الدفع، ۳ له حکم وړاندې دفع. د مدعي عليه څخه پرته بل څوک دفع نه شي کولای مګر دا چې د يو ورثه له لورې وي نو بيا صحيح ده چې دفع يې کړي.

# د فقه درس

# نهه دیرشم فصل

# فقه اجاره بیان

## لومړی مبحث: د اجاره تشریح

### لومړی مطلب: د اجاره پیژندنه، اقسام او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: اجاره په لغت کې د کار یا عمل بدل ته ویل کیږي، او په اصطلاح کې اجاره د ګټې عقد د عوض په مقابل کې وي نو دې ته اجاره وایې.

دوهم جز: اجاره اقسام: ۱ اجاره عل المنفعة: د کرایې په بدل کې د کور حیوان او موټر او د هغه څخه ګټه اخیستل دي، ۲ اجاره علی العمل: د کار په بدل کې د اجرت اخیستل دي.

دریم جز: د ارتفاقي حقوقو ډولونه: دا د احنافو علما په نیزد سره: ۱ د ابو حق ۲ د لاری حق ۳ د اضافه اوبو تیرولو حق ۴ د لوړوالي حق ۵ د ګاندیتوب حق ٦ د اوبو تیرولو مجرا یا لښتي حق.

# اصول فقه (قیاس) درس

# څلویښتم فصل

# د قیاس بیان

## لومړی مبحث: د قیاس تشریح

### لومړی مطلب: د قیاس پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: قیاس: هو تعدیة الحکم من الأصل الی الفرع بعلة متعدة بینهما دا دتعریف د ابن مسعود رض دی بل تعریف دا دی: الحاق امر غیر منصوص علی حکمه الشرعي بأمر منصوص علی حکمه لاشتراکها في علة الحکم. مصنف رح وایې چې قیاس حجت شرعي دي قیاس باندې دلیل: و انزلنا الیک الکتاب تبیانا الکل شیء.

دوهم جز: شروط الصحة القیاس سبعة فی الوجیز: ۱ قیاس به د نص مقابله کې نه وي، ۲ د احکامو د نص نه به یو حکم تغیر نه خوري، ۳ حکم باید د اصل نه فرعی طرفته متعدي وي داسې حکم نه وي چې د هغې معنا مقبول نه وي، ۴ علت استخراج د حکم شرعي لپاره نه وي، ۵ دا چې منصوص علیه وي، ٦ اصل حکم به اختصاصي وي، ۷ اصل حکم به مخالف القیاس نه وي.

دریم جز: حد اضافي تعریف د اصول فقه: چې د مضاف او مضاف الیه یو ځای تعریف ونه شي بلکه جدا جدا تعریف وشي== حد لقبي تعریف د اصول فقه: من حیث المجموع تعریف وشي د مضاف او الیه، علم یبحث فیه عن اثبات الادلة الاحکام== غایه د اصول فقه: هو علم باالاحکام الشرعیة الفرعیة عن ادلة التفصیلیة== موضوع د اصول فقه: مایبحث فیه عن اثبات ادلة الاحکام.

څلورم جز: د قیاس څخه منکرین: ظواهر، معتزله، جعفریه== او منونکې ډلې: جمهور یې مني.

پنځم جز: د قیاس اقسام: ۱ قیاس اقتراني: دا هغه دی چې دلالت په نتیجه کوي خو بدون د استثنا نه او هغه (لکن) دی == ۲ قیاس استثنایې او شرطي: و هوالذي یدل دا دلالت کوي په نتیجه باندې خو په واسطه او اداة استثنایې سره لکه: کلما کانت الشمس طالعة فاالنهار موجود لکن الشمی طالعة فاالنهار موجود.

شپږم جز: مثال د قیاس: انماالخمر والمیسر والانصاب ... .

اووم جز: امام شافعي رح وایې چې چې په ورځ کې د روژې میاشتی کې څوک ککوروالی وکي نو د کفاره د حکم علت دي، او امام صاحب رح وایې چې په دې کې یواځې جماع کول نه دي بلکې اصل علت د الله امر ماتول دي.

اتم جز: تخریج المناط: دا هغه دی چې د یو حکم هغه علت راویستلو ته وایې چې نص او اجماع پرې دلالت نه کوي که څه هم د علت معلومولو لاره لکه صبر په کار واچول شي لکه د شرابو علت د حراموليي لپاره نشه کول دي== تحقيق المناط: دا هغه ته وایې چې هغه علت مراد دی چې په نص اجماع یا استنباط ثابت وي لکه د حیض په حالت کې له ښځو سره جماع کول او ځان نه ساتل علت ضرر دی نو دا هم په نفاس کې هم شته دی.

نهم جز: د قیاس اقسام: ۱ اولی قیاس: دا هغه دی چې علت په فرعه کې د اصل نه قوي وي، ۲ مساوي قیاس: دا هغه دی چې اصل او فرعه دواړه برابر وي په علت کې، ۳ ادنی قیاس: علت لکه په فرعه کې ډیر کمزوری وي له اصل نه.

لسم جز: حکمت: دا هغه دی چې یعنې هغه مصلحت دی چې د حکم په تشریع کې شارع د هغه ثبوت په پام کې نیولي وي، او علت: دا هغه دی چې یو ظاهري وصف دی چې پر بنسټ ی حکم مینځته راغلی وي او حکم ور پورې تړل شوی وي او د غه اساس مصلحت په کې موندل کیږي.

یوولسم جز: علت شرطونه: ۱ علت به ظاهري وصف وي، ۲ تاکلی حقیقت به داسې وي چې دا وصف به د اشخاصو او افعالو کې بدلن راولي، ۳ علت به داسې وي چې د حکم وړتیا ولري، ۴ علت به متعدي وصف وي، ۵ علت به داسې وصف وي چې شارع به یې اعتتبار نه وي لغوه کړی.

## حدیث الاحکام درس

## یوځلویښتم فصل

## د حدودو بیان

### لومړی مبحث: د حدودو تشریح

### لومړی مطلب: د حدودو پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: حدود جمع د حد ده او په مابین د دوو شیانو کې منع والې ته وایې او په اصطلاح کې هغه ته وایې چې اطلاق یې کیږي په عقوباتو معاصیو باندې هغه معاصي چې مخصوص وي.

دوهم جز: اجماع وایي چې وجوب الحد علی الزاني غیر محصن مأة جلدة و تغریب عام، و جوب الرجم علی الزاني محصن و هو اجماع و انه لایجمع الجلد مع الرجم.

دریم جز: امام شافعي رح مالک رح او حسن رح وایې چې کفایت کوي یو ځل اعتراف په زنا سره لکه نور احکام د اسلام، امام صاحب رح او احمد رح وایې چې کفایت نه کوي یو ځل اعتراف مگر څلور ځلی اعتراف باندې، او امام مالک رح او شافعي رح وایي چې تکرار د اعتراف شرط نه دی دلیل: د عسیف حدیث دی یا انیس فان عترفت فارجمها امام صاحب رح او شافعي رح وایي چې ان الزنا یتحقق باالبینة او حبل نو دا اعتراف دی ځکه چې حدود په شبهاتو سره ساقطیږي، او امام مالک رح وایې چې ثبوت ته به یې نه رسوي.

څلورم جز: مستحب دی اجازه ورکول په کلام کې، == ان الاقرار باالحد موجب له.

پنځم جز: بعضې علما وایې چې کچېرته بادار پوه شو په خپلخ امة باندې په زنا سره نو اقامه د حد خپله کولای شي نو حاجت نشته دی اقرار او شهادت ته، او جمهور علما وایې چې ان الشهادة تقام عند الحاکم لا عند السید، او امام شافعي رح مالک رح او احمد رح وایې چې سید لپاره دا شته دی چې خپله وینځه په درو سره اوهي، او امام صاحب رح وایې چې یرفعه السلطان ولا یقیمه هو بنفسه.

شپږم جز: وجوب بیع الأمة اذا تکرر زناها ثلاثا وهو مذهب الداود رح او الظاهري رح، او جمهور وایې چې هو مستحب لا واجب.

اووم جز: جمهور علما وایې چې دا قول د علي رض دی: اقیمو الحدود علی ارقائکم من احصن منهم و من لم یحصن، ابن عباس رض وایې چې لا حد علی من لم یتزوج من الممالیک اذا زنی دلیلة لقوله تعالی: فاذا احصن فان اتین بفاحشة فعلیهن نصف ما علی المحصنات... .

اتم جز: ان الحبلى يؤخر رجمها لحين الولادة ثم الفطام، ان تشد الثياب على المرجوم بحيث لاتسقط عنه خشية ان تنكشف عورته و قد اتفق العلما ان المرأة ترجم قاعدة، والرجل قائما، الا عند امام مالک رح فقال يرجم الرجل قاعدا.

نهم جز: استحباب ان يصلي الامام على المرجوم اذا غلب على ظنه صدق توبته.

لسم جز: قول جمهور رح او شافعي رح ان التوبة لاتسقط الحد اذا تاب قبل ان يقام عليه الحد لم يسقط عنه الحد.

يوولسم جز: و جوب الرجم على المشرک اذا زنا دا قول د اکثرو علما دی او د امام شافعي رح او احمد رح او اسحاق رح هم دی، امام مالک رح و معظمة الحنفية رح وايې چې په مشرک باندې رجم نشته دی دليلة ځکه چې دا سړی کافر دی دليل: چې کله رجم وي نو شرط دا دی چې اسلام او احصان غواړي.

دولسم جز: قول جمهور رح وايې چې من کان ضعيفا لمرض او نحوه ولايطيق اقامة الحد فی الجلد عليه باالمعشاء اقيم عليه بما يحتمله.

ديارلسم جز: من وجد تموه يعمل عمل قوم لوط قتل فاعل مع المفعول به دا قول امام شافعي رح دی که دا محصنين دی او که نه وي، ابی بکر، او علي رض، او عبدالله بن زبير وايې چې يحرق باالنار== او علي رض ابن عباس رض وايې چې يرمی به من اعلی بناء فی القرية منکسا ثم يتبع الحجاره==امام مالک رح اسحاق رح وايې يرجم محصنا او غير محصنا.

څوارلسم جز: رفع الحدود باالشبه کدعو الاکراه او قول المرأة انها أتيتو هی النائمه.

پنځلسم جز: قذف په لغت کې الرميد بالشئ او په اصطلاح الرمي باالوطي يوجب الحد على الرمي.

شپاړسم جز: مستحب دي يو مهم کار لپاره خطبه ويل په منبر باندې.

اوولسم جز: ثبوت الحد للقاذف وهی ثمانون جلدة وهی نص بکتاب الله.

اتلسم جز: اول لعان کان فی الاسلام ان شريک بن سحما قذفه هلال بن امية باءمرأته فقال له النبي ص البينة على المدعي واليمين على من انکر والا فحد في ظهرک. د دې څخه وروسته د لعان احکام راغلل.

نولسم جز: لقد ادرکت ابابکر و عمر و عثمان رض عنهم و من بعدهم فلم أرهم يضربون المملوک في القذف الا اربعين جلدا،== حد الاماء نصف الحد الاحرار في الزنا لقوله تعالی: فاذا احصن فان اتين بفاحشة فعليهن نصف ما على المحصنات من العذاب وهو قول جمهور رح== او ابن مسعود رض عمر بن عبدالعزيز او اهل ظواهر وايې چې لاينصف الحد من الاماء.

شلم جز: اجماع وايې چې مالک کله قذف وکړو په خپل مملوک باندې لا حد عليه،== ابن عمر رض او ظواهر وايې چې کله څوک قذف وکړي په بله ام ولدی سره نو حد پرې شته دی، دا قول د امام مالک رح دی،== او قياس کړی دی امام شافعي رح چې خ=حد پرې شته دی په هغه وخت کې چې کله بادار سيد مړ شي نو د دې څخه بعد واجبيږي حد پرې په قاذف باندې او هر چې مخکې د مرگ نه وي دا کار بيا امام صاحب رح اوشافعي رح وايې چې حد پرې نشته دی.

یوویشتم جز: قال رسول ص لا تقطع ید السارق الا في ربع دینار فصاعدا. عایشه، ابي بکر، عمر، عثمان رض عنهم وایي چې قطعه کړی د صارق لاس چې کله ربعه دینار ته ورسیږي والثلاثة دراهم قیمتها ربع دینار،.== امام مالک رح وایي چې تقطع الید في ثلاثة دراهم فان سرق ذهبا و متاعا یقوم باالدراهم فان بلغت ثلاثا قطعة الید و الا لم یقطع،== امام احمد رح وایي چې و ان سرق ذهبا فبلغ ربع دینار قطع -- و ان سرق فضة فبلغت ثلاثة دراهم قطعت الید و ان – و ان سرق متاعا فبلغت قیمة ثلاثة دراهم او ربع دینار قطعت باالخبرین: عایشه رض او ابن عمر رض – امام شافعي رح وایي چې ده رد کړی دی قیمت په ربع دینار و قد جاءت اثار تدل علی ان الدینار صرف باثنی عشر درهما، -- ابن مسعود رض سفیان الثوري رح عراق الحنفیةرح وایي چې ان الید لاتقطع في اقل من دینار او عشرة دینار.

دوه ویشتم جز: کراهت دی په شفاعت کولو د حدودو کې.

درویشتم جز: ۱ خاین هغه دی چې اخلي مال په پټه سره سره د ظاهر کولو او براءة هم حاصلولای شي ۲ مختلس هغه ته وایي چې اخذ الشیء من ظاهر بسرعة لیلا کان او نهارا ۳ منتهب هغه ته وایي چې اخلي مال په قهر سره نو جمهور رح وایي چې په دوې باندې قطع نشته ده == ان الجاحد للعاریة لایقطع.

څلور ویشتم جز: امام ابو حنیفه رح وایي چې لاتقطع في سرقة شيء من الفواکه الرطبة سواء کانت محرزة بحایط او غیر محرزة – و قال الجمهور رح یقطع في کل محرز سواء کان علی اصله باقیا او قد جذا او سواء کان اصله مباحا کاالحشیش ام لا دلیل لعموم الحدیث.

پنځه ویشتم جز: امام صاحب رح وایي چې د رسول ص د دې حدیث نه ی بقول اخیستی دی چېد لایغرم السارق اذا اقیم علیه الحد دلیل: القطع بدل عن التماع،== امام شافعید رح وایي چې تاوان به هم ورکوي دلیل: علی الید ما اخذت حتی یؤدیه ، بل دا دې چې ولا تأکلو اموالکم باالباطل... .

شپږ ویشتم جز: امام لپاره مناسب دی چې په سارق باندې اعتراف وکړي دا قول د جمهورو دی— او احمد رح او اسحاق رح وایي چې حد سرقې سره دوه ځلی اعتراف باید وکي – جمهور وایي چې نه صرف یو ځلي اقرار بس دی.

# فقه جنايات

# دوه څلوېښتم فصل

# د جناياتو بيان

## لومړی مبحث: د جناياتو تشريح

### لومړی مطلب: د جناياتو پيژندنه او د دې اقسام او اړوند وضاحت

لومړی جز: الراکب الضامن لما اوطئت الدابة ما اصابت بيدهانو... الخ دلته دلته ضمان نشته دی او په پاتي صورتونو کې ضمان شته دی که اس په لغته اوهله يا يې په لکۍ اوهلو نو ضمان به نه وي نو د دې څخه علاوه ضمان واجب دی: مخکو پښو سره اغږل، شاتنو پښو سره اغږل، غاښونو سره اغږل ... .

دوهم جز: والاصل المرور في طريق المسلمين مباح، څه شيان دا دي چې د دې نه بچ کيدل ممکن دي نو هلته د سلامتيا صفت شرط ديلکه په پڅو سره اغږل، چيچل، ... نو کله چې کوم ځای کې بچ کيدل ممکن نه وي نو هلته د سلامتيا صفت شرط نه دی لکه شاه اړخه لغته وهل، په لکۍ وهل نودې کې د سلامتيا صفت شرط نه دی.

دريم جز: فان راثت او بالت فى الطريق فغطب به انسان لم يضمن.

څلورم جز: والسابق ضامن لما اصابت بيدها او رجلها == والقابد ضامن لما اصابت بيدها دون رجلها == سايق: شړونکی ته وايې او قابد ديته وايې چې راښکونکي ته وايې، دليل: ځکه چې قابد د مخکنيو پښو ضمه وار دی نو دا يواځې صرف د مخکې پښو سره ضمان دی، == او سايق باندې د دواړو پښو سره ضمان راځي دليل: ځکه چې د سايق نه دواړه پښې مخکې دي نو ځکه په سايق باندې ضمان راځي د دواړو پښو او قابد باندې ځکه د ضمان راځي چې د هغه نظر صرف په مخکنيو پښو دی نه په شاتنيو پښو باندې. بل قول دا دی چې څرنګه چې په قابد باندې د شاتنو پښو ضمان نشته دی نو همدا رنګه په سايق باندې هم نشته دی ځکه چې د لغتو وهل باندې داسې شی نشته دی چې هغه يې منع کړي سايق نو له همدې وجه نه په سايق باندې هم ضمان نشته دی د شاتنو پښو باندې، == امام شافعي رح وايې چې يضمنون النفخة کلهم که سايق وي او که قابد وي دليل: ځکه چې د اس فعل به د دوې اړخ ته منسوب وي.

پنځم جز: قاعده: که چېرته کوم ځای کې بچ کيدل وي نو هلته ضمانت هم شته دی، او که چېرته کوم ځای کې بچ کيدل نه وي نو هلته ضمانت هم نشته دی.

شپږم جز: الا ان على الراکب الکفارةلا على السايق ولا للقايد... الخ نو دواړه په ضمان کې برابر دي مګر په بعضو احکامو کې فرق لري چې په مباشر باندې د قتل کفاره واجبيږي نو په مسبب باندې نه واجبيږي دليل: لان الراکب ځکه چې

سور سړی هغه په خپله قصد کونکی دی ځکه چې هلاکت د ده په بوج سره ترسره شوې دی او د څاروې بوج د سور کس تابع دی.

اووم جز: والکفارة حکم المباشرة لاحکم التسبب ... الخ ځکه چې کفاره د مباشرت او ازادۍ په وخت کې راځي او د سبب په وخت کې نه راځي او مباشر صرف سور کس دی سایق او قابد نه دی نو سور کس ته به جزا دا وي چې ده ته به میراث نه ورکول کیږي ځکه چې میراث هغه وخت نه روکول کیږي یو کس ته چې په خپله په کې مباشر وي په خلاف د سایق او قابد باندې ځکه چې دوې مباشر نه دي.

اتم جز: و اذا اصطدم فارسان فماتا فعلی عاقلة کل واحدمنهما دیة الاخر دا د احنافو مسلک دی چېې د مرگ اضافت بل اړخ ته دی دلیل: ځکه چې د ده ذاتي فعل مباح وو او هغه په لاره کې تلل دي نو دا تلل به د ضمان په حق کې اضافت لپاره استناد کېدو صلاحیت نه لري، و قال الزفر رح والشافعي رح یجب علی عاقلة کل واحد منهما نصف الدیة الاخر دلیل: دا د علي رض قول دی چې په دوې دواړو باندې هریو په خپل فعل کې او د خپل اندیوالان فعل کې مړ شوې دی ځکهد چې دوې په خپلو کې هر یو ته نقصان رسولی دی.

نهم جز: و من قاد قطارا فهو ضامن لما اوطء.

لسم جز: و اذا وجد ا قتیل لقتیل في محلة... الخ که په یو محله کې یو اومندلی شو او د هغه قاتل معلوم نه شو نو د دغې محلی د خلکو څخه پنځوس ۵۰ کسانو څخه به قسم اخیستی شي نو د مقتول ولي به په ټولو یا به په بعضو باندې دعوه وکړي نو زمونگه مذهب باندې د پنځوسو ۵۰ څخه به قسم اخیستی شي نو هغې به داسې قسم خوري په الله قسم چې د ا قتل نه مونگه کړی دی او نه د ده مقتول په اړه مونگه معلومات لرو که هغوې قسم اوخړلو نو قصاص به د دوې څخه ساقط وي البته د دوې په عاقله باندې به دیت واجب وي ۱ که ولي د قتل عمدا دعوه کړي وي، ۲ او که که د خطا دعوه یې کړي وي، == زمونگه په مذهب کېې قصاص هغه وخت راځي چې د محلي خلک د قسم څخه انکار وکړي او د قتل اقرار وکړي یا په گواهانو سره قتل عمد ثابت شو، == وقال الشافعي رح اذا کان هناک لوثٍ یعنېې کله چې قرینه وي یعنې د یو کس توره په وینو وي یا د مقتول ورثو او د محلی خلکو په مینځ کې ښکاره دښمني وي نو بیا به د محلي خلکو نه قسم نه اخیستل کیږي بلکه د مدعي څخه به قسم اخیستلای شي دلیل: یعنې مدعي به پنځوس قسمونه خوري (۱)کله چې مدعي قسم اوخوړلو چې د محلي خلکو قتل کړی دی نو که دعوه خطا وي نو دیت به واجب وي او که عمدا وي نو دلته دوه خبري دي یو قول مطابق قصاص دی او بل قول باندې دیت واجب وي، (۲) کله چې مدعي د قسم نه انکار وکړي نو بیا به د محلي خلکو نه قسم اخیستی شي نو که قسم یې اوخړلو نو هیڅ نشته دی او که دوې انکار وکړي نو دلته دوه قوله دي: ۱ د یو قول قصاص واجب دی ۲ او بل قول باندې دیت واجب وي.

یوولسم جز: و اذا وجد بدن القتیل او اکثر من نصف البدن او النصف و معه الرأس په محله کې دا کار وشو نو به خلکو باندې نه قصاص او نه دیت شته دی او که د نصف نه کم بدن میلاو شي او د دې سره سر وییا سر او یا ښېي او لاس

ميلاو شي نو نه قصاص شته او نه ديت شته دی دليل: ځکه چې د مقتول په اړه کې دا مخصوص حکم يعنې قسامت او ديت قياس سره ثابت نه دی بلکه د نص نه خلاف قياس ثابت دی.

دولسم جز: و اذا وجد القتيل في دار انسان فاالقسامة عليه لان الدار في يده والدية على عاقلته لان نصرته منهم و قوت بهم .

ديارلسم جز: قال ولا تدخل السكان في القسامة ...الخ يعنې کرابه والا په قسامت کې نه داخليږي مگر هغه کسان چې اصل اوسيدونکې دي او د دې ځمکي مالکان دي نو قسامت به په چا وي؟ ۱ طرفين وايې چې اصل اوسيدونکې يعنې کوم چې مالکان دی په دوې قسامت دی دليل: چې د علاقي نصرت لپاره مالکان مختص دي د ملکيت نه بغير اوسيدونکي نه دي، امام ابويوسف رح وايې چې القسامت هو عليهم جميعا ۱ اصل اوسيدونکی ۲ کرايه اوسيدونکی ځکه چې قسامت او ديت تعلق د تدبير سره دی دليل: ځکه چې نبي ص په يهودو باندې قسامت او ديت واجب کړی وو.

څوارلسم جز: والقسامة على اهل الخطة دون المشتي و هذا قول ابوحنيفه رح و محمد رح دليل: ځکه چې په دوې باندې اصل دی او هغه د ځمکې د ساتني ذمه واري ده او دا خلک اصل دي، او امام ابويوسف رح وايې چې کل مشترکون يعنې دواړو فريقو باند اصلي علاقي خلکو باندې او مشترينو باندې قسامت نشته دی دليل: ځکه چې دا دواړه مالکان او دواړه د ساتني والا دي يعنې د ساتنی ولايت ورته حاصل دی نو دواړه فرقي د ساتني د پرېښودو په وجه د کوتاهۍ جرم کونکې شول نو په دې وجه به دواړه ماخوذ وي.

پنځلسم جز: و اذا وجد قتيل في دار فاالقسامة على رب الدار و على قومه و تدخل العاقلة فى القسامة ان کانو حضورا = و ان کان غيبا فالقسامة على رب الدار او قسمونه به پر دوې باندې مکرر کولای شي و هذا عند ابي حنيفه رح و محمد رح يعنې طرفين باندې دليل: چې په حاضرينو باندې د علاقي کومک لازم دی لکه څنگه چې کومک د کور په مالک لازم دی نو د کور د مالک په قسامت کې به حاضر مددگار خاندان شريک وي،

شپاړسم جز: امام ابويوسف رح وايې چې په عاقله باندې قسامت نشته دی دليل: ځکه چې مالک د کور دې کور سره زيات مخصوص دی د خپل غير په مقابل کې نو په دې قسامت کې به د ده غير د ده سره شريک نه وي کأهل المحلة.

اوولسم جز: و من اشترى دارا ولم يقبضها حتى وجد فيها قتيل فهو على عاقلة البايع ... الخ ۱ امام صاحب رح وايې چې و ان کان في االبيع خيارا لاحدهما يعنې خيار يو دواړو ته دی نو دا وجوب ديت د هغه سړي په عاقلو باندې دی چې د چا په قبضه کې چې دی دليل: ساتنی باندې قدرة په قبضه سره کيږي نه په ملکيت سره کيږي او هغه په ساتني باندې قادر وي دا په قبضي سره کيږي نه په ملکيت سره کيږي ۲ و قالا صاحباه رح و ان لم يکن فيه خيار يعنې د ضمان مدار په ملکيت باندې دی او ثابت نه دی نو د خيار زمانو نه وروسته چې دا کور د چا په ملکيت کې ځي په هغه به ضمان واجب وي نو ۱ که د بايع سره وي نو د هغه په عاقله باندې دی ۲ او که د مشتري په ملکيت کې راشي نو د ده په عاقله باندې

به دیت واجب وي دلیل: چې د هغه مالک به په ساتنه کې د کوتاهۍ په وجه د قاتل په درجه کې راکوزولی شي او ضمان نه راځي الا علی من له ولایة الحفظ.

اتلسم جز: و من کان في یده دار فوجد فیها قتیل لم تعقلة العاقلة حتی تشهد الشهود، ==و ان وجد القتیل فی المسجد فاالقسامة علیها، === و ان وجد فی المسجد الجامع اوالشارع الا عظم فلا قسامة والدیة علی بیت المال دلیل: ځکه چې دا لاره او جامع جومات جامع د عامو خلکو لپاره دي او مخصوص نه دی بلکه دا شیان د عامو مسلمانانو دي نو عام شیان د بیت المال دي نو قسامت او دیت په بیت المال باندې دی.

اتلسم جز: ولو وجد فی السوق ۱ که دا بازار مملوک وي نو ابویوسف رح وایې چې په اوسیدونکې باندې دیت واجب دی، او طرفین وایې چې دیت په مالک باندې دی ۲ او که چیرته دا بازار مملوک نه وي لکه د عامې لارې غوندې وي یعنې بازارونه په عامه لاره جوړ شوې وي نو دیت به په بیت المال باندې وي دلیل: ځکه چې دا بازار د مسلمانانو د جماعت لپاره دی.

نولسم جز: قال ابوحنیفه رح ولو وجد فی السجن فاالدیة علی بیت المال دلیل: ځکه چې دا سجن عام دی او هر ځای کې عام ځای په بیت المال پورې اړه لري نو دیت به په بیت المال واجب وي، وقال ابویوسف رح دیت او قسامة به په په اهل سجن باندې وي دلیل: ځکه چې اوسیدونکې هم دوې دي ولایت هم د دوې په اړخ باندې دی او ظاهر دا دی چې قتل هم د دوې له اړخه حاصل شوی دی.

# په اسلامي فقه کې د جزايي محاکماتو اصولو

## دریځلوښتم فصل

## د جزايي محاکماتو اصولو

### لومړی مبحث: د جزايي محاکماتو اصولو تشریح

### لومړی مطلب: د جزايي محاکماتو اصولو پیژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: د انسان او انسانیت اوچت مقام (الله انسان ډیر په اعلی کیفیت پیدا کړی دی لکه الله فرمايي: و لقد کرمنا بني ادم...، اني جاعل فی الارض خلیفه، اسجدو لادم، في احسن تقویم) د دې مقام غوښتني(د انسان کړه وړه باید د اسلامي چوکاټ سره برابر وي باید جرم ونه کړي)... .

دوهم جز: د انساني اعمال ترسره کولو سره کوم قواعد دي چې منع شي: ۱ الهي اسماني قواعد او احکام دي چې په دې سره انسان د هدایت او مستقیمي لارې ته هڅوي، ۲ و ضعي قوانین هم شته دی چې د هغې څخه جنايي علوم دي: ۱ حقوقي جنايي علوم: هغه دي چې جرمونه او جنايې تونه له حقوقي پلوه بیانوي او اجباري جنبه لري نو دا علوم د جزايي حقوقو په نوم یادیږي او جزايي حقوقو بیا په دوه قسمه دي: ۱ ملي جزايي حقوق ۲ نړیوال جزايي حقوق چې د نړیوالو محکمو او قانون له مخ څېړل کیږي== ۲ غیر حقوقي جزايي علوم دا هم جنايي تونه او جرمونه راپیژني... خو دا اجباري جنبه نه لري لکه د طب له پلوه یا جنايي اروا پوهنه ده چې عولوم په کې بیانیږي.

دریم جز: ملي د جزايي حقوق: ۱ متني ملي جزايي حقوق چې په ملي کچه باندې جرایم او د دې اړوند کارونه څیړي لکه د جزا حقوق اختصاصي حقوق جزايي حقوق ۲ شکلي ملي جزايي حقوق د متن له پلوه نه وي بلکه د شکل یعنې د چلند لاري له اړخه څیړي لکه د جزايي محاکماتو اصول.

څلورم جز: د جزايي محاکماتو اصولو پیژندنه: جرم یو مضره پدیده ده چې د معمول له له مخې د هر جرم له رامینځته کیدو دولت او هم ټولنه زیانمنه کیږي دا ولې؟ دلایل: ۱ د دولت جزايي قانون تر پښو لاندې کیږي، ۲ د ټولنی نظم خرابیږي، ۳ ډار او ویره راځي، ۴ په قضای ارگانونو باندې د خلکو باور کمیږي.

پنځم جز: جرم ته جرم هغه وخت کې ویلای شي چې ټولنه او دولت ورڅخه زیانمن شي که چیرته ونه شي نو جرم ورته نه ویل کیږي نو بیا هغه د سرغړوني په نوم باندې یادیږي لکه: مدني سرغړونه، سوداگریز سرغړونه... .

شپږم جز: عام اړخ د جرم او خاص اړخ د جرم: دا دیته وایې چې کوم جرم په دولت او ټولنه کې زیان راولي نو هغه د عام اړخ په نوم باندې یادیږي لکه: عام سړک، عام پارک، عام روغتون، عام حقوق == نو دولت د دې پر وړاندې بی پروا نه پاتي کیږي بلکه یو لړ اجراات وړاندې کوي ورته چې دا اجراات د جزایي حقوقو یا اجرااتو په نامه باندې یادیږي.
اووم جز: جزایي اجراات د پیله تر پای پورې د معمول له مخې په دري ۳ قسمه دي: ۱ جزایي دعوې نه وړاندې پړاو، ۲ د جزایي دعوې پړاو، د جزایي دعوې نه وروسته پړاو.
اتم جز: جزایي محاکمات هغه اصول او قواعد دي چې د یوې جنایې ې قضې په تړاو د جزایي اجرااتو دریواړه پړاونه تر څیړنې لاندې نیسي.
نهم جز: د جزایي محاکماتو اصولو موضوع: ۱ اصلي موضوع: دا هغه ده چې د جرم عام اړخ ته رسیدنه کوي او کله چې د جرم له اړخه دولت زیانمن کیږي او دولت په دې یو لړ جزایي اصول اجراات په لار اچوي. == ۲ فرعي موضوع: ځیني جرمونه یواځې د عام اړخه درلودونکی وي او خصوصي اړخ نه لري یوازې د جرم ارتکاب په صورت کې یواځې دولت زیانمن کیږي نه خصوصي افراد لکه دولت ته مالیه نه ورکول. == نو په دې ټولو کې د جرم په صورت کې دولت او ټولنه زیانمنه کیږي نه خصوصي افرادو ته نو دا جرمونه د یو اړخیز په نامه یادیږي == او که چیرته دواړه اړخه یې زیانمن شي نو هغه ته دوه اړخیز جرم وایې.
لسم جز: لیکن ځیني جرمونه د عام اړخه سربیره د جرم له امله دولت او ټولنه زیانمنه کیږي خصوصي اړخ هم لري چې خصوصي اشخاص زیانمن کوي دا په حقیقت کې دوه ډوله زیانونه لري: ۱ د عام اړخه له کبله دولت زیانمن کوي، ۲ بل د خصوصي اړخه خصوصي اشخاص زیانمن کوي دا دواړه دوه اړخیز جرمون دي – البته په ټولو جرمونو کې د عام اړخه سربیره د خصوصي اړخ شتون اړین نه دی نو ځیني داسي دي چې دوه اړخیز دي لکه غلا کول، اور اچونه نو دا د جزایي اجرااتو په نامه یادیږي بل د مدني محاکماتو تر څیړنې لاندې نیول کیږي.
یوولسم جز: د معمول له له مخې: کله چې مجنی علیه د جرم خصوصي اړخ په تړاو ادعا او زیان غوښتنه کوي د پرنسیب له مخې باید خپله دعوه په مدني محکمه کې اقامه کړي چې ورته سمه رسیدگي وکړي لیکن سره له دې چې هم زیانمن شخص غواړي نو خپله دعوه په جزایي محکمه کې اقامه کړي نو دلته دوه ډوله دعوه په کې اقامه کیږي: ۱ جزایي دعوه چې د جرم عام اړخ دی په کې چې د جزایي محاکمات ورته رسیدنه کوي، ۲ مدني دعوه چې د جرم خصوصي اړخ دی نو په دې کې هم د جزایي محاکماتو کې رسیدنه کوي == لیکن په دې اصلي موضوع نه ده بلکه فرعي موضوع ده ځکه د پرنسیپ له مخې د مدني دعوې ته د مدني محاکماتو اصولو رسیدنه کوي.
دولسم جز: د جزایي محاکماتو اصولو ارزښت: ۱ د تل پاتی اړتیا له پلوه، ۲ د موخي له پلوه، ۳ د وګړو کړه وړه اصلاح کول، ۴ د ټولنی د تنظیم له مخې.
دیارلسم جز: د جزایي محاکماتو اصولو موخه: دا په حقیقت کې په یوه ټولنه کې د جنایې عدالت ساتنه وه.

څوارلسم جز: د جنايي عدالت څو اړخه لري: ۱ عام اړخ دا معنا ده چې هيڅ جرم بايد د مجازاتو څخه پاتي نه شي او د مجرمانو په وړاندې له دولت او ټولنی څخه ملاتړ وکړي او د دولت ټولي ګټي په پام کې ونيسي، ۲ خصوصي اړخ دا معنا ده چې په يو جنايي  قضيه کې بايد هيڅ يو بې ګناه او نامسول شخص په واقعه کې د جزا سره مخ نه شي او د خصوصي اشخاصو يعنې د مظنون وګړو د ګټو ساتنه کوي.

پنځلسم جز: د جزايي محاکماتو او متني جزا حقوق ترمينځ اړيکي او فرق == د ملي جزا حقوقو اقسام: ۱ متني جزا حقوق: دا هغه دي چې د جرمونو او مجرمانو او جزاګانو ماهيت څخه بحث کوي لکه:  د جزا حقوق ، اختصاصي حقوق، ۲ شکلي جزايي حقوق دا هغه دي چې داد دمتني جزايي حقوقو د شکلياتو څخه بحث کوي == او دا دواړه حقوق يو بل سره نږدې اړيکي لري چې د دوې ترمينځ متقابله او متبادله اړيکي رامينځته کوي: دا معنا چې د محاکماتو اصولو په ځيني حالاتو کې له متني جزا حقوق سره او متني د جزا حقوق په ځينو حالاتو کې د جزايي محاکماتو سره مرسته کوي.

شپاړسم جز: د متني جزا حقوقو جرمونه: هغوې د مرتکبينو د مجرمانو په توګه پيژني او د هغوې په وړاندې مناسبې جزاګانی وړاندې کوي ليکن د متني جزا حقوق د قواعدو او دساتير ژر ترژه نه شي پلي کوالای ځکه که وشي نو دا په ځرګند ډول د بې عدالتۍ او حق تلفۍ امکان په کې ليدل کيږي نو د دې لپاره د يوې جنايې قضی په تړاو د حقيقی او پرته له عدالته پلي شي دا په حقيقت کې جزاييمحاکمات اصول دي.

اوولسم جز: جزايې محاکماتو اصول او ملي متني جزاييحقوق دا دواړه يو بل سره لازم اوملزوم دي مثال: دا جزايې محاکماتو اصول غواړي چې جرمونه او مجرمانو ته رسيدنه وکړينو که چيرته متني جزاييحقوق شتون ونه لري چې جرم او مجرم تعريف کړي نو د جزايې محاکماتو اصول دا نه شي ترسره کولای.

اتلسم جز: جزايې محاکماتو اصول او ملي متني جزاييحقوق فرق: ۱ د موخي معيار له مخې فرق: ملي متني جزايې حقوق د دولت او ټولني ملاتړ کوي == او جزايې محاکماتو اصول د خصوصي افرادو يعنې د تورن ملاتړ کوي ، ۲ د ماهيت معيار له مخې فرق: ملي متني جزايې حقوق جرم او مجرم څيړنه کوي او جزايې محاکماتو اصول د دې برعکس کار کوي.

شلم جز: نلسم جز: جزايې محاکماتو اصول او ملي متني جزاييحقوق ورته والی: دا هم دوه اړخه لري: ۱ دعوه د سرچيني له پلوه: يعنې د دواړو علومو سرچينه يوه ده چې هغه جرم دی لکه د معمول له مخې جزاييدعوه د جرم عام اړخ څخه راځي چې جزايې محاکماتو اصول همدې ته رسيده ګي کوي او مدني محاکماتو اصول بيا خصوصي اړخ ته رسيدنه کوي نو ورته والی شتون لري چې هغه سرچينه يې جرم دی. == ۲ او بل د دعوې د شکلياتو له پلوه: نو دا جزايې محاکماتو اصول د شکلياتو جزاييحقوقو څخه يوه څانګه ده چې جزاييدعوې ته د شکل له اړخه رسيدنه کوي.

يوويشتم جز: جزايې محاکماتو اصول او ملي متني جزاييحقوق توپيرونه: ۱ د موضوع له پلوه: اصلي دا ده چې جزاييدعوې ته رسيدنه کوي، بل فرعه ده چې دا مدني دعوې ته رسيدنه کوي دا شيان په داسې حال کې چې د مدني محاکماتو اصول يواځي يوه موضوع لري چې هغه مدني دعوې ته رسيدنه ده، ۲ جزای دعوې ته د رسيدنی واکمنه مرجع يواځي

جزاييمحكمه ده دا په داسې حال کې چې مدني دعوې ته د رسيدني دوه مرجع شتون لري: ملي محکمه، جزاييمحکمه نو مګر په هيڅ صورت کې د دې دواړو محکمو څخه نه شي اقامه کيدای چې دعوه په مدني محکمه کې اقامه وي نو جزاييمحکمه هم په لار اچول کيږي، ۳ د دعوه له پلوه نو د دواړو علومو تر مينځ درې ډوله شتون توپير لري، ۱ د دعوې ډول له لوري ۲ د دعوي د تيريدلو له پلوه ۳ د دعوې د شتوالې له پلوه: د دعوې دواړه لوري شتوالي اړين دي ۱ يو خوا نه څارنوال د دولت د استازې په توګه حاضر وي ۲ بل خوا تورن وي چي د جزاييدعوي په ترڅ کې حاضر وي خو بلکې يواځې مدافع وکيل شتوالې د تورن له خواه بسنه نه کوي.

دوه ويشتم جز: قاضي بايد دوه معيارونه ولري او په همدې باندې خپله پريکه وکړي ۱ د جرم خفت او شدت معيار دې سره سم پرکړه وکړي ۲ د تورن وضعي حالت او شخصيت.

درويشتم جز: د قاضيانو د مسلکې توب له پلوه: قاضيان بايد په اسلامې هيوادونو کې په درې ډوله علومو باندې پوهه ولري ۱ اسلامې علوم ۲ حقوقي علوم ۳ د دې علومو په ترڅ کې قاضي بايد د جرم پيژندنه، عدلي طب او ارواه پوهنه باندې علم ولري.

څلرويشتم حز: د جزايې محاکماتو اصولو بيلابيل سيستمونه ۱ جزاييمحکاماتو اصولو اتحامي سيستم: داسېستم اول او پخوانې سيستم دي نو دا په حقيقت کې د لرغونې روم په امراطورۍ کې رامينځ ته شو ځانګړتياوی دا دي: د دعوې عدم اقامه د دولت له خوا ۲ د محاکماتو په ترڅ کې د قاضيانو نه لاس وهنه ۳ د قاضيانو نه مسلکيتوب ۴ د محاکماتو نه کتوبي يا شفاهيوالی او ۵ محاکماتو غلنيوالی ٦ د محاکماتو ترافيعوالی

پنځه ويشتم جز: د اتهامي سيستم ښيګڼی ۱ د محکمي ډاګيزوالی ۲ د محاکماتو ترافيعوالی، او نيمګړتياوی: ۱ د دولت له خوا د دعوې نه اقامه کيدل ۲ د محکمې په ترڅ کي د قاضيانو نه لاسوهنه ۳ د قاضيانو نه مسلکېتوب په قضايې چارو کې ۴ کتوبي يا شفاهی ډول محکمه کې د دې نه مو جيديدل.

شپږ ويشتم جز: د جزايې محکماتو اصولو تفتيشي سيستم: داسېستم د اتهامي سيستم د نمګړتياوو له وجهی د هغه په څنګ کې رامينځته شو ۱ تاريخي سير: داسېستم په لومړنيو پيړيو کې رامينځته شو په دې سيستم کې د مظنون او تورن ګټو په خوا کې د ټولنی ګټو ته هم اشاره ده او په اتهامي سيستم کې يواځي د فرد ګټه وه او دې سيستم کې د ټولو ګټه ده او داسېستم په ۱۳ زيږديز پيړۍ کې په اول ځا سره په محکمه کې عملي شو د اشافو او نجيب زاده په خلاف هم عملي شو او ټولو لپاره عام شو.

اوويشتم جز: د تفتيشي سيستم ځنګړتياوې: ۱ د دعوه اقامه کيدل، ۲ د قاضيانو لاسوهنه په محکمه کې، ۳ د قاضيانو مسلکيتوب په محکمه کې، ۴ د محکمې کتوبيوالی، ۵ د محکمې تدافعيوالی، ٦ د محکمې سريوالی.

اته ويشتم جز: د جزايې محکماتو اصولو مختلط سيستم: د دې سيستم تاريخي شاليد: داسېستم په ۱۸ زيږديز پيړۍ په فرانسه کې راغي له همدې اساس باندې ورته فرانسوي سيستم وايې.

نهه ویشتم جز: د جزایې اجراتو بیلا بیل پړاونه: ۱ د جزاییدعوې نه وړاندې پړاو: دا د محکمې څخه مخکې مرحله ده دا به هغو اجرااتو مشتمل ده چې د جرم رامینځته نه وروسته او د جزاییدعوې له اقامې نه وړاندې دی، ۲ د جزاییدعوې پړاو: یعنې د محکمي مرحله ده، ۳ د جزاییدعوې نه وروسته پړاو: یعنې د حکم د تطبیق مرحله.

دیرشم جز: د جرم کشف چې کله کیږي نو په یوه پیښه کې چې کله وشي نو اول ځل باندې به پولیس به یې دا جرم کشف کوي یعنې د جرم په اړه معلومات: د جرم څرنګوالی، ځای، کسان، وخت، په اله سره، د دې ټولو شیانو پوښتنه د پولیس وظیفه ده نو دا د جرم کشف دی.

یودیرشم جز: د توهین، سپکاوي، جسمي، رواني، او داسې نورو ربړونو څخه د خودي پاتې کیدو حق: مظنون حق لري د رسمي جزایي اجرااتو پر مهال چې د اعتراف اخیستلو او یا نورو ملاحظاتو لپاره ترسره کیږي د توهین، سپکاوي، جسمي، رواني، او داسې نورو ربړونو سره مخ نه شي.

دوه دیرشم جز: د مدافع وکیل درلودلو حق: د جزایي اجرااتو قانون د ۸۰می مادې او د اساسي قانون د ۳۱می مادې احکامو پر بنسټ مظنون یا تورن حق لري چې له نیول کیدو سره سم دلاسه خپل ځان ته مدافع وکیل وټاکي او که چیرته مظنون یا تورن بې وزله وي د هغه لپاره د دولت له خوا مدافع وکیل په وړیا توګه باید ونیسي.

دری دیرشم جز: مظنون د نیونې معنا او مفهوم: مظنون هغه ته وایې چې د مظنون ازادانه ګرځیدو راګرځیدو د ازادۍ سلب ته ویل کیږي.

# اصول فقه درس

# څلورڅلويښتم فصل

# استحسان بيان

## لومړی مبحث: د استحسان تشريح

### لومړی مطلب: د استحسان پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: استحسان په لغت کې ښه ګڼلو ته وايې او په اصطلاح کې هغه دی چې له يو قياس له غوښتنې نه بل قوي قياس ته ورتګ ته وايې او يا قوي دليل له امله د يو قياس خاص کولو ته وايې.

دوهم جز: حنفي علما وايې چې له قياس استحسان کولو ته له قران سنت اجماع نه قوي دليل له امله د قياس پريښودلو ته استحسان وايې.

دريم جز: امام کرخي رح وايې چې په يو مسله کې داسې حکم کولو نه چې د دې په څير نورو مسئلو کې کيږي د يو قوي دليل لامل په وجه راګرځي ديته استحسان وايې لکه مثالونه: د ارتفاقي حقوقو نه لکه د اوبو حق د سيلاب حق که د مبيعي د عقد په وخت کې ياد نه شي نو هم په بيعه کې راځي.

څلورم جز: احناف وايې چې ارتفاقي حقوق په وقف کې نه راځي او د استحسان له مخې يې حکم د بيعې په شان دی.

پنځم جز: د استحسان اقسام: ۱ له کلي قاعدې نه جزی مسله مستثنی شي، ۲ دا چې پټ قياس په څرګند قياس غوره کوي خو د دليل په اعتبار سره استحسان په شپږ قسمه دی: ۱ په نص سره استحسان: داهغه دی چې له يوې کلي قاعدې سره د ډيرو مسئلو لپاره يو حکم ثابت شوی وي نو بيا له دغه مسئله نه يوه مسئله په خاص نص سره ځانګړې شوې ويلکه د معدوم بيعه باطله ده خو جواز يې ورکړی دی له وجه د ضرورت نه، ۲ په اجماع سره استحسان يو کرګر ته د يو شي جوړولو امر کول د معدوم بيعه ده قياس وايې چې د ا نارواه ده او قاعدې له مخې او استحسان وايې چې دا دغې کلي قاعدې نه مستثنی ده دليل: ځکه چې په دې کې د خلکو تعامل دی، ۳ په عرف سره استحسان: دا هغه دی چط د وقف لپاره کلي قاعده داده: چې کوم شی وقف شي دغه شی به د هميش لپاره وي نو د ې پر اساس له ځمکې پرته د بل منقول شي وقف نه صحيح کيږي خو ځيني وايې چې له دې قاعدې نه دا استثنا شوی دی چې په عرف کې وقف جايز دی لکه لوښي، کتابون، ۴ د ضرورت له مخې استحسان: دا هغه دی چې د بولو د څاڅکو يا په معاملاتو کې د دې څخه وتل ګران دي نو دا يو ضرورت دی چې د استحسان له امله رواه ګرځيدلی دی، ۵ په مصلحت کې استحسان: که له چا سره امانت اېښودل شوی وي او د بې پروايې او تصرف څخه پرته له لاسه اوځي نو د کلي قاعده په اساس تاوان

نشته دی، ٦ په پټ قیاس سره استحسان... لکه د ښکاري مرغه جوټه نو دا قیاس شو په داړونکې حیواناتو باندې نو دا حلال نه دی خو د انسان پر جوټه د قیاس کولو له امله پاکه شمیرل کیږي.

شپږم جز: د استحسان دلیل کیدل: شوافع وایې چې استحسان د شرعی دلیل نه شی کیدای او دا استحسان خوند اخیستل او ځان پالني خبري دي، بیا نور علما وایې چې دا استحسان د شرعی دلیل کیدای شي.

اووم جز: مرسل مصلحتونه: دا هغه ته وایې چې د گټې لاسته راوړلو او د زیان له مینځه وړلو ته مصلحت وایې نو دې کې ایجابي اړخ هم دی: (گټه لاسته راوړل) او سلبي اړخ هم دی: (زیان له مینځه وړل) دي.

اتم جز: مصلحت په دري قسمه دی: ١ ځیني داسي دي چې شریعت ورته اعتبار ورکړی دی، ٢ او بل داسی دی چې اعتبار یې له مینځه لاړ دی، ٣ او بل داسی دی چې شریعت په کې څرگندونه نه وي کړي.

نهم جز: مصلحتونه په عباداتو کې نه عملي کیږي ځکه د هغې چارې توقیفي دي، او شوافع احناف او ظواهر وایې چې په معاملاتو کې دلیل نه شي نیولي، یوه ډله علما امام مالک رح او احمد رح وایې چې مرسل مصلحتونه د شرعي دلایلو نه شمیري خو شرط دا دی چې دا به په قطعي توگه دلیل وي او که دلیل نه وي نو بیا شرعي حجت نه شي واقع کیدای.

لسم جز: په مصلحت باندې د عمل کولو شرطونه: ملائمه یعنې اړیکي، معقولیت، حفظ ضروري، حقیقت، عموموالی.

یوولسم جز: سد الزرایع: دا هغه ته وایې چې د یو شي وسیله او هغې ته د رسیدو لاری ته وایې که دغه شی مصلحت وي او که مفسدت وي.

دولسم جز: په سد الزرایع باندې د عمل کولو په اړه اختلاف او هغه دا دی چې ایا گناه ته راښکلو له امله پرې په شرع کې بندیز لگول شوی دی: حنبلیان او مالکیان وایې چې دا د بندیز وړ دی ځکه چې دا ناوړه کارونه دي، شوافع او اهل ظواهر وایې چې دا د بندیز وړ نه دی ځکه دا په خپل ځان کې مباح دی او رواه دی نو د فساد تاکل او احتمال له امله یې پر ځان باندې نارواه کول ښه کار نه دی.

# اداري حقوقو درس

# پنځه څلویښت فصل

# اداري حقوقو بیان

## لومړی مبحث: اداري حقوقو تشريح

## لومړی مطلب: اداري حقوقو پيژندنه او د هغې اړوند وضاحت

لومړی جز: حقوق په دوه قسمه دي: ١ افاقي حقوق: دا هغ ته وايې چې په ملي سطحه د يو خصوصي فرد رابطه د بل خصوصي فرد سره يا د خصوصي فرد رابطه د داخلي دولت سره وي. دا په دوه قسمه دی: ١ داخلي ملي حقوق، ٢ بين المللي حقوق== داخلي ملي بيا په دوه قسمه دي: ١ خصوصي حقوق، ٢ عمومي حقوق. ٢ عندي حقوق: دا هغه ته وايې چې يو فرد ی د بل فرد په مقابل کې ولري.

دوهم جز: د اداري حقوقو څانګی: ١ مالي او اداري مديريت، ٢ بشري منابع د استخدام، ٣ اجرايه مديرت== دا دريواړه د هر امر او طرز العمل تطبيق د دوې وظيفه ده.

دريم جز: موضوع د حقوق اداره: دنده د عمومي اړتيا تضمين کول دي او د اداري طرز له مخې دوه برخي لري: ١ شخص پورې اړه لري، ٢ هغه اړتياوې تنظيموي چې اداره او تنظيم دولت پر غاړه لري = نو اصلي او بنسټيزه موضوع همدا ده.

څلورم جز: د اداره تعريف: اداره د مقرراتو ټولکه ده چې په يو معين وخت کې په ټولنه حکومت کوي.

پنځم جز: د اداره حقوق ځانګړتياوې: ١ اداره حقوق مدون نه دی، ٢ اداره حقوق د يو ځوانی او با ارزښته څانګې په صفت.

شپږم جز: د اداره حقوقو سرچيني منابع: او منابع هغه ته وايې چې د کومو حقوقو څخه رامينځته شوي وي نو منابع يې دا دي: ١ مدون منابع: ١ اساسي قانون، ٢ عادي قانون، ٣ تقيني قانون. ٢ غير مدوني منابع: ١ عرف او عادات، ٢ قضايه رويه، ٣ دوکتورين.

## ماخذونه


1. قران کریم .
2. أبو الفرج، شمس الدين عبد الرحمن بن محمد بن أحمد بن قدامة المقدسي الجماعيلي الحنبلي، الشرح الكبير على متن المقنع،ج ۱۲، دارالكتب العربي للنشر والتوزيع
3. افغانستان اسلامي جمهوریت، رسمي جریده، کال ۱۳۶۹ ، افغانستان مدني محاکملتو اصولو قانون، ماده: ۳۲۱
4. أفندي، علي حيدر خواجه أمين، 1991م، درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، چاپ وار۴، ج۴، دار الجيل
5. جندي المالكي المصري، خليل بن إسحاق بن موسى، ضياء الدين، 1426هـ، مختصر العلامة خليل، چاپ وار ۱، ج ۱، دارالقاهرة الحديث
6. حجازي، أبو إسحاق الحويني الأثري، ۱۹۹۰، شرح صحيح البخاري،چاپ وار۶، ج۳، دار الحديث – القاهرة
7. دمشقي الحنفي،ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين،1412هـ،رد المحتار على الدر المختار،چاپ وار ۶، ج ۶، دار الفكر-بيروت
8. ستا نکزی، نصرالله، ۱۳۹۰ لمریز، سیستم قضایي افغانستان لی لکه در سیر تاریخ، کابل مطبعه
9. السمرقندي، أبو الليث نصر بن محمد بن أحمد بن إبراهيم، 1386هـ. عُيُون الْمَسَائِل، چاپ وار ۱، ج۱، مطبعة أسعد، بَغْدَاد
10. شربجي، دکتور مصطفى الخن، ۱۹۹۲م، الفقه المنهجي على مذهب الامام الشافعی، چاپ وار ۸، ج ۲، دارالقلم، للطباعة والنشر، والتوزيع دمشق
11. الطرابلسي المغربي، شمس الدين ابو عبدالله محمد بن محمد بن عبدالرحمن، القوانين الفقهية، چاپ وار۸، ج ۸، دارالكتب علمية
12. ظریف، محمد عالم، ۱۳۶۹لمریز، وسایل اثبات دردعاوي مدني، کابل مطبعه دولتي
13. عثمان، محمد رأفت، ۱۹۹۴م، النظام القضائي في الفقه الإسلامي، ج ۱، دارالبنان
14. الغرياني، الصادق بن عبدالرحمن، ۱۲/۱۰/۲۰۱۴، المجموعة : الاقضة والشهادة، ج ۲، دار الفرقان , مؤسسة الرسالة – بيروت

15. القدوري، أحمد بن محمد بن أحمد بن جعفر بن حمدان أبو الحسين، 1997م مختصر القدوري في الفقه الحنفي، 1، ج۱، دارالکتب علمیه

16. المرغينايي برهان الدين علي بن ابي بكر، الهدايه فی شرحة البداية، ج ۳، بيروت البنان، داراحياء التراث العربی

17. نیازی، دوکتور مصطفی، کال ۱۳۹۴ ، داسلامي قضا یی نظام، ژباړن : محمد کریم ادیب ایاس، کابل خپرونکی د بیغام نشراتي

18. وکیل پوپلزایي دراني، غزيزالدين ۱۳۶۹ لمریز، دارالقضاء درافغانستان از اول عهد اسلام تا جمهوری، کابل مطبعه

## د ترتیب کوونکي شهرت



محمد اسحاق ( عزیزي ) ولد ډاکټر عبدالعزیز ( زلمی )د ننګرهار ولایت د ( خوګیاڼو ) ولسوالۍ په (۱۹۹۳م) کې زیږیدلی دی او د ماشومتوب په دوره کې یې سخته مریضې تیره کړه او د دې باوجود بیا هم د اسلامي شریعت یې سره ډیره مینه لرله نو ارمان یې دا وو چې د اسلامي شریعت زدکړه وکړي خو چې کله د (۱۱) کلنۍ ته ورسیدو نو پاکستان پشاور ( مرکز علوم اسلامیه ) مدرسه کې د قران عظیم الشان د حفظ دوره یې شروع کړه او ۳ کالو کې مکمل کړو بیا ( د شیخ نجم الدین اخنذاده رح ) په دیني دارالعلوم کې ثانوي زده کړې وکړې نو د هغې څخه (۲۰۱۴م) چې (۱۳۹۴هـ)سره سمون لري کې د دثانوې زده کړو نه فارغ شو او یو څو کاله د حفظ دورې د استاد په حیث پاتې شو او بیا یې په همدې کال کې یې د کانکور اماده ګي یې ونیوله او د هغې په نتیجه کې د (۲۱۴) نمرو په بریالی توګه د( کندهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی ) ته کامیاب شو او د پوهنتو دوره یې په (۲۰۱۹م) چې (۱۳۹۸هـ) سره سمون لري خه په بریالی توګه یې سرته ورسولو او د پوهنتون په اخر کال کې یې د انګلیسی زده کړې یې هم وکړې او فارغ شو.

نو دا ټولی بریاوې حاصلول د یو چا برکت او دعاوې وي نو الله دې زما مورجانه او پلارجان (ډاکټر عبدالعزیز)
زلمی ته دې الله په لکاوو اجرونه ورکړي نو دا د هغوې برکت وو چې زه یې دومره غټ مقام ته ورسولم.

په ډیر درنښت

**محمد اسحاق (عزیزي)**